مولانا وحیدالدین خان
شفیع اللّٰه تاند



# اسلام؛
## د نوي عصر ځوابګر
[د هر نوي رنځ درمل او د ژوندنیو غوښتنو ځوابګر]

# ترون؛

د ګران ورور **طارق عزیز بېنوا** په نوم چې تل يې د لوی فکر انتخاب کړی او لوی خوبونه ګوري.

او اروښاد **استاذ شاه جهان باجوړي** په نوم چې له مهربانۍ رغبدلی انسان و.

تاند

---

# ډالۍ؛

لوی **استاذ محمد آصف صمیم** ته.

**مولانا خانزیب** او **مولانا قاري الطاف ادیزي** ته.

**تاند**

CamScanner

# مننه

د **قاضي صيب محمد انور منګل** او **زاهد الله ناصر** ورور د لاسنيوي مننذوی يم، چې د دې کتاب په چاپ کې يې برخه واخيسته.

**تاند**

CamScanner

# خپلې خبرې

مولانا خان رح یو فکري انسان و، او کوم نړیوال فکر چې هغه ورغاوه، احاطه کول یې بې بریده ستونزمنه ده... مولانا چې څومره د لویدیځو مفکرینو او الحادي تحریکونو مطالعه وکړه او د دې لاملونه یې پیدا کړل چې د الحاد موجب شول ....د دغو الحادي تحاریکو چې د نړۍ په انسانیت کوم اغېز پرېښوت د دې ماتول وړاندې کول تر ننه د بل هیڅ یوه دیني عالم د توان او وسې خبره نه وه... مولانا وحیدالدین خان رح د مذهبي مطالعې تر څنګ په ساینسي مطالعه کې هم هغه مقام ترلاسه کړ چې د اوسنیو دیني علماوو د دغه مقام له څنګ تیرېده هم له وس پورته دي ... په قرآن کې هر ډول مضامین د په زړه پورې بیان په شکل وړاندې شوي دي،عام علماء نن هم د دې مضامینو تشریح په سرسري توګه کوي ... خو د خان صاحب رحمه الله تحریرونه او هغه ساینسي-واقعات د قرآن په رڼا کې له ثابت شویو دلایلو سره شته دی ... ساینسي علم د مولانا خان صاحب رحمه الله فکر وځلاوه او تحریرونو ته یې نړیوال دوام وباښه ...نن هم چې کوم څه د مذهب په تناظر کې لیکل کېږي هغه یوازې تقلید دی او علماء نه پوهېږي چې له دې تقلیدي زنځیر څنګه ځانونه ایله کړي.... د هند په نیمه وچه کې د مذهبي کېدنې لامل تقلید دی ... همدا لامل دی چې د مذهب په ترویج و اشاعت سربېره هیڅ ډول فکري بدلون نه راځي ... په هر حال، مولانا وحیدالدین خان رح د هند نیمې وچې هغه شخصیت وګرځېد چې تر مودو ـ مودو پورې به پرې تحقیق او علمي جستجو کېږي.

شفیع الله تاند

# فهرست

## لومړی څپرکی

اسلام ؛ د نوي عصر څوابګر ........................................ ٦
له تیارې تر رڼا ........................................ ٧
انا الماحي ........................................ ٩
شرک لوري ته ........................................ ١٠
د اسلام نظریه ........................................ ١٥
د ټولو خرابیو ریښه ........................................ ١٦
د تحقیق آزادي ........................................ ١٩
یو اقتباس ........................................ ٢٣
څلور عصره ........................................ ٢٥
نوی انسان ........................................ ٢٦
علم او اسلام ........................................ ٣٢
اسلام همغږی ماحول ورکړ ........................................ ٣٩
پخواني یونان ........................................ ٣٩
رومي تهذیب ........................................ ٤٠
یوه حواله ........................................ ٤١
د علم لوري ته سفر ........................................ ٤٣

## دویم څپرکی

غیر خدای سپېڅلی ګڼل ........................................ ٤٥
یو مثال ........................................ ٤٩
د ساینس ظهور ........................................ ٥٢
څو مثالونه ........................................ ٥٣
د څمکې عمر ........................................ ٥٥
یوناني علوم ........................................ ٥٦

ذهني دهوال ........................................ ۵۹
طبيعي علوم ........................................ ۶۰
د اسلام دين ........................................ ۶۳

## دریم څپرکی

لمريز نظام ........................................ ۶۵
د طب فن ........................................ ۶۸
يو مثال ........................................ ۷۱
علم اللسان ........................................ ۷۴
د اعدادو علم ........................................ ۷۸
يو وضاحت ........................................ ۸۱
کرهڼه او اوبو لګونه ........................................ ۸۴
د تاريخ علم ........................................ ۸۷

## څلورم څپرکی

انساني برابري يا ورته والی ........................................ ۹۸
يوه واقعه ........................................ ۱۰۰
د نوي نړۍ پنځونه ........................................ ۱۰۲
د فکر آزادي ........................................ ۱۰۴
لوړ و ټيټ انسان ........................................ ۱۰۶
د بيان آزادي ........................................ ۱۰۷
ځيني حوالي ........................................ ۱۰۹
مذهبي آزادي ........................................ ۱۱۰
نوی عصر او اسلام ........................................ ۱۱۱

# بسم الله الرحمن الرحيم

امریکایي هوابـاز آرم اسـټرانګ (1930 - 2021) Neil Armstrong لـومړنی انسان دی چې له ځلور ورځني هوايي مزل وروسته يې په ۲۰مه جولای ۱۹۶۹ کې په سپوږمۍ خپل قدم کېښود او هلته په رسېدو يې دا تاريخي الفاظ وويل چې د انسان لپاره دا يو وړوکی قدم دی؛ مګر د انسانيت لپاره يـو عظـيم ګـام دی.

That's one small step for a man, one gaint leap for mankind

(EB-1/530)

آرم اسټرانګ او ملګرو ايدون آلډرن (b. 1930) Edwin Aldrin او مايکل کولنس (b. 1930) Michael Collins کې سفر وکړ او په وروستۍ مرحله کې د يوه سپوږميز موټر Eagle له لارې په سپوږمۍ کښته شول.

دا اپالو يا دغه سپوږميز موټر کوم جـادو نـه و، هغـه د فطـرت محکـم قـانون لاندې جوړ شوی يو ساينسي ماشين و، د فطرت قانون په کارولو يې دغه ټول خلايي سفر طی کړ، دا قانون زموږ پـه نـړۍ کـې لـه سـلګونو زره کالـه پخـوا موجود و؛ مګر انسان تر دې وړاندې کله هم دا سـوچ ونـه کـړی شـو چـې د فطرت په دغه قانون پوه شي او په کارولو يې تر سپوږمۍ ورسېږي.

په فطري امکاناتو سربېره تر سپوږمۍ رسېدني د تاخير سبب څـه و، دا سـبب شرک و، ياني مخلوق معبود ګڼل او پرستش يې کول. پـه پخـوا زمانـه کـې د شرک عقيده پـه نـړۍ کـې خـوره شـوې وه، انسـان د نـورو ځيزونـو پـه څېـر سپوږمۍ خپل معبود ګڼله، ځلېدلې سپوږمۍ ته په کتو د سړي پـه ذهـن کـې يې پر وړاندې د ټيټېدنې خيال راته؛ نه د هغې د فتح کولو.

سپوږمۍ مقدسه ګڼل، په دې کې خنډ وګرځېد چې سړی د سپوږمۍ لمسونې،

خبره وکړی شي.

په اوومه عېسوي پېړۍ کې لومړی ځل داسې وشول چې د اسلام له لارې هغه انقلاب راغی چې شرک یې مغلوب کړ، توحید یې غالب وګرځاوه.

دا انقلاب لومړی په عربو کې راغی، له هغې وروسته په اسیا او افریقا کې په سفر کولو اروپا ته ورسېد، له انتلانتیک په تېرېدو امریکې ته ننوت.

په مسلمانه نړۍ کې دا انقلاب د مذهب له مخې راغلی و، په لویدیځه نړۍ کې د خپلو حالاتو تر اغېز لاندې پکې دا توپیر وشو چې دا یې له مذهبه بېل کړ، د یوه سیکولر علم په توګه یې پرمختګ ورکول پیل کړل او بیا یې تر اوسنۍ انتها ورساوه.

څنګه چې نیشنلایزېشن د مارکسزم فلسفیانه نظام یو اقتصادي اړخ دی، همدا شان د نوي ساینسي اسلامي انقلاب یوه جزي برخه ده چې له ټولې مجموعې یې بېل کړی دی.

د سپوږمۍ د سفر یادونه دلته د بېلګې په ډول شوې ده، دلته د هغو ټولو علومو معامله ده چې په اوسنۍ زمانه کې ورته National Science فطري علوم وایه شي، دا علوم په پخوانۍ زمانه کې شرک یا په بل عبارت د فطرت مظاهر مقدس ګڼلو په بنا ممنوعه علوم ګرځېدلي وو، د توحید انقلاب فطرت د تقدس له مقامه ایسته کړ، د څېړنې او تسخیر ور یې پرانیست.

په دې توګه په انساني تاریخ کې د فطرت ازادانه تحقیق یو نوی پېر پیل شو، دا پېر له زر کاله عمل وروسته بالآخره تر نوي ساینس او نوې ټکنالوژۍ ورسېد، نوی ساینس ټول د اسلامي انقلاب دین دی.

**لومړی نېغ په نېغه او وروسته بالواسطه ډول:**

د دې حقیقت اعتراف په یو نه یو ډول په عامه توګه شوی دی، په اوسنۍ زمانه کې په کثرت سره داسې کتابونه لیکل شوي دي چې نوم یې وي «د عربو ساینسي- پرمختګ» یا «په تهذیب کې د مسلمانانو برخه» Muslim Comtribution in Progress of Civilization محققینو په عام ډول د دې

ځېرې اقرار کړی دی چې نوې صنعتي ترقي د عربو (مسلمانانو) له اغېزه رامنځته شوې ده. ای همبویت A. Humbddt وېلي دي: دا په اصل کې عرب دي چې باید د فزیک بنسټګر وګڼل شي.

It is the Arab who shuld be regarded as the real founders of physics (P.25).

فلپ هتي (1886 - 1978) Philip Khuri Hitti په خپل کتاب هستري آف دي عربس (۱۹۷۰) کې لیکلي دي چې په منځنۍ پېړیو کې هېڅ یوه قوم په انساني پرمختګ کې دومره برخه نه ده اخیستې، څومره چې عربو او عربي ژبې ویونکو اخیستې ده:

No people in the middle ages contributed to human progress so much as did the Arabians and the Arabic - speaking peoples (History of the Arabs, Mac Millan, 1970, P. 4).

عامو مورخینو منلې ده چې د عربو (مسلمانانو) له لارې چې کوم علوم اروپا ته ورسېدل، هماغه بالاخره د اروپا رینسانس (په سمه کلمه د نشاة اولیٰ) پیدا کولو سبب شول. پوهاند هتي لیکلي دي چې په ۸۳۲م کې په بغداد کې له بیت الحکمت رامنځته کېدو وروسته عربو چې کومې ژباړې وکړې او کوم کتابونه یې تیار کړل، لاتیني ژبې ته په ژباړلو د اسپین او سسلي له لارې اروپا ته ورسېدل او بیا په اروپا کې د رینسانس پیدا کولو سبب وګرځېدل.

This stream was re-diverted into Europ by the Arabs in Spain and Sicily, whence if helped create the renaissance of Europe, (History of the Arabs, P. 307).

خو پوښتنه دا ده، خپله په عربو (مسلمانانو) کې دا ذهن څنګه راغی؛ ځکه هغوی خپله هم لومړی په همدې وروسته پاتې حالت کې وو چې د ګردې نړۍ خلک پکې وو. د دې ځواب اک یو دی، هغه دا چې د توحید عقیده د هغوی لپاره د دې ذهني او عملي انقلاب سبب شو، له نورو قومونو سره شرک

و، له عربو سره له (اسلام وروسته) توحید و، همدې توپیر د دواړو په تاریخ کې دا توپیر پیدا کړ چې د یوه تاریخ معمول جوړېده د بل تاریخ عامل شو، د دې کتاب موخه یوازې دا ده چې یوه منل شوې تاریخي پېښه چې خلکو یوازې په یوه مسلمان ملت په خانه کې لیکلې ساتلې ده، دا باید په ډېره سمه توګه د اسلام په خانه کې ولیکل شي، دا یوازې د یوې معلومې واقعې توجیهه ده، نه د کومې نامعلومې واقعې خبر ورکول.

په یوه مثال سره د دې لا وضاحت کېدلی شي، دا یو معلوم حقیقت دی چې هندوستان په ۱۹۴۷ کې ازاد شو، یو شخص ویلی شي چې هند ګاندي Mohandas Karamchand Gandhi 1869 – 1948 او نهرو Jawahar Lal Nehru 1889 – 1964) ازاد کړی دی.

مګر که په ډېره ژوره توګه وکتل شي، نو دا ویل به سم وي چې هندوستان نویو ملي او جمهوري نظریاتو ازاد کړ، په اوسني زمانه کې د جمهوریت او ملي آزادي اصولو په بنیاد چې کوم نړیوال فکري انقلاب راغی، هغه حالات یې پیدا کړل چې پکې یو ګاندي یا یو نهرو راپورته شول او هېواد یې ازادۍ لوري ته په بیولو کې بریالي شول، که د نړیوال فکري انقلاب دې ماحول موافقت نه وای کړی، نو زموږ د لیډرانو ازادۍ تحریک به هم بریا ته نه رسېدلی.

د بحث لاندې موضوع معامله هم دا ده، په دې کې هیڅ شک نه شته چې د عربو مسلمانو له لارې په دنیا کې د نوي ساینسي انقلاب اغاز وشو؛ مګر خپله د دې اغاز سبب هم دا و چې اسلام ورته یو نوی ذهن ورکړ، په دې توګه د ساینس تاریخ یوازې د یوه قوم کارنامه نه ده؛ بلکې د دې دین لورونه ګڼلی شي چې په ابدي توګه د ټولو انسانانو د سمې لارښوونې لپاره د ذوالجلال خدای له طرفه خپلو بنده ګانو ته رالېږل شوی دی.

هنري پرین (Henri Pirenne 1862 - 1935) د دې تاریخي حقیقت اعتراف په دې لفظونو کې کړی دی چې اسلام د ځمکې مخ بدل کړ، د تاریخ روایتي

ډانچه (اسکلیټ) یې وویسته:

lam changed the face of the globle. The traditional order of istory, was over thrown (Henri Pirenne: A history of Europe, ondone, 1939, P. 36).

دا کتاب د اسلامي انقلاب د همدې اړخ لنډه پیژندگلو ده، په دې موضوع م
یو جامع او مفصل کتاب تیارول غوښتل، د معلوماتو راټولنې کار ډېر سست
و، بالاخره راته احساس وشو چې له خپلو اوسنیو بوختیاوو سره د مطلوب
نوعیت زیات هر اړخیز کتاب ښایي تیار نه شم کړای؛ ځکه مې دا پرېکړ
وکړه چې څومره کار شوی دی، بې له ځنډه باید د کتاب په بڼه خپور کړا
شي.
که عمر او حالاتو موقع راکړه، نو ان شاء الله په دې کې به د لا بحثونو زیاتون
وکړل شي او که داسې ممکن نه شوه، نو دا نقش اول، د کوم وروسته
راتلونکي لپاره د نقش ثاني په تیارولو کې مرستندویه کېدلی شي.

وحیدالدین

۱۶ اپرېل ۱۹۸۹

## لومړی څپرکی

# اسلام؛ د نوي عصر څوابګر

د ۱۹۶۵ واقعه ده، هغه مهال زه په لکهنو کې وم، له یوه نامسلمان تعلیم یافته سره مې لیدنه وشوه، هغه په مذهب باور نه لاره او مذهبي خبرې یې بې ګټې ګڼلې، د خبرو پرمهال یې وویل:

اسلام که له تاریخه وویستل شي، نو په تاریخ کې به څه کمی پاتې شي.

په دې اورېدو سره مې له خولې ووتل: هماغه کمی چې له اسلام مخکې تاریخ کې و.

زما په دې ځواب سم له واره چوپ چاپ شو، هغه محسوس کړه چې د تاریخ له اعتباره دا خبره سمه ده چې هغه هرڅه چې پرمختګ ورته ویل کیږي، هغه له اسلام مخکې نړۍ کې نه وو، دا یوازې له اسلام وروسته رامنځته شول، خو په دې کې یې شک و چې د دې پرمختګونو د څرګندېدلو کومه اړیکه له هغې تاریخي واقعې سره ده چې هغې ته اسلام یا اسلامي انقلاب ویل کیږي.

په دې کتاب کې د هماغې تاریخي پوښتنې په اړه کتنه کوو، په دې کې د هغې اړیکې څېړنه شوې چې د اسلامي انقلاب او نویو پرمختګونو ترمنځ مونده کیږي، په دې اړه په ځینو هغو اړخونو هم خبرې شوې دي چې د بحث لاندې موضوع سره پیوند لري، یا د دې د تقاضا حیثیت لري، په دې کې هیڅ نه شته چې اسلام اصلاً د رباني هدایت انکشاف دی چې سړي ته د آخرت ابدي بریا لار په ګوته کوي.

ساینسي او صنعتي پرمختګونه نېغ په نېغه د اسلام موخه او غوښتنه نه ده؛ مګر

په دې کې هم شک نه شته چې ساینسي او صنعتي پرمختګونه د همدې اسلامي انقلاب یوه پایله ده، که اسلامي انقلاب نړۍ ته نه وای راغلی، نو ساینسي او صنعتي پرمختګونه به هم نه وو رامنځته شوي؛ څنګه چې له اسلامي انقلاب مخکې نه وو.

د ونې اصل موخه مېوه ورکول دي؛ مګر کله چې لویه شي، نو انسانانو ته سیوری هم ورکوي، همدا کیسه د اسلام هم ده، د اسلام اصل مقصد انسانانو ته د رباني هدایت ور پرانیستل دي، دې لپاره چې د رب ابدي قُربت تر لاسه کړی شي.

مګر اسلام ټوله ربتینولي ده او پوره رښتیا چې کله څرګندېږي، نو له هر پلوه د انسانیت لپاره د برکت او ګټې باعث کېږي، نېغ په نېغه هم او بالواسطه هم.

## له تیارې تر رڼا

الله تعالی یوه مکمله دنیا جوړه کړه او بیا یې انسان په کامل صورت پیدا کړ، الله تعالی انسان ته وویل چې په دې نړۍ کې اوسه او ګټه ترې اخله. په دې سربېره یې دا هم ورته وویل چې ستا خالق او معبود یوازې اکې یو دی، د همدې یو خدای پرستش کوه، له ده پرته بل معبود مه جوړوه. خو انسان په محسوس پرستۍ کې ولوېد، غیر مریي خدای یې خپل د توجه مرکز جوړ نه کړی شو، ورځ تر بلې مریي خدایانو ته مایل شو، هر هغه څیز چې ورته په ښکاره لوی او ډېر ترسترګو شو، په اړه یې فکر وکړ چې همدا خدای دی، یا په ځان کې خدایي صفت لري. همدا راز یو خوا د لویو انسانانو د تقدس عقیده پیدا شوه او بل طرف د فطرت د پرستش لړۍ پیل شوه چې ورته د مظاهرو پرستش Worship of Natural Phenomena یا Nature Worship ویل کېږي.

د همدې غیرالله عبادت نوم شرک دی، دا شرک کرار - کرار د عقیدې او

عمل په ټولو اړخونو خور شو، د برکت او نحوست مفروضه عقایدو لاندې په ټولو کورنیو دودونو کې ګډ شو او خدایي پاچا Divine King د نظریې په صورت کې د سیاسي نظام لازمي جز وګرځېد.

همدا د پخوانۍ دنیا مذهب و، پخوانۍ نړۍ په پوره توګه په دې ناسمو عقایدو ولاړه وه چې د مذهب په ژبه ورته شرک او علمي ژبه کې خیالي تابعداري (خرافات) (Superstition) ویل کېږي.

په تېرو زمانو کې چې کوم پیغمبران راتلل، هغه ټول د همدې ګډوډۍ د اصلاح لپاره راتلل، په هر پېر کې یې انسان ته دا دعوت ورکړی چې شرک پرېږدي او توحید غوره کړي، له یوه روایت سره سم له حضرت آدم نېولې تر حضرت مسیح پورې تر سل زره زیات پیغمبران راغلل (صحیح ابن حبان، حدیث نمبر ۳۶۱)؛ مګر انسان یې خبرې منلو ته راضي نه شو، د پیغمبرانو دعوت تر اعلانِ حق پورې و، تر انقلابِ حق ونه شو رسېدلی.

د شرک یا توهم پرستۍ لمنځه وړنې معامله په ساده ژبه کې یوازې یوه مذهبي معامله وه، د دې اړیکه د انسان له ټولو معاملاتو سره وه، حقیقت دا دی چې د شخصیت پرستۍ دا غلبه د هر ډول انساني پرمختګونو مخه نیولې وه.

فطرت ته د تقدس درجې په ورکولو سره یې د دې د تحقیق او تسخیر ذهن ختم کړی و، خو د فطرت له تحقیق و تسخیر سره هغه ټولې پېښې رامنځته کېدې چې ساینسي و صنعتي پرمختګونه ورته ویل کېږي.

دوی په مختلف ډول د بې اساسه مفروضو له مخې په انسانانو کې د ټیټ و لوړ عقاید قایم کړي وو، د دې په پاتې کېدو دا ناشونې شوې وه چې د انساني برابرۍ پېر پیل شي، په دې توګه هغه ټول ځیزونه چې په اوسنۍ زمانه کې ورته رڼا او پرمختګ ویل کېږي، د دې ټولو ظهور ناشونی شوی و؛ ځکه د دې راځرګندېدو لپاره د نړۍ په اړه علمي نظر په کار و او خرافاتي عقیدې د علمي نظر رامنځته کېدنه ناممکن کړې وه.

د زرګونه کاله پیغمبري هڅو ثابته کړې وه چې مجرد فکري او دعوتي مبارزه

انسان د خرافاتو له دې پېره د ایستنې لپاره پوره دی، په هغه وخت کې حکومتونه هم د همدې خرافاتي عقایدو په بنیاد قایمېدل، د همدې لپاره واکمنو مفاد په دې کې و چې خرافاتي پېر دې په دنیا کې پاتې شي، دې لپاره چې په خلکو یې پاچاهاي پای ته ونه رسیږي، د همدې لپاره یې خپل سیاسي او پوځي ځواک د هر هغه دعوت خلاف په ټول توان کاراوه چې د شرک او خیالي تابعداري لمنځه وړنې لپاره راپورته کېده.

اوس پوښتنه دا وه چې څه وکړل شي، همدا هغه وخت دی چې کله په شپږم عېسوي پېړۍ کې د اسلام پیغمبر صلی الله علیه وسلم راغی.

الله تعالی د خپلې ځانګړې پرېکړې له مخې یې د «داعي» ګرځولو ترڅنګ «ماحي» هم وګرځاوه.

یانې په غاړه یې دا تګلاره هم واچوله چې نه یوازې د دې شرک او شخصیت پرستی نظام باطلونې اعلان وکړي؛ بلکې د تل لپاره د دې سیاسي غلبې ختمونې په پار پوځي عملیات هم وکاروي، د چا په سرپرستی کې چې دغه خرافاتي نظام دوام درلود.

## انا الماحي

په قرآن کریم کې نبي کریم صلی الله علیه وسلم مخاطب شوی ویل شوي دي چې دا کتاب یې پر تا د دې لپاره نازل کړی چې خلك له تیارو رڼا ته راوباسې.

﴿كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ إِلَيۡكَ لِتُخۡرِجَ ٱلنَّاسَ مِنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ﴾(ابراهیم/١)

انسانان له تیارو راوباسه او رڼا ته د راوستنې همدا کار د ټولو پیغمبرانو په اوږو اچول شوی و؛ البته زموږ د پیغمبر یوه ځانګړنه دا ده چې الله یې په اړه دا پرېکړه وکړه چې یوازې د پیغام په رسونه انسانیت په خپل حال پرېنږدي؛ بلکې په عملي قدم اخیستو یې حالت بدل کړي.

د دې عملي اقدام بريالي کولو لپاره چې کوم اړين اسباب په کار وو، هغه ټول ورته الله تعالی برابر کړل، د دې ترڅنګ يې دا ضمانت هم ورکړ چې د دنيوي اسبابو هر کمی به د پرښتو په ځانګړې مرسته ترسره کړل شي.

دا خبره په حديث کې په مختلف شکل بيان شوې ده، د يوه حديث الفاظ دا دي: [وَأَنَا الْمَاحِي الَّذِي يَمْحُو اللَّهُ بِيَ الْكُفْرَ](صحيح البخاري، حديث نمبر ۳۵۳۲)، ياني زه لمنځه وړونکی يم چې پر مټ به يې الله کفر لمنځه يوسي، ګويا د اسلام پيغمبر صلی الله عليه وسلم يوازې داعي نه و، ترڅنګ يې ماحي هم و، بلونکی هم و او له پخوا راهيسې د واکمنو په سرپرستۍ کې روان مذهبي جبر (Religious Persecution) ماحول په عمل کې لمنځه وړونکی هم و، په قرآن کې ويل شوي چې د پيغمبر د تګلارې بشپړونې لپاره په صالح انسانانو سربېره د الله او پرښتو پورې يې مرستندويه دي.

داسې ځکه وشول چې الله تعالی د يوه نوي پېر راځرګندېدل غوښتل چې ظهور يې ممکن شي.

## شرک لوري ته

له قرآن سره سم پر ځمکه د انساني نسل آغاز له آدم وشو. الله تعالی آدم ته ويلي وو چې ستا او ستا د نسلونو دين به توحيد وي، په همدې کې ستا د دنيا خير هم دی او اخرت هم.

تر لومړيو څو ورځو پورې خلک په سمه لار قايم وو، له هغې وروسته پکې ګډوډي راغله، اوس الله د پيغمبرانو لېږنې لړۍ پيل کړه.(البقره ۲۱۳: ۲)

له حضرت مسيح نږدې درې زره کاله وړاندې په عراق کې نوح بن لامخ پيدا شو، الله تعالی پيغمبر کړ او د قوم د اصلاح کار يې ورته وسپاره، له هغه وروسته تر مسيح ابن مريم پورې پرلپسې پيغمبران راتلل او خلک به يې پوهول؛ مګر خلک به بيا ځلې اصلاح منلو ته تيار نه شول.(المؤمنون، ۴۴:

۲۳)

د دې ګډوډۍ سبب د خلکو ظاهر بيني وه، توحيد مطلب د غيب معبود ته عظمت ورکول او پرستش يې کول، خلکو د غيب معبود خپل خدای جوړ نه کړای شو، پر ځای يې فطرت ته د معبود درجه ورکړه، د نړۍ پيل په توحيد شوی و؛ مګر په وروسته زمانه کې چې کوم ورانی پېښ شو، پايله يې دا شوه چې دنيا د تاريخي شرک پر لوري روانه شوه، توحيد تر ټولو لوی رښتيا دی، انسان که په توحيد ولاړ وي، نو ټول معاملات به يې درست وي، که توحيد پرېږدي، نو ټول معاملات يې ورانېږي، توحيد د ټولو انسانانو لپاره د عروج و زوال پيمانه ده.

په قرآن کې ويل شوي چې الله د هر څيز خالق دی او په هر څه نګهبان دی، د آسمانونو او ځمکې کونجۍ د هغه په لاس کې دي او چا چې د الله د نښو انکار وکړ، همغه په بده کې دی.

ووايه ای نادانو، ايا تاسې ماته دا وايئ چې بې له الله عبادت وکړم او تاسې ته او له تاسې وړاندې هغو ته وحی شوې ده چې که شرک مو وکړ، نو عمل به مو ضايع شي او تاسې به په بد ځای کې شئ؛ بلکې يوازې د الله عبادت وکړئ او له شکر کوونکو شئ او خلکو د الله قدر ونه کړ؛ څنګه يې چې د قدر حق دی او ځمکه ټوله به د هغه په لاس کې وي د قيامت په ورځ، او ټول اسمانونه به يې په ښي لاس کې پراته وي، هغه پاک - برتر دی له هغه شرک چې دا خلک يې کوي. (الزمر، ٦٧، ٦٢: ٣٩)

له توحيد نه د انحراف اصل زيان هغه دی چې په اخرت کې مخ کېدونکی دی، خو دا چې توحيد د کاينات اصل حقيقت دی، د همدې لپاره له توحيده لرې کېدل يا اوړېدل له حقيقته مخ اړول دي او څوک چې داسې وکړي، ژوند به يې نه يوازې په اخرت کې؛ بلکې په اوسنۍ نړۍ کې هم ګډوډ او وران ويجاړ شي، همدا هغه خبره ده چې ورته په پورتني آيت کې اشاره شوې ده.

د دې بنيادي سبب دا دی چې د يو خدای شعور د انسان په فطرت کې ترلی دی، سړی د خپل فطري غوښتنې له مخې اړ دی چې خدای ومني او پر ورانديې يې ټيټ شي، سړی د يو خدای له منلو مخ اړولی شي، خو دا يې له وس پورته ده چې له خپل فطرت انکار وکړي، پايله دا ده چې څوك خالق ونه مني، دا بيه به پرې کوي چې مخلوق د معبود په توگه منلو ته مجبور شي، په ناحقيقي توگه مخلوق ته هغه درجه ورکوي چې په حقيقي توگه يوازې يو خالق ته ورکول په کار دي.

د دې نړۍ خالق او مالك خدای دی، ټول حقيقي عظمتونه يوازې ده ته په برخه دي، انسان چې کله خدای خپل عظيم گرځوي، نو هغه دا هستي عظيم گرځوي چې في الواقع د عظمت و لويۍ مستحق دی.

د خدای عظيم گرځولو په صورت کې سړی په حقيقتِ واقعه ودرېږي، په داسې حالت کې يې ژوند رښتونی ژوند شي، له هر ډول تضاد خالي شي، سوچ او عمل يې دواړه په سم لوري ځي، وجود يې د نړۍ له حقايقو سره په پوره توگه همغږی کېږي، د ده او د نړۍ د حقايقو ترمنځ چېرته کوم ټکر نه شي.

د دې برعکس چې انسان کله داسې کوي چې له خدای پرته بل څوك لوی گڼي، هغه له خدای پرته بل چاته هغه درجه ورکوي چې يوازې يو خدای ته ځانگړې ده، نو د دې پايله دا شي چې ټوله کړنه او عمل يې غير حقيقي کړنې او بې کاره شي، داسې بې جوړې څيز گرځي چې د نړۍ له حقايقو سره اړخ نه کوي، ټول ژوند يې د حقيقت ژمنې پر ځای د خرافات په لار درومي.

د دې معاملې د وضاحت لپاره يو مثال واخلئ، عېسوي ښاغلي د تثليث عقيدې لاندې ابن مريم خدای وگڼله، حضرت مسيح د واقعې له مخې ابن مريم و؛ مگر عېسوي ښاغلو غلو وکړه، د ابن الله درجه يې ورکړه، حضرت مسيح ته يې هغه درجه ورکړه، هغه عظمت يې ورکړ چې يوازې د واحد خدای لپاره دی چې د حضرت مسيح ترڅنگ ټولو انسانانو خالق دی.

د دې په پایله کې هغوی د عظیم تضاد ښکار شول، له هغو تضادونو یې یو تضاد دا و چې د لمریز نظام په اړه یې له متکلمانه نظریاتو پیدا شوله.

په پخواني یونان کې د فلکیاتو مشهور عالم بطلیموس (Claudius Ptolemy) په دوهمه عېسوي پېړۍ کې پیدا شو، د سکندر په زمانه کې یې څېړنې وکړې، یو ضخیم کتاب یې په لاتیني ژبه کې ولیکه، په هغه کتاب کې یې دا نظریه وړاندې کړه چې ځمکه ولاړه ده او لمر، سپوږمۍ او سیارې ترې تاوېږي، د ده زمانه د لومړۍ عېسوي پېړۍ او دویمه عېسوي پېړۍ ترمنځ (۱۶۸ - ۹۰) ده، د مسیحي ښاغلو د سرپرستۍ له امله دا نظریه پرلپسې په ذهنونو سیورۍ وه، تر دې چې په شپاړسمه عېسوي پېړۍ کې کوپرنیکس په وروستۍ توګه ختمه کړه.

د مسیحي حضراتو په اند د مذهب بنیادي عقیده د کفاره عقیده ده چې له مخې یې الله د ټول انسانیت د نجات انتظام وکړ، د نجات واقعه یوه داسې مرکزي واقعه (Central Event) ده چې اړیکه یې نه یوازې له انساني نسلونو سره؛ بلکې له ټولو کایناتو سره ده، د ټولو کایناتو دا مرکزي واقعه (د حضرت مسیح د ګناهونو کفارې ګرځولو لپاره مغلوبېدل)؛ چون پر ځمکه رامنځته شوه، د همدې لپاره له مسیحي علم کلام سره سم ځمکه د ټولو کایناتو مهم ترین مقام او د دې مرکزي نقطه وټاکله، په دې بنا مسیحي حضراتو د بطلیموس د ځمکې مرکزي (Geocentric) نظریې زبردست تایید وکړ، دې ته یې د مذهبي عقیدې غوندې حیثیت ورکړ.

مسیحي ښاغلي د هر هغه کوشش مخالف اوسېدل چې د لمر مرکزي Eeliocentric نظریې لوري ته وړونکي وو، تر دې پورې چې (Nicolaus Copernicus 1473 – 1543) او ګلیلو ګلیلي (Galileo Galilei 1564 – 1462) او جان کپلر (Johannes Kepler 1571 – 1630) تحقیقاتو دا په وروستۍ توګه باطل ثابت کړه.(EB-4/522)

د برټانیکا انسایکلو پېډیا (۱۹۸۴) مقاله لیکونکی لیکي چې د مسیحي علم

کلام له مخې د نجات اسکیم یوه کایناتي پېښه وه، د مسیح عمل نجات کایناتي معنویت درلود، د دې اړیکه له انسان نیولې تر ژویو پورې وه؛ مګر له نوي فلکیاتي علم معلومه شوه چې ځمکه د کایناتو په پراخ سمندر کې له یوې وړې تیرې ډېر حقیقت نه لري، د دې حقیقت په بنا خپله د مسیح معنویت هم تر یو بریده کم شو او د نجات خدایي عمل په یوه ناقابل لحاظ کره یوازې یوه کوچنی پېښه وګرځېده:

In niew of this fact, the meaning of Christ itself lost some of its impact, and the divine act of salvation appeared merrely as a tiny episode within the history of an insignific ant little star. (EB-4/522)

د دې نړۍ خالق، مالک، مدبر، ټول هرڅه یوازې یو خدای دی، هر ډول لویي او واک و اختیار یوازې هغه ته ترلاسه دی. له هغه پرته بل هیچا ته هیڅ ډول لویي یا اختیار نه دی ترلاسه، دا چې په دې نړۍ کې کله چې هم کوم بل چاته د عظمت او تقدس مقام ورکونې کوشش کېږي، نو داسې نظریه له ټول کاینات سره ټکر کېږي، هغه په ګرد کاینات کې چېرته هم خپل ځای نه مومي.

همدا لامل دی چې د مشرک نظریه د انساني پرمختګ په لار کې خنډ ګرځي او د توحید نظریه د انسان لپاره د هر ډول پرمختګونو ور پرانیستونکې ده.

## د اسلام نظریه

له قرآن معلومېږي چې د ټولو پيغمبرانو بلنه يوازې يـوه وه، هغـوی د هـر پېر انسانانو ته دا وويل چې د يو الله عبادت وکړئ، له هغه پرتـه بـل هـيڅ اِلـه نه لري ﴿اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ﴾(الاعراف: ۵۹)

په امام راغب مفرداتو کـې اِلـه يـا لَـهُ معنـا د تحيرّ شـوې ده، (المفـردات في غريب القرآن، ۳۳) ياني حيرانېدل.

په لسان العرب کې دي: وأَصْلُهُ مِنْ أَلِهَ يا لَهُ إذاَ تحيرّ، يريـدُ إِذاَ وَقَـعَ الْعَبْـدُ فِي عَظْمَتِهِ اللّهِ وَجَلَالِه... وَقيْلَ فِي اِسْمِ الْبَارِي سُبْحَانَهُ إِنَّهُ مَأْخُوذُ مِنْ أَلِـهِ يأْلـه إذا تحيرّ، لأن العُقُـولَ تأْلـه فِي عَظْمَتِـهِ. (لسـان العـرب، جلـد ۱۳، مخونـه ۴۶۷، ۴۶۹).

ياني د اله کلمې اصل حيرانېدنه ده، له دې هغه کيفيت مراد دی چې د اللـه د عظمت و جلال له احساسه په بنده کې پيدا کېږي، د الله کلمه له همـدې الـه (الف لام تعريف اخيستی) جوړ کړی؛ ځکـه عقلونـه د دې لـه تصـور نـه پـه حيرانۍ کې لوېږي، له «اله» مراد هغه هسـتي ده چـې تـر حيرانـوونکي بريـده عظيم دی چې د کمالونو په فکر کولو يې انسان پـه حـيرت و اسـتعجاب کـې غرق شي، له همدې نه د تقدس عقيده پيدا کېږي، له تقدس مراد د يوه ځيـز مخه له اسرار ډک صفت دی چې د بې بريده فهم او درک تر لوړو رسـېږي، «اله» هغه دی چې په غوڅ ډول مقدس وي چې پر وړاندې يې سرې له ټولې هستۍ سره ټيټ شي چې له هر ډول تصرف او تغلب پورته وي.

په دې معنا کې يوازې يو الله اله دی، له ده پرته بل کوم الـه نـه شـته او نـه پـه کومه درجه کې څوک له ده سره په الوهيت کې شريک دی، حقيقي اله – اله منل د ټولو ښېګڼو سرچينه ده او غـير حقيقـي الـه –الـه منـل د ټولـو خرابيـو سرچينه ده.

## د ټولو خرابیو ریښه

نا مقدس ته مقدس ویل د ټولو خرابیو او بدیو ریښه ده، همدا هغه څیز دی چې په دیني اصطلاح کې ورته شرک وایه شي، شرک ته په قرآن مجید کې عظیم ظلم (لقمان، ۱۳: ۳۱) ویل شوی دی.

د ظلم اصل معنا ده یو څیز په داسې ځای ایښول چې ځای یې نه وي (وضع الشيء في غیر موضِعِهِ المختص به) المفردات في غریب القرآن للاصفهانی، مخ ۵۳۷ – شرك تر ټولو لوی ظلم ځکه دی چې هغه د دې ډول تر ټولو سخت کار دی، داسې څیزونه مقدس او معبود ګڼي چې په حقیقت کې مقدس او معبود نه دي، هغه داسې ناخدا ته هغه مقام ورکوي چې یوازې د یو خدای لپاره ځانګړی دی.

د دې ظالمانه فعل تر ټولو لوی زیان دا دی چې د سړي د پرستش مرجع بدلیږي.

داسې هستۍ غواړي چې د دې اهل نه وي چې عبادت یې وشي، د دې پایله دا کیږي چې په دې کایناتو کې د هغه واحد له اسرې محروم شي چې له هغه پرته د انسان لپاره هیڅ اسره نه وي، هغه خپل ځان د دې وړ ګرځوي چې ورته له رباني رحمتونو هیڅ برخه ترلاسه نه شي او کوم شخص چې له رباني رحمتونو محروم شي، هغه په ابدي توګه محروم شو؛ ځکه چې له کوم بل چا سره دا ځواک هیڅ شته نه چې چاته رحمت او عنایت ورکړی شي.

دا هغه زیان دی چې د ابدي ژوند له پلوه دی؛ مګر په اوسنۍ دنیا کې د لنډ ژوند له پلوه هم له زیان او تاوان پرته بل څه نه شته، په پخوا زمانو کې انسان ډېر نامقدس څیزونه مقدس ګڼلي او منلي دي، د هغې په پایله کې پرلپسې له زیان و تاوان سره مخ کیده.

د دې مشرکانه نظریې له مخې نورې ډېرې عقیدې جوړې شوې، تر دې چې د اوهامو او خرافاتو یوه پوره لړۍ قایم شوه، مثلاً کله به چې بریښنا وشوه،

فکر یې کاوه د خدایګوتې اورلړونی دی، سپوږمۍ یا لمر چې په تندر ونیول
نو فرض به یې کړه چې په خدایګوتې د کوم مصیبت وخت راغلی دی او...
د تقدس دا مشرکانه عقیده د مذهبي روحانینو لپاره ډېره ګټوره وه، هغوی د
بشپړه نظریه وګرځوله او د خدای او انسان ترمنځ د واسطې په جوړېدو یې
خلک ښه ولوټل، هغوی په خلکو کې دا ذهن پیدا کړ چې د مذهبي مشران
خوشحالول په بالواسطه توګه د خدای خوشحالول دي.

د دې تر ټولو لویه ګټه پاچاهانو ته وشوه، هغوی د ولسونو د دې ذهن په
کارولو د خدایي بادشاه (God - King) نظریه جوړه کړه، له پاچا سره په یوه
ټولنه کې تر ټولو ډېر دولت او څواک وي، هغه له مختلف پلوه له عامو
خلکو ممتاز وي، له دې امتیازه په ګټې اخیستنې پاچاهانو خلکو ته باور ورکړ
چې هغوی له عامو انسانانو برتر دي، هغوی په ځمکه د خدای استازي دي،
چا یوازې دومره وویل چې هغوی د خدای او بنده ګانو ترمنځ واسطه دي، چا
له دې هم ډېر دا یقین ورکړ چې د خدای جسماني ظهور دي، د فوق
الطبیعي څواکونو خاوندان دي، په دې بنا د پخوانی زمانې پاچا په خپل رعایا
د غوڅ اختیار خاوند کېده.

د برېټانیکا انسایکلوپېډیا (۱۹۸۴) مقاله لیکوال د مقدسې پاچاهۍ ( Sacred
Kingship) لاندې لیکلي دي چې په یوه وخت کې کله چې مذهب په پوره
توګه د فرد ټول ژوند د ټولنې له ژوند سره په تمامه معنای تړلی و او پاچاهي
په مختلفو درجو کې له مذهبي قوتونو یا مذهبي ادارو سره تړلې وه، هغه
وخت په دنیا کې هیڅ یوه پاچاهي داسې نه وه چې له کوم اړخه دې مقدسه
ونه ګڼل شي:

At one time, when religion was totally connected with the whole existence of the individual as that of the community and when kigdoms were in varying degrees connected with religious power or religious institutions, there could be no

kingdom that was not in some sense sacrd. (EB. 16/18)

لارډایکټن (۱۹۰۲ - ۱۸۳۴) ویلي دي چې اقتدار ورانبري او کامل اقتدار بالکل ماتبري:

Power corrupts and absolute power corrupts absolutely.

پخواني شرک چې کله واکمنو ته مقدس حیثیت ورکړ، نو په یوه وخت کې دوه سختې خرابۍ یې په ټولنه کې پیدا کړې.

د اقتدار خرابي یې تر وروستي ممکن حده ورسوله، له دې سره دا چې د عوامو لپاره واکمن بدلونه ممکن نه وه؛ ځکه چې واکمن د خدای نایب یا د خدای تجسیم وي؛ بلکې خپله خدای د دې اړوند ولس دا سوچ نه شي کولی چې هغه له اقتدار مقام ایسته کړي او له نورو ظلمونو یې نجات ترلاسه کړي.

دا سیاسي بدگني چې ورته فرانسوي مورخ هنري پرین (Henry Perrine) مطلق شهنشاهیت (Empirical Absolutisom) ویلي دي، د ټولو پرمختگونو په لارو کې همېشنی خنډ شو، اسلام چې کله پخوانی شهنشاهي نظام مات کړ، له هغې وروسته دا ممکن شوه چې په انسان د هر ډول پرمختګ ور ایله شي، په دې لړ کې د هنري پرین د کتابونو مطالعه گټوره ده.

د هنري پرین د نظرېې خلاصه دا وه چې پخوانی رومي سلطنت چې د قلزم بحر (Red Sea) دواړو لوریو ته خور دی، هغه د نظر ازادۍ په ختمولو د انساني پرمختګ دروازه تړلې وه، د دې غوځ ډول شهنشاهیت له ماتولو پرته انساني ذهن ته آزادي نه شوه په برخه کېدی او انساني ذهن ته چې کله په آزادانه ماحول کې د عمل کولو موقع ترلاسه نه شي د انساني پرمختګ آغاز هم نه شي کېدی.

لیکوال په دې لړ کې ایرانی سلطنت هم را اخلي، دا دواړه سلطنتونه د پخوانۍ نړۍ په زیاته برخه واکمن وو او د ریاست له محدود شاهي فکره په آزادېدو د فکر کولو حق ترې په پوره توگه اخیستل شوی و، همدا لامل دی چې د

اوږدې زمانې اقتدار سربېره ايراني يا رومي سلطنت په سيمو کې د ساينسي
طرز فکر حقيقي آغاز ونه شو.
رسول او اصحابِ رسول تر حيرانوونکي بريده لږه وينه توی کړه او دغه
سلطنتي يې ختمه کړه او په دې توګه د فکر د آزادۍ لار يې هواره کړه او د
انسان لپاره يې د پراخ پرمختګ ور پرانيست.

## د تحقيق آزادي

د بيرون کارادي واکس (Baron Carra De Vaux 1867 – 1953) مشهور
کتاب د اسلام ميراث The Legacy of Islam په ۱۹۳۱ کې چاپ شو، د دې
کتاب ليکوال که څه هم د عربو د کارنامو اعتراف کوي؛ مګر د هغه په اند
حيثيت يې له دې پرته نور هيڅ نه و چې هغوی د يونانيانو شاګردان ( Pupils
of the Greeks) وو.

برټرينډرسل په خپل کتاب هسټري آف ويسټرن فلاسفي کې عربو ته يوازې د
ناقل (Transmitter) درجه ورکړې ده، چا چې د يونان علوم واخيستل د
ژباړو له لارې يې اروپا ته ولېږدول؛ مګر له علمي او تاريخي پلوه دا خبره
درسته نه ده، دا سمه ده چې عربو يوناني علوم ولوستل او ګټه يې ترې
واخيسته؛ مګر له هغې وروسته کوم څيز چې هغوی اروپا ته ولېږداوه، هغه له
دې ډېر زيات و، کوم چې له يونان ورته ترلاسه شوی و.
حقيقت دا دی چې له يونان سره هغه څيز نه و، کوم چې د عربو له لارې
اروپا ته ورسېد او په اروپا کې د رينسانس پيدا کولو سبب وګرځېد. که في
الواقع له يونان سره هغه څيز وای، نو به ډېر پخوا اروپا ته رسېدلی و. په داسې
حالت کې به اروپا ته د خپل نوي ژوند لپاره زر کاله انتظار نه کېده، دا يو
معلوم حقيقت دی چې پخواني يونان چې کومه ترقي کړې وه، هغه يې په
فلسفه او آرټ کې کړې وه، د ساينس په ډګر کې يې ترقي دومره لږه ده چې

په کومه شمېرنه کې نه راځي.

په دې معامله کې يوازينی د يـادونې وړ اسـتثناء ارشـميدس (Archimedes) هغه ده چې په ۲۱۲ق م کې يوه رومي سرتېري عين هغه وخت ووژه چـې لـه ښاره بهر يې په شګو د جيومټري پوښتنې حل کولې.

J.M.Robert's History of the World P. 238.

حقيقت دا دی چې د ساينسـي غور و فکر او ساينسي پرمختګ لپاره د ذهني آزادۍ ماحول بې برېده اړين دی او دا ماحول د پخوا زمـانې نـورو هېوادونـو غوندې په يونان کې هم و، سقراط په دې جرم کې د زهرو پياله وڅکلـه چـې هغه د ايتهنز په ځوانانو کې د آزاد فکر و غور مزاج جـوړاوه، د پلوټـارک لـه وينا سره سم د اسپارټا خلک يوازې د عملي اړتيـاوو لپـاره ليـک لوسـت زده کاوه.

د دوی پرمخ نور د ټولو کتابونو او اهلِ علمو پابندي لګېدلې وه، په ايتنز کـې آرټ او فلسفې ته پرمختګ ترلاسه شو؛ مګر ډېـر آرټيسـټان او فلسـفيان جـلا وطن کړل شول، په بندخونو کې واچول شول، په دار کړل شول، يا لـه وېـرې وتښتېدل په دې کې اسکايي ليس، ايوريفايډس، فدياس، سـقراط او ارسـطو په څېر خلک هم برخمن وو.

د يونان اسکايي لس (Aeschylas) وژنه چې په کـوم بنيـاد وشـوه، هغـه لا د دې خبرې ثبوت دی چې په پخواني يونان کې د ساينسي پرمختګ ماحول نه و، هغه يې د دې لپاره ووژه چې اليوسي نين رازونه يـې ښـکاره کـړي وو، دا «رازونه» له هغو حيرانوونکيو کيسو دي چې هيڅ وجود نه لري؛ مګر د يوناني فکر و خيال لازمي برخه ګرځېدلې وو. (EB-3/1084)

له نوي ساينسي پېر وړاندې د ساينس په اړه د اروپا څه حال و، د دې يو مثال د پوپ سلوسټر (Pope Sylvester II) کيسه ده چې په عام ډول د ګربـټ پـه نوم مشهور دی، هغه په ۹۴۵ء کې پـه فرانسـه کـې وزېږېـد او پـه ۱۰۰۳ء کـې ومړ، هغه په يوناني او لاتيني دواړو ژبو ډېر ښـه پوهېـده او ډېـر زيـات پوهـه

انسان و.
ده د اسپېن سفر وکړ او هلته په بارسلونا (Barcelona) کې تر درې کالو پاتې شو، هلته يې د عربو علوم زده کړل او ډېر زيات ترې اغېزمن شو. کله چې راوګرځېد، نو د څو عربو کتابونو ترجمې ورسره وې. هغه يو اصطرلاب (Astrolabe) هم له اسپېن راوړی و، هغه د عربو علوم، منطق، رياضي او فلکيات... تعليم پيل کړ؛ خو له سخت مخالفت سره مخ شو. ځينو مسيحي حضراتو ووېل ده له اسپېن نه جادو زده کړی راوړی يې دی. ځينو خلکو ووېل چې شيطان پرې مسلط شوی دی، هغه په دې ډول سختو شرايطو کې واوسېد، تر دې چې په ۱۲ می ۱۰۰۳ء کې په روم کې ومړ. (EB-17/899)
له اسلام وړاندې په ټول معلوم تاريخ کې د علمي آزادۍ شتون نه و. همدا لامل دی چې په پخوانۍ زمانه کې د ساينسي غور فکر ځينې انفرادي مثالونه تر لاسه کېږي؛ مګر دا غور و فکر د وخت يا انفرادي واقعې پورته لاړ نه شو؛ ځکه چې د ذهني آزادۍ نه ترلاسه کېدو له امله داسې هر فکر به په پيدا کېدو بېرته ختمېده.
اسلام په لومړي ځل دا انقلابي بدلون راوست چې مذهبي علم او طبيعاتي علم يې له يوه بله بېل کړل، د مذهبي علم ماخذ يې خدايي الهام وګاڼه چې مستند چاپ يې له مور. سره د قرآن په صورت کې خوندي دی؛ مګر په طبيعاتي علومو کې پوره آزادي راکړ شوې چې سړی پکې آزاده څېړنه وکړي او په آزاد ډول يې تر پايلو ورسېږي، په صحيح مسلم کې د يوه څېرکي عنوان په دې الفاظو جوړ شوی دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم کوم څه په شرعي توګه ويلي وي، منل يې لازمي دي؛ مګر د دنيا د اقتصاد په اړه يې قول له دې مستثنی دی:
باب وجوب امتثال ما قاله شرعا دون ما ذكره صلى الله عليه وسلم من معايش الدنيا على سبيل الرأي.
د دې څېرکي لاندې امام مسلم دا روايت نقل کړی دی چې موسی بن طلحه

له خپل پلاره نقل کوي چې زه له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په داسې خلکو تېر شوم چې د خرما په ونو ختلي وو، ویې پوښتل دا خلک څه کوي، خلکو وویل دوی د القاح (Pollination) عمل کوي، یاني مذکر په مونث وهي چې په دې سره څه ګټه وشي، دا خبره یې چې خلکو ته وکړه، نو هغوی د القاح عمل پرېښود، رسول الله ته چې دا خبره معلومه شوه، نو ویې ویل: که په دې سره ورته ګټه رسېږي، نو ودې وکړي؛ ځکه چې ما یوازې یو ګومان کړی و، نو تاسو زما د ګومان پیروي مه کوئ؛ مګر کله چې درته د الله کومه خبره وکړم، نو هغه غوره کړئ؛ ځکه چې زه د الله عز وجل په اړه کله هم دروغ نه وایم. (صحیح مسلم، حدیث نمبر ۲۳۱۶)

همدا شان له حضرت عایشې، حضرت ثابت او حضرت انس روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له یوې ډلې تېرېده چې د القاح عمل یې کاوه، ویې ویل که داسې یې نه کول، نو ډېره به ښه وه، راوي وایي له دې وروسته د خرما پیداوار ډېر لږ شو، بیا یې له څنګ تېر شو او ویې پوښتل: ستاسې خرما څنګه شوې، هغوی پوره کیسه ورته وکړه، پیغمبر ورته وویل: تاسې له خپلې طریقې سره سم هغه وکړئ؛ ځکه تاسې د خپلې دنیا په اړه ښه پوهېږئ [أَنْتُمْ أَعْلَمُ بِأَمْرِ دُنْيَاكُمْ].(صحیح مسلم، حدیث نمبر ۲۳۶۳)

له دې حدیث سره سم په اسلام کې دیني بحث له ساینسي بحث (Scientific Research) بېل شوی دی، په دیني بحث کې د الهامي هدایت پوره پابندي په کار ده؛ مګر ساینسي تحقیق دې د انساني تجربې په بنیاد مخته یوړل شي، دا د علم په تاریخ کې بې له شکه عظیم الشان انقلاب دی.

## یو اقتباس

دا سمه ده چې په پخوا زمانو کې په مختلفو هېوادونو کې ځينې شخصيتونه پیدا شول چې په انفرادي توگه يې ځينې ساينسي کارنامې تر سره کړې دي؛ مگر د ماحول د عدم موافقت له امله ورته نه په خپل وطن کې هرکلی وشو او نه له وطن بهر.

موسيوليبان په خپل کتاب «تمدن عرب» کې ليکلي دي چې په پخوا زمانه کې ډېرو قومونو واک ترلاسه کړ، ايران، يونان او روم په مختلفو زمانو کې په ختيځو هېوادونو حکومت وکړ؛ مگر په دې ملکونو يې تهذيبي آغېز ډېر لږ پرېوت، په دې قومونو کې نه هغوی خپل مذهب خور کړی شو، نه خپله ژبه او نه خپل علوم او نه يې خپل صنعت ته وده ورکړی شوه.

مصر د بطليموسيانو او روميانو په زمانه کې نه يوازې په خپل مذهب ودرېد؛ بلکې خپله فاتحينو د مفتوح قومونو مذهب او طرز تعمير غوره کړ.

ځکه دې دواړو خاندانونو چې کومې ودانۍ رغولې دي، هغه د فراعنه طرز وې، خو کومه موخه چې يونان، ايران او روم په مصر کې ترلاسه نه کړی شوه دا موخه عربو ډېره ژر او بې له کوم زور و جبر ترلاسه کړه، د مصر لپاره چې د بل قوم خيالات ورته د منلو وړ نه وو، يا ډېر سخت وو، په يوه پېړۍ کې دننه يې خپل اووه زره کلن پخوانی تمدن پرېښود يو نوی مذهب او نوې ژبه يې غوره کړه، عربو همدا اثر د افريقا په هېوادونو او شام او ايران او... وښنده، په دې ټولو کې اسلام ډېر ژر خور شو، حتی له کومو ملکونو چې به عرب يوازې تېرېدل او هلته يې کله حکومت هم نه و شوی، يوازې د سوداگر په حيث ورغلي وو، هلته هم اسلام خور شو؛ لکه په چين کې...

د نړۍ په تاريخ کې په مفتوحو قومونو د يوه فاتح قوم د اغېزو داسې مثال نه

لیدل کیږي، دې ټولو قومونو چې له عربو سره یې یوازې د څو ورځو لیدل شوي وو، هغوی یې هم تمدن ومانه؛ بلکې تر څینو فاتحو قومونو پورې؛ مثلا ترک او مغل د مسلمانانو له مفتوحو وروسته نه یوازې د دوی مذهب او تمدن غوره کړ؛ بلکې ډېر لوی ملګري او پلوي یې وګرځېدل.

نن هم په داسې حال کې چې له پېړیو راهیسې د عربي تمدن روح مړ شوی دی، له بحر اتلانتیک نیولې تر سندهـ پورې او له متوسط بحر نیولې تر د افریقې رېګستانونو پورې یو مذهب او یوه ژبه دود او رایج وه او هغه د اسلام د پیغمبر مذهب او ژبه وه. «تمدنِ عرب»

موسیولیبان لیکلي دي چې په لویدیځو هېوادونو هم د عربو دومره آغېز و څومره چې په ختیځو هېوادونو و، د دې له برکته لویدیځ تهذیب زده کړ، یوازې دومره توپیر دی چې په ختیځ کې د عربو اغېز یې په مذهب، ژبې، علوم و فنون او صنعت و حرفت هر څیز وشو او په لویدیځ کې دا وشول چې په مذهب یې ډېر اغېز ونه شو، په صنعت و حرفت یې نسبتاً لږ او علومو فنون یې ډېر زیات اغېز وشو.

د عربو له لارې د توحید مذهب او تر آغېز لاندې راټوکېدلی تهذیب هر لوري ته وغځېد.

د پخوا آبادې نړۍ زیاته برخه یې آغېزمنه کړه، په دې توګه هغه ماحول او فضا جوړه شوه چې پکې علمي تحقیق او د فطرت د مظاهرو د تسخیر کار په آزاده توګه ترسره کړل شي.

# څلور عصره

[illegible] دولس ځله دا خبره شوې چې د اسلام په صورت کې کو[illegible]
[illegible] شوی، هغه د انسانانو لپاره هدايت هـم دی او رحمـت هـم ﴿هُدًى
وَرَحْمَةٌ﴾ (الانعام، ٦:١٥٧) له هدايت مراد د دې مذهبي اړخ دی او له رحمت
موخه يې يو پلو د دې دنياوي اړخ - د اسلام لـه لارې يـو خـوا دا وشـول چې
انسان ته ورښوونې او بې آميزه دين په برخه شو، د انسان او رب ترمنځ اړيکې
پيدا کولو لپاره يې چې کوم مصنوعي خنډونه وو، هغه ټول د تـل لپـاره پـاک
کړل شول. د قرآن او سنت په صورت کې د لارښوونې يو ابدي څلـی ودرول
شو چې د هر پير انسان ترې رڼا واخلي.
له همدې سره دويمه، نسبتاً ثانوي درجې خبره دا شوه چـې د اسـلام لـه لارې
يو داسې انقلاب راغی چې د انسان پرمخ يې د دنيوي رحمتونو ور ايله کړ.
انساني تاريخ يې د تورتم له عصر وويست او د رڼا عصر ته يـې ننويسـت، د
اسلامي انقلاب همدا دويم اړخ دی چې اعتراف يې مشـهور لويـديځ مـورخ
هنري پرين (Henry Perrine) په دې ټکو کړی دی.

Islam changed the face of the globe.
The traditional order of history was overthrown.
(A History of Europe, P. 46)

هغه څيز چې ورته نوی پرمختللی پـړ وايـه شي، د سـاينس او صـنعت پـړ،
آزادۍ او برابرۍ پړ او... دا ټول د اسلامي انقلاب د دې اړخ پايله ده چې په
قرآن کې ورته «رحمت» ويل شوی، دا عصـر د نورو ټولو کايناتي واقعاتو پـه
څېر په تدريجي توګه راڅرګند شو او په نږدې يو زر کالو کې خپلې انتهـا تـه
ورسېده، دا تدريجي عمل که په عصرونو او مرحلو ووېشـل شي، نـو د لـوی

پش له پلوه دا په څلورو مرحلو وېشل کېدی شي، په دې کې لومړۍ درې
مرحلې د اسلامي انقلاب نبغ په نبغه مرحلو حیثیت لري او څلورمه مرحله
الواسطه مرحله:

۱. د پیغمبر مبارک زمانه ۶۳۲ - ۶۱۰
۲. د خلفاء راشدینو زمانه ۶۶۱ - ۶۳۲
۳. بنو امیه او بنو عباس زمانه ۱۴۹۲ - ۶۶۱ (تر اسپین پورې)
۴. د اروپا نوی انقلاب چې له صلیبي جنګونو وروسته د اسپین مسلمان تهذیب آغېز لاندې په پنځلسمه عېسوي پېړۍ کې پیل شو.

## نوی انسان

د ننني پېړۍ تر پیله پورې په متمدنه نړۍ کې په عامه توګه فکر کېده چې د پرمختګ راز په ساده توګه دا دی چې انساني قافله دې له روایت (Tradition) تر جدت (Modernity) ورسول شي.

مګر د دې سفر تر تکمیلي مرحلې ته په رسېدو بېرته د مایوسی ښکار دی. دا ورته محسوسېږي چې د انسان د حقیقي پرمختګ لپاره له دې زیات ژور بنیاد په کار دی، دا چې اوس په کثرت سره داسې مضامین چاپېږي چې عنوان یې مثلاً دا وي:

Shallow are the roots.

اوس خپله په لویدیځې نړۍ کې دا خبره د لیکوالو لپاره یې د قلم موضوع ګرځي، له هغې نه یو کتاب د پروفیسور کونولي دی چې په ۱۹۸۸ء کې چاپ شوی او خپور شوی.

Willian E. Connolly, polictal theory and modernity, Black Well, Londong, 1988.

پروفیسور کونولي وايي د عصریتوب ټوله منصوبه په خپلو ظاهري بریاوو

سربېره له ډېرو زياتو مسايلو ډکه ده، د دې سبب دا دی چې خدای ترې ب
ايسته کولو، د کار په پيل کې تعقل، عام نظر، د اضداد تاريخ لـه لارې د
تشي ډکوني ټولې هڅې بې ګټې ثابتې شوې دي.
له دوی نه هر يو يې په يو نه يو ډول مخ اړونې سره پای ته رسېدلي دي.
he whole project of modernity, despite its stunning success, is
ighly problematic.
his is because all attempts to fill the place which God was
orced to vacate at the start of the project... with the general
vill, the dialectic of history... have been of no avil, and each
as ended up in one kind of nihilism or another.
له اسلام وړاندې پېر د شرک د ولکې پېر و، په هغه زمانه کې د انسان په فک
او ذهـن مشرکانه افکـار سـيوری شـوي وو، مخلـوق (Creations) د خالـ
(Creater) مقام خپل کړی و، انسان د بې شمېره خدايانو بنده ګرځېدلی و.
د دې په پايله کې د انسان ټول سوچ وران شو او پر مخ يې د ټولو پرمختګونو
ور وتړل شو.
له هغې وروسته د اسلام ظهور وشـو، د اسـلام اصـل نښـه دا وه چـې د شرک
ولکې په لمنځه وړلو يې توحيـد تـه د غلبـې مقـام ورکـړ، د اسـلام پيغمـبر او
صحابه وو بې بريده قربانيو په پايله کـې شرک د تـل لپـاره ختم کـړل شـو او
توحيد ته د غلبې مقام تر لاسه شو، دا انقلاب دومره پراخ او ځواکمن و چې
په تاريخ کې د لومړي ځل لپاره شرک لمنځه ولاړ او پر ځای يې د توحيـد د
پېر آغاز وشو.
دا د توحيد پېر نږدې تر يو زر کلونو پورې په ټول قوت سره روان و، له هغې
وروسته د نوي صنعتي تهذيب ظهور وشو.
دا تهذيب لومړی د اسلامي انقلاب تر اغېز لاندې په لوېديځه اروپا کې پيـدا
شو، له هغې وروسته يې اثرات ټولې نړۍ ته خواره شول، د دې تهذيب کومه

برخه چې بده ده، هغه د انسان خپل ازمايښت دی او بهتره برخه يې د اسلامي انقلاب د آغېزو تسلسل دی.

***

له حضرت مسيح وړاندې نړۍ کې څلور تمدن مرکزونه وو، ايران، چين، هند او يونان.

عباسي خليفه المنصور په ۷۶۲م کې د بغداد ښار جوړ کړ، هغه د مختلفو سيمو علماء او پوهان راټول کړل او له نورو ژبو د ژباړو دادېينه يې ورکړه.

د رياست په سرپرستۍ کې داکار پيل شو، په ۸۳۲م کې خليفه المامون په بغداد کې د بيت الحکمت House of Wisdom بنياد کېښود، د دې ترڅنګ يې يو کتنځی، يو کتابتون او يوه دار الترجمه جوړ کړل. دلته له نورو ژبو د عربي ژباړو کار په دومره پارخه کچه پيل شو چې د بغداد جوړېدو په همدې کال کې دننه د يوناني کتابونو زياته زېرمه د عربو لاس ته راغله. په عباسي پېر کې کاغذ جوړونه يو کورنی صنعت ګرځېدلی و؛ څکه خو په کثرت سره کتابونه وليکل شول وژباړل شول.

په لسمه پېړۍ کې د اسپين (قرطبه) په کتابتون کې له څلور سوه زره زيات کتابونه موجود وو، په هغه زمانه کې د اروپا دا حال و چې د کاتوليکي انسايکلوپېډيا له مخې کينټر بري کتابتون په ديارلسمه پېړۍ کې له څلو ۱۸۰۰ اتلس سوه کتابونو سره د مسيحي کتابتونونو په لړليک کې د لومړي مقام خای خپل کړی و.

په جغرافيه کې د نهمې عيسوي پېړۍ په لومړيو کې خوارزمي او ملګرو يې معلومه کړې وه چې د ځمکې محيط شل زره او نيم قطر يې ۶۵۰۰ ميله دی. دا صحت ډېر حيرانوونکی دی چې په اسلامي نړۍ کې دا هڅې په داسې زمانه کې کېدې، بل پلو ټوله اروپا د خورې ځمکې قايل وو. د دولسمې پېړۍ په منځ کې الادريسي د نړۍ يوه نقشه جوړه کړه. په هغه نقشه کې يې د نيل درياب منبع هم ښودلې چې اهلِ يورپ يې بيا په نولسمه پېړۍ کې د

موندلو ورې شول، مسلمانانو اهلِ یورپ ته د بال په شکل ځمکې عقیده او مل
و جزر (...د اوبو زیاتوالی او کمښت چې په سمندر کې د سپوږمۍ د
جذابیت له امله رامنځته کې) اسبابو سمه نظریه ولېږدوله، بطلیموس
(Ptelemy) د دویمې عیسوي پېړۍ مشهور یوناني عالم د فلکیات دی، هغه
د لمریز نظام ځمکې مرکزي Earth – Centred نظریه وړاندې کړې وه، په
دې موضوع یې کتاب المحبت (Almajest) ډېر مشهور دی.

د بطلیموس نظریه نږدې تر یو نیم زر کلو پورې په نړیوال ذهن سیورې و، تر
دې چې په شپاړسمه عیسوي پېړۍ کې کوپرنیکس او گلیلو او کپلر تحقیقاتو
د وروستي ځل په توگه دا ناسمه ثابته کړه، اوس په ټوله نړۍ کې هیڅوک
ددې منونکی نه شته.

د ځمکې تاوېدو په اړه د یوې غلطې نظریې تر دومره ډېرې مودې پورې
غالب اوسېدنې لامل په اصل کې د نامقدس هغه مقدس گرځولو غلطي وه
چې ځمکه یوه مقدسه کُره ده؛ ځکه چې هغه د خدای د زوی (مسیح)
زوکړې ځای دی، په دې بنا دا خبره یې د خپلو مفروضه او بې ځایه عقیدې
سره سمه تر سترگو شوه چې ځمکه گرده ده او ټول کاینات د دې چاپېر
گرځي.

د ځمکې د تقدس دا نظریه د مسیحي حضراتو لپاره په دې کې مانع شوه چې
لا یې ارزونه وکړي، تلاش وکړي، هغوی تر هغه وخته په دې ولاړ وو، تر
چې د حقایقو توپان د منلو لپاره اړ نه کړل.

برتانیکا انسایکلوپېډیا (۱۹۸۴) لیکلې دي چې د پخوانۍ نظریې کایناتو له
مخې ځمکه د کایناتو مرکز و، انسان د ځمکې تر ټولو لوړ مخلوق و او د
انسان نجات (د کفاره له لارې) په ټوله ځمکه د آسمان تر ټولو لویه مرکزي
پېښه وه، دا موندنه چې ځمکه له ډېرو سیارو یوه سیاره ده چې له لمر گرده
په خپل ځای تاوېږي او دا چې لمر د کایناتو په بې شمېره کهکشانونو کې
یوازې یوه ناقابل لحاظ ستاره ده، دې د انسان په اړه پخوانی (مسیحي) تصور

ومبوراوه، ځمکه د پراخو کايناتو په مقابل کې يوازې د يوه کوچني لرګي پوست تر سترګو شوه، نيوټن او نورو خلکو د دې پوښتنې تحقيق پيل کړ چې انسان د ذرې ذره ده؛ ځکه دا دعوه کولی شي چې ورته دا مقدس حيثيت تر لاسه دی چې هغه د دې منزل په خدايي نقشه کې د معراج حيثيت لري. (IV/522)

مسيحي حضراتو حضرت مسيح د مقدس خدايي تثليث يوه برخه ومانه او دا خوښې عقيده يې جوړه کړه چې د خدای زوی انساني کفارې لپاره په صليب ختل د تاريخ تر ټولو اهمه واقعه ده چې په ځمکه رامنځته شوه.

همدا شان ځمکې د دوی په اعتقادي خانه کې يو مقدس حيثيت ترلاسه کړ، د دې د هر داسې سوچ سخت ترين مخالف شول چې په هغې کې د ځمکې مرکزي حيثيت نه وي.

د مسيحي حضراتو دا عقيده د دوی لپاره د لمريز نظام په آزاده څېړنه کې حايل شوه، په دې توګه د نامقدس هغه مقدس ګرځول په پخوا زمانه کې د ټولو پرمختګونو دروازې تړلې وې، د سپوږمۍ مقدسه ګڼل په دې کې مانع وه چې انسان دې پرې د پښې ايښودنې فکر وکړی شي.

سيند مقدس ګڼل په دې کې مانع شو چې انسان يې په کارولو ترې برېښنا جوړه کړي.

غوا مقدسه ګڼل په دې کې مانع شوه چې انسان ددې د غوښې پروټيني اهميت په ګڼلو يې خپل خوراک وګرځوي.

دا ډول ټول د تحقيق و تسخير کار يوازې هغه وخت شروع شو، کله چې څيزونه د مقدس له مقامه لرې کړل شول او هغه يې دې کچې ته راوستل چې انسان ورته د يو عام څيز په توګه وکتلی شي.

له اسلام وړاندې ستوري يوازې د پرستش موضوع ګڼل کېده، له اسلامي انقلاب وروسته په لومړي ځل په لويه کچه انسان کتنځايونه جوړ کړل.

ځمکنۍ معدنياتو ته هم تر ننه د تقدس په نظر کتل.

اهلِ اسلام په لومړي ځل د کیمیا فن رامنځته کړ، ماده یې د تحقیق و تجزیې موضوع جوړه کړه، ځکه تر اوسه خدایي څیز ګڼل کېده (مثلا دا چې آسمان نر خدایګوتی دی او ځمکه ښځه خدایګوتې ده) مسلمانانو په لومړي ځل د دې په پیمانه کولو یې اوږده او ساره معلوم کړل، سمندر تر نه انسان د عبادت څیز ګاڼه، مسلمانانو په لومړي ځل دا په پراخه کچه د اوبو تېرېدلو په توګه وکاروه، توپان او هوا انسان ډېر له اسراره ډک څیزونه ګڼل او عبادت به یې کاوه، مسلمانانو دا په Windmill بدل کړ او ګټه یې ترې واخیسته، ونو ته یې عجیبه کیسې وتړلې، د تعظیم وړ یې ګڼلې.

مسلمانانو پرې تحقیق شروع کړ، حتی چې د بوټو په علمي لړلیک کې یې په مجموعي توګه د دوه زره ونو زیاتونه وکړه، کوم سیندونه او اوبه چې خلکو مقدس ګڼل او د خوشحالونې لپاره یې ورته خپل اولادونه نجونې او هلکان دننه وراچول، مسلمانانو له دې سیندونو او اوبو نهرونه او ویالې راپرې کړې، د اوبو پاشنې لپاره یې وکارولې او د کرهنې لپاره یې ببخې په نوي پېر کې راوستې.

په هغه زمانه کې مسلمانان له نورو قومونو دومره مخکې و چې کله مسلمانان له اسپېن وویستل شول، نو هلته یې مطالعې او کتنې ځایونه پرېښي وو چې له مخې به یې پکې د آسماني اجرام مطالعه کوله، د دې ځایونو کارونه د اسپېن عېسویانو نه پېژانده چې څنګه یې وکاروي؛ ځکه یې د کلیسا په ودانۍ بدل کړل.

دا حقیقت دی چې په پخوا زمانه کې په ټوله نړۍ کې د شرک او خیال پرستۍ غلبه وه او دا هم حقیقت دی چې همدا شرک او خرافات د هر ډول پرمختګ په لار کې خنډ ګرځېدلي وو، د اسلام له لارې د توحید کوم انقلاب چې راغی، هغه په تاریخ کې په لومړي ځل د شرک او خیال پرستۍ غلبه عملاً ختمه کړه، له هغې وروسته عین فطري پایلې په توګه انساني تاریخ د پرمختګ په لار روان شو.

CamScanner

په پخوا زمانه کې په ځینو هېوادونو کې ځینې تخلیقي ذهن Creative Mind پیدا شو، هغوی له ماحول نه ځانله شول او سوچ یې وکړ؛ مگر د ماحول د نابرابرۍ؛ بلکې مخالفت له امله یې هڅې مخته لاړې نه شوې. د هغوی د علم غوټۍ له سپړلو وړاندې په خپله ځانگه مړاوې شوې، ورژېدې.

اسلامي انقلاب چې کله د دې همغږۍ او یوه خوله ماحول پیدا کړ، نو د علم هغه سېلاب په ټول سرعت او شور سره وبهېده چې له زرگونه کلونو د شرک و او خیالي تابعدارۍ د بند تر شا ولاړ و.

## علم او اسلام

له لوی سکندر وروسته بطلیموس ثاني (Ptolemy II) د مصر واکمن و. د ده زمانه په درېیمه ق م پېړۍ کې ده، دی په ذاتي توگه د علم پلوی او ورته لوی احترام لرونکی و.

ده په اسکندریه کې یو کتابتون جوړ کړ چې پکې د مختلفو علومو نږدې پنځه سوه زره کتابونه وو، همدا هغه کتابتون و چې په تاریخ کې د اسکندریه کتابتون (Library of Alexandria) په نوم مشهور دی. دا کتابتون وروسته (له اسلامي پېر مخکې) لمنځه یووړل شو.

د دې کتابتون په اړه په ناسمه توگه دا الزام لگول کېږي چې د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه په حکم سوځول شوی و؛ حالانکه د اسلام له ظهور ډېر وړاندې په څلورمه عېسوي پېړۍ کې د دې وجود ختم شوی و.

برټانیکا انسایکلوپېډیا (۱۹۸۴) لیکلي دي چې د رومي حکومت لاندې تر درېیمې عېسوي پېړۍ پورې و (1/227) له دې وروسته پاتې نه شو.

حقیقت دا دی چې د دې کتابتون نیمه برخه جولیس سیزر (Julius Caesar) په ۴۷ق م کې سوځولې وه، په درېیمه عېسوي پېړۍ کې مسیحیانو په دې سیمه غلبه ترلاسه کړه، په دې دوران کې په ۳۹۱ء کې مسیحیانو دا وسوځاوه.

ښخي يې لمنځه يوړي، د دې خبرې اعتراف برټانيکا انسايکلوپيډيا په دې ټکو کړی دی:

These institution survived until the main museum and library were destroyed during the civil war of the 3rd century AD, a subsidiary library was burned by Christians in AD 391 (EB-1/479).

دوه ځايه په دې څرګند اعتراف سربېره په همدې انسايکلوپيډيا کې په درېيم ځل په نا اړينه توګه د کتابتون بربادي له مسلمان دور سره تړل شوې ده.

د «سنسرشپ» مقالې لاندې راغلي چې د دې خبرې مختلف ثبوتونه دي چې د اسکندريې کتابتون په بېلا بېلو وختونو کې وسوځول شو، په ۴۷ ق م کې د جوليس سيزر په لاس په ۳۹۱ء کې د مسيحيانو په لاس، په ۴۲۰ء کې د مسلمانانو په لاس، په وروسته دواړو وختونو کې دا ويل شوي چې په دې کتابونو سره مسيحيت يا قرآن ته خطر و.

There are many accounts of the burning, in several stages of part or all of the library at Alexandria, from the siege of Julius Caesar in 47 BC to its destruction by Christians in AD 391 and by muslims in 642. In the latter two instrances, it was alleged that pagan literature presented a denger to the old and new testaments or the quran. (EB-3/1084)

دلته د اسکندريه کتابتون لمنځه وړنې پېښه له اسلام سره منسوبول په هيڅ ډول سم نه دي، خپله د برټانيکا پورتني دوه اقتباسه د دې واضح ترديد کوي، اسلام عين د خپل فطرت له پلوه د علم ډاډېينه کوي، د علم له حوصلې ماتوني سره د اسلام هيڅ اړيکه نه شته.

ډاکټر فلپ هټي په خپل کتاب هسټري آف دي عربس کې ليکلي دي چې دا کيسه چې اسکندريه کتابتون د عمر خليفه په حکم لمنځه يووړل شو او د ښار

د حمامونو بټۍ تر شپږو میاشتو پورې د کتابتون په کتابونو سوځولو تودې وو. دا له هغو فرضي کیسو نه ده چې ښه کیسه مگر بد تاریخ جوړوي. حقیقت دا دی چې د بطلیموس عظیم کتابتون له اسلام ډېر وړاندې په ۴۸ ق م کې د جولیس سیزر په لاس سوځول شوی و. یو بل کتابتون چې د دې کتابتون یوه څانگه وه، هغه د شاه تودوسیس (Theodosius) په حکم په ۳۸۹ء کې وسوځول شو. د همدې لپاره د عرب فتحې پر مهال هیڅ یو د یادونې وړ کتابتون په اسکندریه کې نه و او هیڅ معاصر لیکوال کله هم د عمر خلیفه په خلاف دا الزام نه دی لگولی.

عبداللطیف البغدادي ۶۲۹هـ (۱۲۳۱م) مړ، په ښکاره لومړی شخص دی چې په وروسته زمانه کې یې دا فرضي او خیالي کیسه بیان کړې ده، داسې یې ولې وکړل، په دې نه پوهېږو. خو وروسته نقل شوه او وروستنیو لیکوالو زیات و کمه کړه او ښې خوره یې کړه.

Philip K. Hitti, History of the Arabs, London, 1970, P.166.

اسلامي تهذیب د توحید په اصولو قایم دی او په استثنایي توگه له نورو پخوانیو تهذیبونو مختلف دی. اسلامي تهذیب انسان ته د فکر آزادي ورکړه چې په تېرو ټولو تهذیبونو کې نه وه. په دې توگه د اسلامي تهذیب په ماحول کې علم ته د پرمختگ او ودې ورکوونې پوره موقعې ترلاسه شوې. په نورو پخوانیو تهذیبونو کې داسې وشوه چې علم او اهل علم د جبر او تشدد ښکار وگرځول شول؛ مگر په دې معامله کې اسلامي تهذیب له نورو تهذیبونو سره یو کول یې له شکه یو ښکاره تاریخي ظلم دی.

خبره همدومره نه: حقیقت دا دی چې د نوي ساینسي پېر آغاز کوونکې هم په حقیقت کې اروپا نه ده؛ بلکې اسلام و. دا یوه داسې تاریخي واقعه ده چې ترې مخ نه شي اړول کېدی. د اسلام په پېر کې علم ته قوت او ډاډ وبښل شو او په هره برخه کې لوی -لوی اهلِ علم او اهلِ تحقیق پیدا شول، د دې اعتراف په عام ډول مورخینو کړی دی.

پروفیسور هولټ (P.M. Holt) او نورو ختیځپوهانو د اسلام په تاریخ یو ضخیم کتاب تیار کړی دی، دا کتاب د کیمبرج هسټري آف اسلام په نوم په څلور ټوکه کې چاپ شوی دی.

The Combridge History of Islam

د دې کتاب په دویم ټوک کې یې په یوه څپرکي کې په تفصیل سره ښودلې ده چې په ماضي کې اسلام د لویدیځ په علومو او تهذیب ډېرې ژورې اغېزې پرېښې دي، د دې څپرکي نوم دی:

Literary Impact of Islam on the Moderen West.

له تفصیلي معلوماتو ورکوني وروسته مقاله لیکوال د دې څپرکي په پای کې لیکلي دي چې د منځنیو پېړیو پر مهال د علم څپې نږدې ټولې له ختیځه لویدیځ لوري ته رواني وې؛ بلکې اسلام د لویدیځ معلم شوی و:

...During the middle ages the trend was almost entirely from east to west (when Islam acted as the teacher of the west) (P.888-89)

بیرون کاراډي فاکس (Baron Carra de Vaux) یو فرانسوي ختیځپوه دی، هغه اعتراف کړی چې عربو رښتیا هم په ساینس کې لویې - لویې بریاوې ترلاسه کړې:

The Arabs have realy achived great things in science.

البته دوی وایي چې باید دا امید ونه ساتي، ګنې عربو کې هماغه وړتیا، هماغه علمي تخیل، هماغه جوش او هماغه فکر او نوښتونه به وي چې په یونانیانو کې وو، عرب تر ټولو لومړی د یونانیانو شاګردان دي، د دوی ساینس په اصل کې د یوناني ساینس یوه لړی ده.(The Legacy of Islam (1931)

مانټګومري واټ د دې بیان یادونه په (۲۲۶مخ) کې کړې ده، ددې خیال تردید یې کړی چې عرب یوازې یوناني ژباړن وو، هغه عربو ته له لېږدوونکیو ډېره لوړه درجه ورکړې ده، هغه لیکلي دي چې عربي ساینس او فلسفې د

اروپا په پرمختګ کې ډېره لويه برخه اخيستې ده.

Arabs Science and Philosophy... Contributed Greatly to Developments in Europ. (P.232)

مګر د دې ترڅنګ مانټګو مري واټ يوه بله داسې خبره کړې ده چې له لومړۍ هغې هم ډېره د اعتراض وړ ده، مانټګو مري واټ ليکلي دي چې په دې کې هيڅ شک نه شته چې عرب د يونانيانو شاګردان وو، په عربي کې ساينس او فلسفه د يوناني ژباړو له تحريکه راغله:

Science and Philosophy in Arabic came into existence through the stimulus of translation from Greek. (P.226)

د مانټګومري واټ دا بيان سم نه دی چې په عربو کې د ساينسي خيالاتو پيدا کېدو محرک يونان و، خبره داسې نه ده چې عربو يوناني ژباړې ولوستې له هغې وروسته پکې ساينسي طرز فکر راغی، سمه خبره دا ده چې په هغوی کې د قرآن او موحدانه عقيدې له لارې ساينسي طرز فکر راغی، له هغې وروسته يې د يوناني او نورو هېوادونو د کتابونو ژباړې وکړې، ترڅنګ يې په خپله له خپل تحقيق نه په ساينس و فلسفه کې زياتونه وکړه.

د تاريخ محققين وايي چې که څه هم له دې مخ نه شي اړول کېدی چې عرب په ساينس و فلسفه کې د يونانيانو شاګردان وو؛ مګر دا هم سمه ده چې هغوی يوازې د يوناني علومو ژباړونکي وو، هغوی د خپل ځان له خوا هم په دې کې ډېره زياته اضافه کړې ده. (مانټګو مري واټ، مخ ۲۲۶)

مثلاً عربو له يونان نه د طب علم واخيست، له هغې وروسته يې طب ته دا پرمختګ ورکړ چې طبي کالج او روغتون يې جوړ کړل چې له دې مخکې په يونان کې نه وو، په عباسي خلافت کې په بغداد کې د دنيا لومړنی کالج قايم کړل شو، په قاهره کې يو روغتون جوړ شو چې په يوه وخت پکې اته زره (۸۰۰۰) خلک اوسېدی شول، د نارينه او ښځينه لپاره پکې ځانله خونې جوړې شوې وې، په دې، ته‌ګه د مختلفو ناروغيو لپاره بېلې - بېلې اداري وې،

د هر مرض متخصص اړونده زده کړې ترلاسه کړې وې، په دې کې په نورو مختلفو انتظامونو سربېره لابراتوارونه او کلچر خونې هم وې. (مانټګو مرې واټ، مخ ۲۲۷)

په دې توګه عربانو په خپل تحقیق سره د طب په فن کې بې بریده زیاتونې وکړې، زکریا الرازي (۹۲۳م مړ) د نړۍ لومړنۍ طبي انسایکلوپېډیا «الحاوي» تیاره کړه، په دې ضخیم کتاب کې د هر ډول ناروغیو او درملو مفصله یادونه وه، دا کتاب له هغه وروسته یې شاګردانو بشپړ کړ، الرازي په دې کې د هرې ناروغۍ په اړه د شام، هند، ایران او عرب علماوو نظریات بیان کړي دي او بیا یې خپلې تجربې او خپل تحقیقات.

دا کتاب په لاتیني ژبه کې Continents په نوم ترجمه شو او بیا اروپا ته خور شو.

ابن سینا (۱۰۲۷م مړ) په عربو اطباء کې بې بریده لوی شهرت ترلاسه کړ، د هغه مشهور کتاب القانون في الطب په ۱۲مه پېړۍ کې لاتینۍ ته وژباړل شو، په اروپا کې چاپ شو، نوم یې Canon of Medicine و، دې کتاب ته په اروپا کې تر جالینوس او بقراط کتابونو هم ډېر شهرت ترلاسه شو، د ابن سینا کتاب د اروپا په طبي نړۍ تر شپاړسمې پېړۍ پورې غوړېدلی و، یوازې په ۱۵مه پېړۍ کې په اروپا کې د دې شپاړسم ۱۶ چاپ وشو، عرب طب د یوولسمې پېړۍ په آغاز کې خپل د عروج څوکو ته ورسېد او له هغې وروسته تر ۱۷مې پېړۍ پورې پاتې شو. (مانټګومري واټ، مخ ۲۲۸)

Montgomery Watt, The Majesty That Was Islam, London, 1984.

عبدالله بن البیطار (۱۲۴۸م مړ) د بوټو ډېر لوی ماهر و، فلپ هټي یې یادونه کړې ده، لیکلي دي چې ده د نباتاتو په اړه معلوماتو ترلاسه کولو لپاره د آسیا او افریقا لویې برخې سفر وکړ، د بې شمېره بوټو طبي اهمیت په اړه یې تحقیق وکړ او د هغو ذاتي تجربه یې وکړه.

عبدالله بن البیطار له تحقیق او تجربې وروسته دوه مفصل کتابونه ولیکل چې

په هغو کې نږدې د یو نیم زر بوټو په اړه معلومات راغلي دي، د ده کتابونه په خپله زمانه کې په دې موضوع تر ټولو جامع کتابونه وو. ۱۷۵۸ء کې د دې کتاب ترجمه لاتیني ژبه کې وشوه، له دې وروسته د البیطا تحقیقات په اروپا کې خواره شول او اهلِ یورپ ته د علمي رڼا ورکونې لار وګرځېده. (مخ ۷۶-۷۵)

له طب، فلکیاتو او ریاضي وروسته د مسلمان پېر تر ټولو لویه ساینسي لوړینه کیمیا ده، مسلمانو ساینسپوهانو د کیمیا علم له کیمیاګرۍ دایرې وویست او د یو باقاعده تجربوي علم درجه یې ورکړه، د همدوی له لارې نړۍ په لومړي ځل له ساینسي طریقې (Scientific Method) سره وپېژندل. همدا مسلمانان وو چې په فزیک علومو کې یې بهرنۍ تجربې ته دود ورکړ، دا د یونانیانو په تړلو قیاسونو یوه منل شوې ارتقاء وه.

د جابر بن حیان (۸۱۵ - ۷۲۱م) نوم له الرازي وروسته په منځنیو پېړیو کې د کیمیاوي ساینس په ډګر کې تر ټولو لوی نوم دی، فلپ هټي لیکلي دي چې جابر بن حیان د تجربې اهمیت له دې ډېر په واضح توګه ومانه او بیان کړ، څومره چې هیڅ یو پخواني کیمیا پوه نه و کړی، ده په کیمیا کې په نظري او عملي دواړو پلوه د یادونې وړ پرمختګ وکړ:

He more clearly recognized and stated the importance of experimentation than any other early alchemist and made noteworthy advance in both the theory and practice of chemistry. (P. 380)

د جابر کتابونو تر پنځلسمې عیسوي پېړۍ پورې په اروپا کې په کیمیا علم کې د وروستي سند درجه درلوده، د اتلسمې پېړۍ د پرمختللي لویدیځې کیمیا ابتدایي پړاوی جابر بن حیان جوړه کړې وه، ویل کېږي جابر بن حیان په مختلفو علومو نږدې دوه زره کتابونه لیکلي وو، له مسلمانانو مخکې بل داسې هیڅ لیکوال نه دی تېر شوی چې دومره ډېر علمي کتابونه یې لیکلي وي.

دا یوازې یو څو متفرق او نامرتبې حوالې دي، خو دا حواله د دې حقیقت
څرګندونې لپاره بسنه کوي چې اسلام د علم دښمن نه؛ بلکې اسلام د علم
سرپرست او ساتونکی دی، په پخوا زمانه کې د علم دښمنۍ روایت هغو
مذهبونو دود کړې چې په شرک او خیالي تابعدارۍ ولاړ وو. په داسې حالت
کې د دې هیڅ سوال نه شته چې اسلام دې د علم و تحقیق دښمن شي.
د علم پرمختګ د شرک مرګ دی، د دې لپاره مشرکانه مذهب د علم پر مخ
د خنډونو جوړولو کوشش کوي؛ مګر د توحید معامله له دې مختلفه ده، د
علم ترقي توحید لا پسې ثابت او مستحکم کوي، همدا لامل دی چې د
موحدانه علم پرمختګ پوره ډاډېنه کوي، په دې نکتې د لا پوهېدنې لپاره د
موریس بوکایي کتاب ([Maurice Bucaille [1920 – 1998) مطالعه بسنه
کوي. .The Bible, The Quran and Science

## اسلام همغږی ماحول ورکړ

په پخواني مشرکانه پېر کې چې کوم ماحول جوړ شوی و، هغه د خیالي
تابعدارۍ خورونې لپاره جوړ و؛ مګر د علمي او ساینسي- پرمختګ لپاره
بالکل همغږی نه و، همدا لامل دی چې په پخوا زمانه کې په هیڅ یوه هیواد
کې د علم او ساینس ترقي ونه شوه، دا کار په اغېزمنه توګه یوازې هغه وخت
پیل شو، کله چې اسلامي انقلاب پخوانۍ مشرکانه غلبه ختمه کړه او نوی
همغږی ماحول یې جوړ کړ.

## پخواني یونان

په پخواني یوناني ذهن تر ټولو زیاته غلبه له ځانه جوړو شویو کیسو وه
یوناني Greek Mythology یوه مفصله موضوع ده چې لوی -لوی کتابونه
پرې لیکل شوي دي، ان د «انسایکلوپېډیا آف ګریک مایتالوژي» په نوم په
دې موضوع یوه ځانګړې انسایکلوپېډیا هم شته.
په پخواني یونان کې د دیوانو او خدایګوټو په نوم بې شمېره عجیبه دول

کیسې مشهورې وې چې د یونان خلکو بالکل د حقیقت په توګه منلې، په داسې ماحول کې دا ممکن وه چې یو حقیقي ساینس پرمختګ وکړی شي، د شاعرانو او آرټیستانو خیال جوړونې لپاره دا ماحول جوړ و، خو په دوی کې په کثرت سره شاعران او هنرمندان پیدا شول؛ مګر د هغه ځای ماحول د علمي تحقیق لپاره جوړ نه و؛ ځکه خو علمي محققین یا د نن په ژبه ساینټیسټ هلته پیدا هم نه شول.

په پخواني یونان کې د هر څیز خدایګوتې و، د دې په اړه په هغوی طلسماتي (جادويي) تصورات خواره شوي وو، په داسې حالت کې د شاعرۍ او آرټ په څېر څیزونو د ترقۍ لپاره ورته فضا په پوره توګه برابره وه، خو دا چې په یونان کې او له یونانه بهر په نورو اروپايي هېوادونو کې داسې ډېر فن کاران پیدا شول چې یوناني افسانو ته ترې تحریک ترلاسه شو، آن په لویدیځ ادب یې هم اغېز تر ننه موندل کېږي (EB- 8/405 - 406)

یوناني تهذیب د پخوانۍ زمانې مشهور ترین تهذیب دی؛ مګر په اروپا کې یې د ساینس د عمل آغاز ونه کړی شو، دا کار یوازې هغه وخت شروع شو، کله چې د مسلمانانو په لاس ساینسي طرزِ فکر تر اروپا ورسېد، د شرک دا نظریه د پرمختګ مانع وه، د توحید نظریه فاتح پرمختګ وګرځېد.

## رومي تهذیب

د برټانیکا انسایکلوپېډیا (۱۹۸۴) مقاله لیکوال لیکلي دي چې له مسیحي پېر مخکې رومي سلطنت ټول میډیټرنین په دنیا غلبه ترلاسه کړې وه؛ مګر د علومو د مورخینو لپاره روم یوه معما ګرځېدلې وه، رومي تهذیب بې بریده زورور تهذیب و، په جنګي فنونو کې یې ډېر پرمختګونه کړي دي، د دې ترڅنګ د یونان تر علمي ورثې پورې په کې د دې نبغ په نبغه لاس و، په دې سربېره یې په خپل زر کلن پېر کې یو ساینسپوه هم پیدا نه کړی شو.

It failed to produce a single scientist. (EB-16/37)

مورخينو په ساينس کې د روميانو د بدترينې ناکامۍ لامل ښودنې کوښښ کړی دی، ويل کېږي چې ښايي د روميانو ټولنيز چوکاټ چې له اوږدې مودې د جادو په بې بريده بدو شکلونو راخرخېده، د فطرت د نړۍ په اړه بې د منظم علمي تحقيق په لار تلنه ورته ستونزمنه شوه، حقيقت دا دی چې کله يو شخص دا فکر کوي چې څومره لږ تهذيبونه داسې دي چې په کې ساينس ته وده ترلاسه شوه، نو په ذهن کې يې د پوښتنې ډول بدلېږي او هغه د روم له ساينس نه لرېوالی يوه عادي پېښه ګڼي او پخوانی يونان يوه تعجب ډوله نندارهگڼي چې توجيه يې سخته وي.(EB-16/367)

عام مورخين د دې پوښتنې کوم باوري ځواب ته ونه شول رسېدی؛ مګر د دې واضح ځواب هغه وخت معلومېږي، کله چې موږ په دې پوه شو چې رومي خلک په بُت پرستۍ اخته وو، دا په اصل کې شرک او بُت پرستي وه چې د روميانو لپاره د ساينس په ميدان کې په تحقيق و تفتيش Investigation کې خنډ شول، د څيزونو د تقدس عقيدې هغوی د څيزونو له تسخير ايسار کړل.

## يوه حواله

د برټانيکا انسايکلوپيډيا (۱۹۸۴) مقاله ليکوال د «هسټري آف ساينس» لاندې ليکلي دي چې د فطرت نړۍ ته نن په کوم نظر کتل کېږي، هغه په انساني تاريخ کې يو ډېر نوی څيز دی، په ماضي کې د لويو -لويو تهذيبونو لپاره دا ممکن شوه چې د علم، مذهب او قانون په ډګر کې پرمختګونه وکړي؛ مګر هغه وخت د ساينس اوسنی تصور ښخي نه و، د مصر، ميسو پوټاميه، هند او... په پخواني پېر کې همدا حال و، پخواني قومونه د ساينس په اړه معاند يا لږ تر لږه نااړوند ګرځېدلي وو، که څه هم نږدې دوه نيم زره کاله پخوا يونانيانو يو داسې فکري نظام پيدا کړ چې علمي (ساينټفيک) نظام ته ورته و؛ مګر په

وروسته پېړيو کې په دې کې لاکوم پرمختګ ونه شو، حتی چې په دې پوهېدونکي هغه هم نور پاتې نه شول. د ساينس عظيم طاقت او د ژوند په ټولو اړخونو د دې ژور اغېز بالکل يو نوی څيز دی. اروپايي ساينس بهر په روايتي توګه د يونان د فلسفو پر مټ شروع شو چې له شپږمې او پنځمې پېړی مخکې له مسيح سره اړيکه لري، د هغوی تحريرونه هم يوازې په جزي توګه زموږ په علم کې راتلی شي، هغه هم د هغو مصنفينو په لاس چې له دوی سلګونه کاله وروسته پيدا شول او په خپلو کتابونو کې يې د هغوی لنډې حوالې ورکړې. دا لنډې حوالې هم ډېرې تېروتنې لري؛ مثلا د تيليس فلسفي Thales قول نقل کېږي چې هر څيز اوبه دی، په ښکاره دا يوه علمي فقره ده؛ مګر د ده ټوله وينا مخته په اينبودو به يوه مشرکانه او خرافاتي عقيده معلومه شي؛ ځکه چې ټوله وينا داسې ده: هر څيز اوبه دی او نړی له خدايګوتو ډکه ده، په انګليسي-ترجمه کې د دې پوره فقره داسې په ګوته شوې ده.

All is water and the world is full of gods. (EB-16/366)

تيليس (Thales) د پخواني يونان يو فلسفي دی چې زمانه يې شپږمه پېړی مخکې له مسيح په ګوته کېږي، د يونان د نورو فلسفيانو په څېر د ده د حالاتو په اړه مستند معلومات نه شته، هغه که څه هم د نړی له اوو عقلمندو انسانانو (Seven Wise Men) يو دی، خو نن يې کوم کتاب خوندي نه دی او نه په دې اړه کوم معاصر تاريخ مونده شي. (EB-IX/920)

حقيقت دا دی چې يونانيانو او روميانو دواړو لپاره د ساينس په لار کې د مخته تګ خناه يوازې يو و او هغه د دوی مشرکانه مزاج و. د دوی شرک ترې حقيقت ته ژمن هغه ذهن اخيستی و چې د ساينسي تحقيق لپاره ضروري دی، په داسې حالت کې چې يې ترقي کولی، نو څنګه به يې کولی.

# د علم لوري ته سفر

یونان د اروپا یو هېواد دی، په پخوا زمانه کې دلته ډېر اعلی ساینسي- ذهنون
پیدا شول، په دې لړ کې یو نوم د ارشمیدس (Archimedes) و، ویل کېږي
ده د ابتدایي قسم ساده مشین؛ مثلاً چرخه (Water Screw) ایجاد کړ؛ مګر
عجیبه خبره ده د یونان دا ساینسي ذهن د برېښنا په څېر د لږ وخت لپاره بَل
شو، بېرته به ګل شو.

یونان یا پراخ یورپ یې د ساینس او صنعت پېر ته داخل نه کړی شو، خپله د
ارشمیدس انجام دا شو چې یوه رومي سرتېري هغه مهال ووژنه چې له شاره
لرې یې په شګو د ریاضي یو سوال حل کاوه.

د پخواني یوناني علم او نوې ساینسي اروپا ترمنځ ډېره اوږده علمي دمه
لیدل کېږي.

ارشمیدس خپله ماشیني چرخه په ۲۶۰ ق م کې ایجاد کړې وه او د آلمان
ګوټن برګ (J. Gutenberg) لومړنی ماشیني پریس په ۱۴۵۰ء کې ایجاد کړ،
د دواړو ترمنځ له یو نیم زر کلو ډېرې مودې واټن دی.

داسې ولې وشول؟ څه وجه ده چې د پخواني یوناني ساینس تسلسل په یونان
او اروپا کې پاتې نه شو؟

د دې ځواب دا دی چې له اسلامي انقلاب وړاندې هغه فضا نه وه چې پکې
د علمي تحقیق کار په آزاد ډول دوام وکړی شي. اسلام چې د توحید په بنیاد
کوم انقلاب راوست، له دې وروسته په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره داسې
وشول چې د دې میدان خنډونه لمنځه ولاړل او هغه همغږې فضا رامنځته
شوه چې په هغې کې د علمي تحقیق کار پرته له خنډ او ځنډ دوام وکړي.

علمي پرمختګ د یوه پرلپسې عمل نوم دی؛ مګر د یوناني علماوو کار د
زماني عدم موافقت په بنا د مسلسل عمل په شکل کې مخته لاړ نه شو، د لنډ
وخت څرک شو، له هغې وروسته په اوومه عېسوي پېړۍ کې چې کله اسلامي

انقلاب شرك او خيالي تابعداري له بېخه وويسته. نو د علمي پرمختګ د عمل لپاره همغږې موقعې ترلاسه شوې. اوس ساينسي تحقيق د يوه مسلسل عمل په صورت کې روان شو. تر دې چې ننني پرمختللي پېر ته راورسېد. د ماحول دې عدم موافقت له امله د يوناني علماوو کار تر ډېره پورې د ذهني سوچ په دايره کې محدود پاتې شو. تر بهرني تجربو ونه رسېد؛ مثلاً ارسطو د طبيعياتو په موضوع مضمونونه وليکل؛ مګر په خپل ټول ژوند کې يې يوه عملي تجربه هم ونه کړه.

د يوناني علماوو هلې ځلې په منطق کې خو تر سترګو کېږي؛ مګر په تجرباتي ساينس کې بالکل نه تر سترګو کېږي. د ساينس حقيقي آغاز هغه وخت کېږي چې کله د انسان دننه د تفتيش روح Spirit of Enquiry په آزاد ډول پيدا شي.

په پخوانۍ زمانه کې دا روح په انفرادي توګه او لنډ وخت لپاره ځای په ځای تر سترګو شو؛ مګر د ماحول د عدم موافقت له امله په لويه کچه پيدا نه شو.

د آزاد تحقيق لپاره د موافقت دا ماحول يوازې د اسلام د توحيد له انقلاب وروسته رامنځته شو. اسلامي انقلاب يو دم ټول ماحول بدل کړ او هغه برابره فضا يې پيدا کړه چې پکې په آزاده توګه د فطرت د تحقيق کار وشي.

د دې ساينسي فکر آغاز لومړی په مکه کې کېږي، له دې وروسته مدينې ته رسېږي، بيا د دمشق سفر کوي. بيا له دې نه په تېرېدو بغداد خپل مرکز جوړوي او ورپسې له اسپېن، سيسلي او ايټاليا نه په ا ووښتو ټولې اروپا ته رسېږي، همداسې پسې خورېږي، تر چې ټول نړيوال ذهن بدلوي.

د علم دا ارتقايي مزل له اسلامي انقلاب مخکې ممکن نه و. له دې مخکې ساينسي فکر يوازې په انفرادي يا ځايي کچه پيدا شو او د ماحول د عدم موافقت له امله ډېر ژر ختم شو.

اسلام په لومړي ځل د ساينسي پرمختګ لپاره همغږی ماحول ولوراوه.

# دویم څپرکی

## غیر خدای سپېڅلي ګڼل

ناتهن سودربلوم (Nathan Soderblom) په ۱۹۱۳ء کې ویلي و چې د مذهب بنیادي تصور (Central Nation) د تقدس عقیده ده، له هغه وخته تر ننه د مذهبونو د تاریخ مطالعه په پراخه پیمانه شوې ده، په الماني، انګلیسي او فرانسوي ژبو کې په کثیر تعداد کې محققانه کتابونه لیکل شوي دي، اوسني د مذهبونو علماوو نږدې ټولو اتفاق دی چې د مذهب بنیاد تخیل د تقدس (Holiness) عقیده ده، یانې په څیزونو کې داسې له اسرار ډک صفتونه یا طاقتونه منل چې په عامو انسانانو کې نه تر سترګو کېږي، یا د عامو عقلي اصولو له مخې چې توجیه یې نه شي کېدی، په انسایکلو پېډیا آف ریلیجس اینډ ایتهیکس کې په دې موضوع مفصل بحث د تقدس (Holiness) عنوان لاندې موجود دی.

د تقدس دا عقیده کوم فرضي څیز نه دی؛ بلکې د انسان په فطرت کې تر وروستیو ژورو پیوست دی، د دې د کارولو سم صورت د ادی چې سړی خپله دا جذبه یو خدای ته ځانګړې کړي؛ مګر اکثر داسې کېږي چې د انسان دا جذبه غیر خدای ته ګرځي، د تقدس جذبې کوم مخ چې په حقیقت کې د خالق لوري ته ګرځول په کار و، هغه مخلوق طرف ته کېږي، د دې لامل دا دی چې خدای یو غیبي حقیقت دی، انسان یې په خپلو سترګو نه شي لیدی؛ څکه داسې کوي چې په خوا و شا دنیا کې چې کوم څیزونه په لویه کچه تر سترګو کېږي، هماغه په مقدس ګڼلو سره یې عبادت کېږي.

همدا نفسیات دي چې په پخوا زمانه کې یې هغه څیز پیدا کړ چې د مذهب

په اصطلاح کې ورته شرک او په علمي اصطلاح کې ورتـه د فطرت پرسـتش (Nature Worship) ویل کېږي، د انسان د تقدس جذبې د انسـان لـه دننـه زور کاوه چې یو څوک مقدس وګڼي او پرستش یې وکړي، ده د هر هغه څیز پرستش شروع کړ چې په ښکاره ورته ډېر ستر او ممتاز ښـکاره شـوی؛ مـثلاً لمر، سپوږمۍ، ستوري، غرونـه، سـیند، اور، زلزلـه، ژوي او... د پیغمبرانـو د تعلیماتو له مخې د یوه لوی خدای تصور موجـود و، انسـان فـرض کـړه چـې خدای د آسمان په لوړو کې دی او دا ټـول څیزونـه یـې د لاس لانـدې هغـه دي.(EB-12/877)

د اوسنی زماني مذهبي علماء په عامه توګه همغږي دي چې د مذهب اصل د تقدس عقیده ده، یانې په ځینو څیزونو کې داسې مخصـوص صـفات یـا لـه اسرار ډک قوتونه منل چې په نورو کې نه مونده کېږي او د عامو عقلي اصولو له مخې چې توجیه یې ممکن نه وي.

له همدې نه د دې مقدس څیزونو په حق کې د وېرې او امید ذهن پیدا کېږي، د دې په مقابل کې انسان خپل ځان عاجز محسوسوي، فکـر کـوي دلتـه یـې برید پای ته ورسېد، دا مقدس څیزونه مختلف ډول کېدی شي؛ مـثلاً کـاڼي، ژوي، سمندر، لمر، سپوږمۍ او په دې توګه پاچا او مذهبي شخصیتونه او... انسان چې کوم څیزونه داسې سپېڅلي وګڼـي، پرستش یې کـوي، پـه نـوم یـې قرباني کوي، د خوشحالونې لپاره یې دودونه او رسـمونه نمـانځي، دې لپـاره چې له قهره یې خوندي شي او لورونې یې ځان ته متوجه کړي.

د برټانیکا انسایکلوپېډیا (۱۹۸۴) مقاله لیکوال لیکلي دي: د تقدس عقیده پـه پاکو خلکو کې ښکاره کېږي؛ لکه مذهبي مشر د مذهبي پرستش په عمل کې د ځانګړې لارې حیثیت لري، د دې رسمي اعـمال د خـدایي عمـل نماینـده ګي کوي، په دې توګه پاچا د آسمان و ځمکې ترمنځ ځانګړې کـړی ده، پـه دې بنا ورته د آسماني زوی یا خدایي وسلې په څېر لقب ورکول کېږي.

د علم الانسان چې کوم محققین تقدس (Holiness) د مذهب اصل په ګوتـه

کوي، په هغو کې د ځینو نومونه دلته د مثال په توګه راغلي دي:

Nathan Soderblom, Rudolf Otto, Emile Durkheim, Max Scheler, Gerardus Van der Leeaw, W. Brede Kristensen, Friedrich Heiler, Gustav Mensching Roger Caillois, Mircea Eliade.(EB- 16/124)

د مذهبونو نویو علماوو دا وینا سمه ده چې د مذهب بنیادي تخیل د تقدس (Holiness) عقیده ده، د تقدس دا جذبه په خپل ځای فطري جذبه ده؛ مګر کله چې له یو الله پرته کوم بل څوک یا څېز مقدس وګڼل شي، نو دا د اصل فطري جذبې ناسمه کارونه ده، همدا د هر ډول خرابیو اصل ریښه ده.

انسان چې کله نامقدس هغه مقدس ګڼي، نو د هر پرمختګ ور په خپل مخ تړي، د نامقدس هغو مقدس ګڼل دوه صورته دي، یو دی د فطرت مقدس ګڼل او بل په انسانانو کې د یو چا مقدس ګڼل، دا دواړه خرابۍ په پخواني تاریخ کې په ټوله نړۍ کې په یو نه یو شکل تر سترګو کېدې او همدا تر ټولو لوی سبب دی چې د انسان سوچ یې غیر علمي سوچ ساتلی و.

د تقدس معامله د انسان له ژور روان سره اړیکه لري او دا ډول روان په یو دوه ټکو کې بیانول بې بریده سخته ده، د ژورو انساني کیفیاتو لپاره چې کوم الفاظ کارول کېږي، هغه ټل علامتي وي؛ نه حقیقي.

دې واقعې ته په پام؛ اصولاً زه له دې خبرې سره همغږی یم چې د تقدس عقیده د مذهب خلاصه ده، البته دا تقدس حقیقي دی؛ نه دا چې د اوسنیو مذهبي علماوو په اند یوازې فرضي.

اصل دا دی چې دا یوه فطري جذبه ده چې په هر انسان کې په پیدایشي توګه وي، انسان عین د خپلې داخلي جذبې له مخې غواړي چې یو څوک یا څه مقدس وګڼي او ورته سر ټیټ کړي، ددې خبرې د اظهار دوه صورته دي، یو موحدانه اظهار او بل مشرکانه اظهار.

انسان که یو خدای مقدس ومني او خپل معبود یې وګرځوي، عبادت یې

وکړي، نو دغه يوه سمه جذبه په سم ځای وکاروله، دا په اصل کې يو خدای دی چې في الواقع د تقدس صفت لري، د همدې لپاره خدای مقدس ګڼل او منل د يوې حقيقي واقعي اعتراف دی.

مګر انسان داسې کوي چې په دنيا کې ورته هرڅيز ستر تر سترګو شي، يا ورته له ځان مختلف ښکاره شي، مقدس يې ګڼي او د هغه په پرتسش او درناوي اخته شي.

دا د يوې سمې جذبې ناسمه کارونه ده، دا ګويا کوم څه چې خدای ته ورکول په کار دي، هغه غير خدای ته ورکوي، د مذهب په ژبه د همدې نوم شرک دی، په نورو ټکو کې ورته موږ خيالي تابعداري (Superstition) ويلی شو.

له خدای پرته د نورو څيزونو مقدس ګڼلو همدا غلطي وه چې په پخوا زمانه کې د ساينس ظهور يې له زرګونه کلونو پورې ايسار کړی و، که يوازې اِک يو خدای ومنل شي، نو په دې سره هيڅ علمي او فکري مسئله نه پيدا کيږي؛ ځکه چې خدای زموږ د اختيار له دايرې وتلې هستي ده، هغه له آسمانونو ورهاخوا دی، د آسمانونو له نظره هم لرې دی، انسان خو لرې خبره ده.

مګر نور څيزونه چې مقدس ګڼل کيږي، هغه زموږ د اختيار د دايرې دننه څيزونه دي، دا هماغه څيزونه دي چې له تسخير سره يې حقيقتاً د ساينس آغاز کيږي؛ مګر کله چې مقدس وګڼل شي، نو هغه د تسخير وړ څيز له خانې په وتو د عبادت وړ څيز په خانه کې لويږي.

له خدای پرته په دې نړۍ کې چې کوم څه دي، هغه ټول مخلوقات دي، هغه همغه څه دي چې په عام ډول ورته د فطرت مظاهر وايه شي، همدا د فطرت مظاهر د ساينسي عمل ځمکه ده، د فطرت دې مظاهرو مطالعه کول او پرې کنټرول ترلاسه کول؛ د همدې دويم نوم ساينس دی.

اوس چون په پخوا زمانه کې ټولو قومونو د فطرت مظاهر مقدس ګڼلي وو؛ ځکه خو ورته د پرستش موضوع ګرځېدلې وه، هغه ورته د تسخير موضوع

جوړه نه شوه، همدا هغه فکري ګمراهي ده چې په پخوا زمانه کې د ساینس تحقیق عمل یې تر زرګونه کلونو ایسار کړی و، د پرمختګ دا دروازه یوازې هغه وخت ایله شوه چې کله د توحید انقلاب انساني ذهن بدل کړ او د فطرت مظاهر یې د تقدس له مقامه لرې کړل.

## یو مثال

د ماضي په نړۍ کې چې څه رامنځته شول، د هغې یوه کوچنۍ بېلګه نن هم په هندوستان کې شته دی.

هند د اوسنۍ نړۍ یوازینی هېواد دی چې شرک پکې نن هم په څواکمن ډول باقي دی، که څوک دا لیدل غواړي چې شرک په هیڅ صورت هغه ماحول جوړېدو ته نه پرېږدي چې هلته علمي تحقیق په آزاده توګه ادامه ولري، هغه د دې لږ تر لږه یوه برخه، بېلګه یا نمونه نن هم په هندوستان کې لیدلی شي.

په ۱۹٦۷م کې د دهلي په یوه انګلیسي ورځپانه کې د یوه هندي ساینسپوه مرکه چاپ شوه، دې مرکې په هېواد کې یو دَم غوغا جوړه کړه، په هغې کې ویل شوي وو چې هندوستان به تر راتلونکیو دوه لسیزو په لویه کچه د ذهني خوارځواکۍ خطر سره مخ وي، کـه د پروټیني لوږې د ستونزې حل کولو کوشش ونه شي:

India may have to face the denger of large – scale intellectual dwarfing in two decades if the problem of malnutrition and protein hunger was not tackled soon. (Statesman, Delhi, September 4, 1967)

دا الفاظ د ډاکټر ایم ایس سوامي ناتهن وو چې هغه مهال د هند په زراعت انستیټیوټ (نوي دهلي) کې مشر و، هغه زیاته کړې وه، ویل د متوازن خوراک تصور که څه هم نوی نه دی؛ مګر د دماغو د ودې په لړ کې د دې

اهمیت یوه نوې ژوندۍ موندنه ده، اوس دا خبره کره ده چې په څلور کلنۍ کې انساني دماغ له ۸۰ سلنې تر ۹۰ سلنې خپل ټول وزن ته رسېږي او که په دې نازکه موده کې ماشوم ته مناسب پروټین ونه رسېږي، نو دماغ به یې په شبه توګه وده ونه شي کړی.

ډاکتر سوامي ناتهن وویل چې که ناقصو خوړو او پروټیني لوږې ( Protein Hunger) په ستونزه بېړنۍ لاس په کار کېدنه ونه شي، نو به په راتلونکو دوه لسیزو کې موږ ته دا منظر تر سترګو شي چې له یوې خوا د متمدنو قومونو په ذهني طاقت Intellectual Power کې په سرعت سره زیاتونه کېږي او بل پلو زموږ په هېواد کې به ذهني ټرنه او کمزوري کېدنه زیاتېږي.

ځوان نسل له پروټیني فاقې ایستنې لپاره که بیړه ونه شي، نو دا سخته پایله به راوځي چې هره ورځ به یو میلیون ذهنيIntellectual Dwarfs رامنځته کېږي،د دې ډېر څه اثر به زموږ په راتلونکو نږدې نسلونو پرېوځي.

وپوښتل شو: د دې ستونزې حل څه دی؟

ډاکتر سوامي ناتهن د دې په ځواب کې وویل: حکومت ته په کار ده چې د خپلو کړنو له لارې په ولس کې پروټیني شعور Protein Consciousness پیدا کړي او په دې لړ کې عام نظر ته لار هواره کړي، د پروټین د اړتیا تخمینه مقدار او ډول دواړو له پلوه په کار ده چې کار وشي، د منځنۍ ودې لپاره د پروټینو په مرکباتو کې اتیا ډوله امینو اسیډ لرل اړین دي، په غېر لحمي خوړو کې ځیني قسم اسیډ مثلاً لایسین Lysine او میتونین Methonine شتون نه لرل عام دي، خو په جوارو کې د لیوسین ډېرېدنه په ډېرو سیمو کې د ناروغی سبب شوې ده چې د هغه ځای خاص خواړه همدا غله ده، که څه هم د حیواني غذا (شیدو) په لویه کچه کارول غوره کار دی؛ مګر تر لاسه کول یې ډېر ګران دي؛ ځکه چې نباتي خوړو ته د حیواني غذا شکل ورکونې لپاره ډېر زیات قوت له لاسه ورکول کېږي. (استېټسمین ۴ ستمبر ۱۹۶۷)

ډاکتر سوامي ناتهن د مرکې له خپرولو وروسته هندي رسنیو په (۷ ستمبر

۱۹۶۷) یوه خپرونه چاپ کړه چې عنوان یې و: پروټینې فاقه (Protein Hunger) په دې کې ویل شوي وو چې د هندوستان مرکزي حکومت چې کله د غلې په لړ کې د تایدي پالیسی غوره کولو پرېکړه وکړه، نو په مشکله دا شک کېده چې په غلې درلودو سربېره به پروټیني ولږه رامنځته کېږي؛ لکه د هند کرهنې د مطالعې انستیټیوټ مشر ډاکتر سوامي ناتهن چې وړاندوینه کړې ده، په غله به د ډېر باوره داسې حالت رامنځته شي چې ښه د خوراک ښنباک خلك به هم ترې په ناقصه تغذیه اخته شي، کوم خلك چې له پروټیني ولږې سره مخ شي، په جسماني تکلیفونو سربېره به یې په ذهنونو د دې اغېزې وي او د ماشومانو ذهني صلاحیت به په سمه توګه وده ونه شي موندی.

هندي اکسپریس لا لیکلي وو چې دې ته په پام په اوسنۍ کرهنیزه پالیسی د بیا کتنې اړتیا ده؛ مګر اصل ستونزه د هغو برید تړنو (Limititions) ده چې حکومت به یکې کار کوي.

کرهنیز پیداوار په حیواني پروټینو بدلول بې بریده ګرانه ده، حکومت که څه هم د متوازن خوراك او غوښې، هګۍ او ماهیانو د ډېرې کاروني یوه برنامه مخته وړې ده؛ مګر په دې سربېره ولس د خپلو خوراکي عادتونو ( Food Habits) په بدلونې کې سست دي. (انډین ایکسپریس ۷ ستمبر ۱۹۶۷)

د ډاکتر سوامي ناتهن پورتنی بیان چې په ورځپاڼو کې چاپ شو، نو په هند کې یوه غوغا جوړه شوه، حتی ځینو سخت دریځو خلکو غوښتنه وکړه چې ډاکتر سوامي ناتهن دې له کرهنیز انستیټیوټ دندې استعفاء ورکړي؛ ځکه چې دی د دې قومي اداري د صورت لپاره وړ نه دی، له دې وروسته ډاکتر سوامي ناتهن بالکل غلی شو او خبره مخکې لاړه نه شوه، د دې لامل دا دی چې د هندوستان په روایتي مذهب کې وژنه تر ټولو لویه ګناه ده او دا چې غوښه د خوړو لپاره ژوی حلالېږي، د همدې لپاره سبزي خوړنه (Vegetarianism) معیاري خوراك ګڼل شوي دي، په ځانګړې توګه غوا دلته په روایتي مذهب کې یو مقدس ژوی دی، په رګ وید کې غوا ته

خدایګوتې (دېوي Goddess) په ګوته شوې ده.(EB-3/206)

له دې مثال نه اندازه کېږي چې غیر موحدانه عقیده څه ډول په انساني پرمختګ کې خنډ ګرځي.

هندوستان یو داسې هېواد دی چې بې شمېره وسایل او امکانات لري، په دې سربېره تر ننه په سمه توګه پرمختللی هېواد جوړ نه شو، د دې یوازینی لامل دا ډول مشرکانه بندیزونه دي چې د دې د ترقۍ لار یې تړلې ده، دا لار به تر هغه وخته تړلې وي، تر چې ملک له دې غیر حقیقي بندیزونو آزاد نه کړل شي.

## د ساینس ظهور

د اروپا په تاریخ کې له شپږمې عېسوي پېړۍ تر لسمې عېسوي پېړۍ زمانې ته د تورتم پېر (Dark Ages) وایه شي، دا هغه زمانه ده چې اروپا په پوره توګه له تهذیب و تمدن نه په بشپړ ډول لرې وه، دا د اروپا لپاره د ذهني تورتم او وحشت پېر و:

A Period of Intellectual Darkness and Barbarity (EB-3/380)

مګر د دې تیارو د پېر اړیکه یوازې له اروپا سره وه، عین هغه وخت کله چې په اروپا د «تیارو پېر» تورتم خور و، په اسلامي نړۍ کې رڼا په پوره توګه وه، د برتریندرسل په خبره تیک په هغه زمانه کې له هندوستانه تر اسپین. د اسلام عالي شان تهذیب په ظهور کې راغلی و:

From India to Spain the Brilliant Civilization it Islam flourished. (P. 395)

دا اسلامي تهذیب چې سسلي او اسپین ته په ننوتو اروپا ته رسېدلی و، د اروپا خلك يې اغېزمن کړل، د لویدیځې اروپا محصلین د اسپین په اسلامي پوهنتونونو کې د زده کړو لپاره را روان شول، د مسلماني نړۍ ډېر خلك ووتل اروپا ته ورسېدل، کله چې اروپایانو ته معلومه شوه مسلمانان د علم له پلوه

ترې ډېر مخکې دی، نو د مسلمانانو د کتابونو ترجمې يې لاتيني ژبې ته پيل کړې. د (برټانيکا انسايکلوپيډيا ۱۹۳۴) مقاله ليکوال ليکلي دي: هغه وخت په مسلمانانو کې داسې کتابتونونه وو چې د کتابونو شمېر يې له سل زرو (۱۰۰,۰۰۰) ډېرو جلدونو و، هغه ټول بنيادي ليکچرونه چې اروپا يې راپورته کړه، هغه د مسلمانو کتابتونونو له عربي کتابونو ترجمو څخه تر لاسه کړي وو:

Most of the Classical Literature that Spurred the European Renaissance was obtained from Translation of Arabic Manuscripts in Muslim Libraries. (EB-15/646)

په اوسني زمانه کې په کثرت سره داسې محققين پيدا شوي دي چې په واضحو ټکو يې ددې واقعې اعتراف کړی دی چې د عربو د تحقيقاتو له لارې په اروپا کې د نوي ساينس پېر پيل شو، مثلاً ګستاولي بان، رابرټ برينالټ، جي ايم رابرټس، مانټګومري واټ او... په دې لحاظ دا ويل سم دي چې دلته کومه خبره کېږي، هغه په نړيواله کچه يوه منل شوې خبره ده، توپير يوازې دا دی چې نورو خلکو چې کومه واقعه په «تاريخ» کې ليکلې ده، د هغې اړوند زموږ خبره دا ده چې په «اسلامي تاريخ» کې دې وليکل شي، د انسان له خانې دې وويستل شي، د خدای په خانه کې دې واچول شي.

## ځو مثالونه

په پخوا زمانه کې د مشرکانه عقايدو لاندې څيزونه مقدس ګڼل شوي وو، دې ذهن د څيزونو په اړه د آزاد غور و فکر وَر تړلی و، د توحيد انقلاب په تاريخ کې په لومړي ځل د آزاد غور و فکر ماحول پيدا کړ، په هره معامله کې پرته له هر ډول خنډ و ځنډ تحقيق او مطالعه پيل شوه، په دې توګه د توحيد انقلاب په تاريخ کې په لومړي ځل په باقاعده توګه د ساينسي غور و فکر

بنیاد کېښود، له دې وړاندې هم که څه هم په انفرادي کچه ځینو اشخاصو د ساینس تحقیق کړی و؛ مګر د ماحول نه جوړېدو له امله ورته هرکلی ونه شو او کار یې مخته لاړ نه شو.

د نوي ساینس بنیاد په تجربو دی؛ مګر په پخوا زمانه کې مختلف قسم خرافاتي عقاید د تجربو په لار کې خنډ ګرځېدلي دي.

جابر بن حیان (۸۱۷م مړ) د تجربې اهمیت درک کړی و او هغه یې په علمي مطالعه کې وکاراوه.

د هغه تحریرونه وژباړل شول، اروپا ته ورسېدل، دې ذهن پرمختګ کاوه. تر څو چې هغه ځېزونه رامنځته شول چې په اوسنۍ زمانه کې ورته د تجربې علم Experimental Knowledge وايي.

په ننني زمانه کې دا منل کېږي چې ځمکه د لمر چاپېره په کړۍ دایره کې نه ګرځي؛ بلکې بیضوي شکل په مدار کې ګرځي، د سیارو دا مزل نن د کېپلر دریيم قانون (Kepler's Third Law) په نوم مشهور دی؛ مګر دا کایناتي واقعه چې په لومړي ځل چا موندلې، هغه ابو عبدالله محمد بن جابر النباني (۹۲۹م مړ) دی، هغه د خپلو فلکیاتي مشاهدو له لارې دا حقیقت معلوم کړ او په دې اړه یې کتاب ولیکه، د دې کتاب په ژباړلو سره اروپا ته ورسېد او د نوي تجرباتي ساینس راڅرګندولو سبب وګرځېد. ابو علي حسن بن الهیثم (۱۰۲۱م مړ) په تاریخ کې لومړنی شخص دی چې په مادي اجسامو کې یې د جمود Intertia تصور وکړ، د هغه دا موندنه وژباړل شوه، اروپا ته ورسېده، د هغه ځای اهلِ علمو دا ولوسته او په دې یې لا ځېړنې وکړې، تر څو چې هغه ځیز په وجود کې راغی چې د هغې د مادي اجسامو د حرکت په اړه د نیوټن د لومړني قانون په نوم مشهور دی. دا په اصل کې همدا ابن الهیثم دی چې په لومړي ځل یې دا وموندله چې رڼا له یوه ځایه بل ځای ته وړنې لپاره داسې لار ټاکي چې پکې لږ تر لږه وخت ولګي، همدا موندنه ده چې په شته زمانه کې د فرما د اصولو (Fermat's Principle) په نوم تووله نړۍ کې مشهوره ده.

# د ځمکې عمر

په ځمکه د انسان د ظهور غوڅ تاریخ ساینسپوهانو تـه معلوم نـه دی؛ البتـه داسې انساني جسدونه یې موندلي چې په اړه یې باور دی چې لـس زره کالـه له مسیح وړاندې دي، په دې بنیاد په دې معامله کې د بایبل بیان ساینس نـه مني، د بایبل کتاب په زوکړه کې د انسـان نسـلونو چـې کـوم تاریخونـه ورکـړ شوي دي، له دې سره سم پر ځمکه د آدم راڅرګندېدل لـه حضـرت مسـیح اووه دېرش زره کاله مخکې وشول، حتی چې د ۱۹۷۵ په عبراني جنتري کـې یې په حساب لګولو سره په ګوته کړې وه چې انسان لـومړی پـه ځمکـه پـه ۳۶۵۷ کاله وړاندې راڅرګند شو، د نوي ساینس په اند دا حساب تر خنـدا وړ بریده غلط دی.

عېسوي حضراتو په دې توګه د ځمکې ټول تاریخ له بایبل سره سم یوازې پـه څو زره کالو کې راټول کړی و، د دې حسـاب پـه سـاینسـي توګـه غلطېـدنې څرګندونه په اتلسمه پېړۍ کې د جیمز هټن (James Hutton) له څېړنو وشوه چې د طبقات الارض ماهر و.

ده خپل ټول عمر د ځمکې او غرونو د جوړښت په مطالعه تېـر کـړ، ده ثابتـه کړه چې ځمکه په خپل اوسني شکل کې سلګونه زره کلونو کې جوړه شـوې ده، لـه ده وروسته پـه ۱۹مـه پېړۍ کـې د چـارلس لایـل (Charles Lyell) مشاهدو د هټن د نظریې لا تصدیق وکړ، د چارلس لایـل مشـهور و معـروف کتاب طبقات الارض اصول (Principles of Geology) چې لومړی جلد یې په ۱۸۳۰م کې چاپ شوی، هغه تر ډېـره بریـده د دې سـبب وګرځېـد چـې د بایبل حسابي پیمانه د سنجیده بحث وړ پاتې نه شوه، حقیقـت دا دی چـې د لایل د کتابونو پایله وه چې پراخه نړۍ په دې ډاډمنه شـوه چـې د بایـبل بیـان غلط کېدلی شي، خو له دې مخکې دا د قیاس وړ نه وه چې د بایبل بیان دې غلط وګڼل شي.

Indeed, Lyell's Books were Largely Responsible for Convincing the World at Large that the Bible could be Wrong at any Rate in Some Respect, a Hither to Unthinable Thought. (P. 29)

دا ډول نظريات د اروپا په علمي پرمختګ کې خنډ وګرځېدل، هر شخص چې له دې مختلف نظر وړاندې کړ، هغه يې په نامقدس ګڼلو سره ورته مستوجبه سزا وټاکله؛ مګر په اسلام کې دا ډول غير واقعي نظريات موجود نه وو، همدا لامل دی چې په اسپين کې کله د اسلام د اثر لاندې د ساينسي تحقيق کار پيل شو، نو هلته ورته د مذهب له خوا کوم مخالفت پېښ نه شو.

## يوناني علوم

د اروپا نوی پرمختللی پېر په ۱۷-۱۴مو پېړيو کې پيل شو چې په عام ډول ورته ريناسان، رينسانس (Renaissance) وايه شي، د دې معنا رينسانس (Rebirth) يا له سره ژوند Revival ده. اهلِ يورپ د خپل دې پېر اړيکه له يوه لويديځ هېواد يونان سره تړي، هغوی ښکاره کوي چې د اروپا نوی پېر په اصل کې د يونان د پخواني پېر بيا راژوندي کول دي؛ مګر حقيقت دا دی چې دا يوازې «ژوندي کول» دي، نه «بيا راژوندي کول».

هغه د اروپا په تاريخ کې په لومړي ځل رامنځته شو، دا چې مصنف مزاجه محققينو منلې ده چې د لويديځ ريناسان نېغ په نېغه د عربو دين دی، بريفالټ ليکلي دي: زموږ د ساينس لپاره د عربو دين يوازې دا نه دی چې هغوی انقلابي نظريات ورکړل، د ساينس لپاره د عربو کولتور دين له دې هم ډېر دی، هغه د عربو لپاره د عربو شپه ورځ زيار دی:

The debt of our Science to that of Arabs does not Consist in Starting Discoveries of Revolution are theories. Science owes a Great Deal more to Arab Culture, if owes its Existence.

(Making of Humanity, 190)

بریفاټ زیاتوي چې دا ډېره قرین قیاسه ده چې بې لـه عربـو نـوی صـنعتي تهذیب دې له سره پیدا شوی نه وای.

It is highly probable that but for the Arabs, Modern Industrial Civilization Would Never have Arisen at all. (P. 202)

د برتانیکـا انسـایکلوپیډیا (۱۹۸۴) مقالـه لیکـوال لـیکلي دي چـې کتـابتون د اسلامي ټولنې یو مهم اړخ و، په کثرت سره داسې اداري وې چې تر سـل زره زیات کتابونه به پکې وو، هغه بنیادي لټریچر چې د اروپا رینسانس یـې پیـدا کړ، د دې لویه برخه د مسلمانو کتابتونو عربي کتابونو لـه ژبـاړو ترلاسـه کـړې وه.

Most of the Classical Literature that Spurred the European Renaissance was Obtained from Translations of Arabic Manuscripts in Muslim Libraries. (EB- 15/646)

د ځینو خلکو په اند د عربو کارنامه که ښځي ډېره شي دا ده چې یونـاني علـم یې د ژباړې له لارې اروپا ته ولېږده، پروفیسور هټي لیکلي دي چې د یوناني کولتور څپه د اسپین او سیسلي عربو په لاس اروپا ته وګرځول شوه چې هلتـه یې د اروپا بیا ژوند په ورکولو کې لاس ورکړ:

This Stream (of Greek Culture) was Redirected into Europe by the Arabs in Spain and Sicily, Whence if helped Create the Renaissance of Europe. (P.307)

مګر دا خبره سمه نه ده؛ ځکه چې له یوناني فلسفیانو نه عربو ته کوم څیز پـه لاس ورغلی و، هغه نظري بحثونه وو، نه تجرباتي علم.

په نورو الفاظو، هغوی له یونانیانو فلسفه موندلې وه، له یونانیانو یې ساینس نه و ترلاسه کړی؛ ځکه چې ساینس لـه یونانیـانو سره ښځـي نـه و، سـاینس یـا تجربوي علم د مسلمانانو ایجاد دی، هغوی دې علم ته په تاریخ کـې لـومړی

ځل ورسېدل او د اروپا په ګډون يې نورو قومونو ته ولېږداوه.
برټرينډ رسل په سمه توګه ليکلي دي چې ساينس د عربو تر وخته دوه اړخه درلودل. (۱). مونږ يې د دې وړ وګرځولو چې په څيزونو پوه شو. (۲). مونږ يې د دې وړ کړو چې کارونه وکړو.
يونانيان د ارشميدس په استثنا، په دې دوو کې يوازې له لومړي څيز سره دلچسپي درلوده، د ساينس په عملي کارولو کې دلچسپي لومړی د جادو، شرک و خيالي تابعدارۍ له لارې راغله:

Science, ever since the time of the Arabs, has had two functions: (1). To enable us to know things, and (2). To enable us to do things. The Greeks, with the exception of Archimdes were only interested in the first of these... interested in the first of these... Interest in the practical uses of science came first through superstition and magic. (The impact of science on society, P. 29)

برټرينډرسل زياتوي چې د نن يوه زده کړيال ته يو پرانستی حقيقت معلومېږي چې د يوې خبرې له منلو وړاندې د مشاهدې له لارې د هغې څېړنه وشي. نه چې يوازې په تقليدي توګه ومنل شي؛ مګر دا په پوره توګه يوه نوې خبره ده چې په مشکله له ۱۷مې پېړۍ وړاندې يې خپل وجود درلود. ارسطو دعوه وکړه چې د ښځو په خولو کې لږ غاښونه وي، که څه هم خبله يې دوه ودونه کړي وو، داسې يې ونه کړل چې د خپلې ښځې خوله وګوري او د مشاهدې په بنياد خپل نظر وړاندې کړي. برټرينډرسل دا ډول ډېر مثالونه ورکړي دي. ليکلي يې دي چې ارسطو له تحقيق پرته ډېرې داسې خبرې کړې دي او ورسته خلکو هم د دود په څېر بې له څېړنې دا خبرې تکرار کړې دي.(مخ. ۱۷)

# ذهني دېوال

د ساینس لپاره اړینه ده چې د ځیزونو په ماهیت پوهېدنې لپاه لـه ژورتیـا سره یې مشاهده او تجربه هم وشي؛ مگر په یونانیانو کې او نورو پخوانیـو قومونـو کې د دې ماحول نه و؛ ځکه چې له خدای پرته په نـورو ځیزونـو کـې هـم د تقدس منلو له مخې داسې وشول چې ټول ځیزونه د خلکو په نظر کې مقدس او له اسراره ډک شول، د دې په پایله کـې پـه هـر قـوم کـې جـادو او خیـالي تابعداري او د غیرالله تقدس عام رواج شوی و، دا ذهن د ځیزونو به ساینسـي تحقیق کې مانع وگرځېد، که د خلکو په ذهن کې دا عقیده کېناستلې وي چې پیښې د جادو په زور کېږي، یا په ځیزونو کې له اسرار ډک قسم خـدایگوټې اوصاف پټ وي، نو په داسې حالت کې پکې د تحقیق ذهن نـه شـو راپورتـه کېدی، په داسې حالت کې به هغه ځیز راپورتـه کېږي چـې برټرینډرسـل لـه جادو او شرک سره تعبیر کړی دی.

د پخوا زمانې عرب په خپله هم په دې ډول کارونو اخته وو، دا چارې د نورو قومونـو پـه څېـر خپلـه د دوی لپـاره هـم يـو ذهنـي دېـوال Mentel Blocks گرځېدلی و، د اسلام له لارې چې کله پکې فکري انقلاب راغی، نو دا دېوال راونړېد، نور نو ځیزونو ته یوازې د ځیزونو په توگـه کتـل کېـدل چـې تـر دې وړاندې ورته مقدس ښکاره کېدل.

همدا هغه فکري انقلاب دی چې په عربو کې يـې پـه لـومړي ځـل ساينسـي ذهن پیدا کړ او په دې کې په پرمختگ کولو سره ټولې نړۍ تـه د ورکـونې وړ وگرځېد چې اوس ورته ساینس وایه شي.

# طبيعي علوم

آرنلډ ټواين بي دا پوښتنه راپورته کړې چې ساينس د فطرت کارولو علم دی.
دا فطرت له ميليونو کالو نه زموږ په نړۍ کې و.
بيا د فطرت کنټرولولو او د انسان لپاره په کارولو پکې دومره ځنډ ولې وشو.
بيا يې په خپله ځواب ويلی چې په پخوا زمانه کې فطرت د انسان لپاره د پرستش موضوع ګرځېدلی و او کوم ځيز چې انسان د پرستش ځيز وګڼي، عين همغه وخت يې د کارولو او تسخير ځيز نه شي ګڼلی.
آرنلډ ټواين بي پرځای ليکلي دي چې د پخوا انسان لپاره فطرت يوازې فطري لارې د يوې زېرمې په معنا نه وې؛ بلکې خدايګوټی و او په ځمکه خواره شوي بوټي، د دې په کچه ګرځېدونکي ژوي، پکې پټ معدنونه، ټول هرڅه د خدايي اوصافو درلودونکي وو، همدا حال د ټولو فطري مظاهرو و. چينې او ويالې او سمندر، غرونه، زلزلې او برېښنا او تندر، ټول خدايګوټي او خدايګوټې وې، همدا په پخوا زمانه کې د ټولو انسانانو مذهب و:

For (the ancient man) nature was not just a treasure trove of "natural resources" but a goddess, "mother Earth". And the vegetation that sprang from the earth, the animals that roamed the earth's surface, and the minerals hiding in the earth's bowels, all partook of nature's divinity. So did allnatural phenomenon – springs and rivers and the sea; mountains; earthquakes and lightening and thunder. Such was the original religion of all mankind.

(Arnold J. Toynbee, Reader's Digest, March 1974)

کوم فطرت ته چې انسان د معبود په نظر ګوري، هغې ته د تحقيق او تسخير په نظر نه شي کتلی، ټواين بي د يادې تاريخي واقعې څرګندونه کړې،

اعتراف کوي چې د فطرت د تقدس هغه پېر چې چا لمنځه يووړ هغه د توحيد (Mnotheism) عقيده وه، د توحيد عقيدې فطرت د معبود له مقام وپرځاوه، د مخلوق پر ځای يې کېښود، د فطرت مظاهر د پرستش څيز ګڼلو پر ځای يې د تسخير څيز وګڼل.

د توحيد دا نظريه په تېر پېر کې ټولو پيغمبرانو وړاندې کوله، خو د تېرو پيغمبرانو په زمانه کې د توحيد تحريک يوازې تر شخصي اعلانه محدود و، د عام انقلاب مرحلې ته ونه رسېد.

د اسلام پيغمبر صلی الله عليه وسلم او صحابه وو هڅو د توحيد عقيده د عام انقلاب تر بريده ورسوله، له دې وروسته د دې لازمي پايلې په توګه د فطرت په اړه د تقدس ذهن ختم شو، اوس انسان فطرت ته په دې نظر کتل پيل کړل چې پرې پوه شي او په کار يې راولي، دا عمل پرلپسې روان و، تر چې ننني ساينسي پېر ته راورسېد.

د برټانيکا انسايکلوپېډيا (١٩٨۴) مقاله ليکوال د عملي ساينس تاريخ له مخې ليکلي دي چې يوناني ساينس له دويمې عيسوي پېړۍ وروسته د تعطل ښکار شو؛ ځکه د روميانو ورسره هيڅ دلچسپي نه وه.

ټولنيز فشار، سياسي سختي او د چرچ د مسوولينو مخالفې پاليسی دا پايله شوه چې يوناني علماء د خپل وطن په پرېښولو ختيځ لوري ته ولاړل، په اوومه عيسوي پېړۍ کې کله چې اسلام ته عروج وشو، خو په اسلامي نړۍ کې بالاخر دې ډول علماوو ته هرکلی وشو، زياتره يوناني کتابونه عربي ته وژباړل شول.

عربو په پخواني يواني علم ډېرې مهمې زياتونې وکړې، په دولسمه او ديارلسمه پېړۍ کې چې کله په لويديځ يورپ کې له يوناني علومو سره دلچسپي پيدا شوه، نو اروپايي اهلِ علم د ساينسي علومو ترلاسه کولو لپاره مسلمان اسپېن (هغه وخت اسپېن د مسلمانانو په لاس کې و؛ ځکه ورته مسلمان اسپېن وايه شي) ته لاړل.

د عربي کتابونو له لاتيني ترجمو نه په لويديځه اروپا کې د ساينس احياء وشوه.

د منځنيو پېړيو دا اهلِ علم د کمال درجې ته ورسېدل او د ۱۴مې او ۱۷مې پېړۍ د ساينسي انقلاب ځمکه تياره کړه:

Scientists of the Middle Ages reached high levels of sophistication and prepared the ground for the scientific revolution of the 16th and 17th centuries. (EB-14/385)

موسيوليبان (Charles – Marie Gustave Le Bon, 1841 - 1931)په «تمدن عرب» کې ليکلي دي چې اروپا ته عربي علوم د صليبي جنګونو له لارې ونه رسېدل؛ بلکې د اندلس، سسلي او ايټاليا له لارې ورسېدل، په ۱۱۳۰ کې د طليطله ريس الاساقفه ريمون «Remond» په سرپرستی د ژباړونکو يوه اداره رامنځته شوه چې د بېلا بېلو فنونو مشهورو عربي کتابونو ژباړه په لاتيني ژبه کې وشوه، په دې ژباړو سره د اروپا سترګو ته يوه نوې نړۍ ښکاره شوه.

تر ۱۴مې پېړۍ د دې ژباړې لړۍ ادامه درلوده، نه يوازې د رازي، ابن سينا او ابن رشد کتابونه؛ بلکې جالينوس، بقراط، افلاطون، ارسطو، اقليدس، بطليموس او... کتابونو هم له عربي ژباړو سره لاتيني ژبو ته ژباړه وشوه، ډاکټر ګلکرک په خپل تاريخ کې له درې سوه ډېرو عربي کتابونو د لاتيني ژباړو يادونه کړې ده. (تمدن عرب)

نورو لويديځو علماوو لا په ازاده توګه د دې تاريخي حقيقت اعتراف کړی دی؛ مثلاً رابرټ بريناليټ (Robert Stephen Brittault, 1874 - 1948) ليکلي دي چې يونانيانو سيستم پيدا کړ، هغوی تعميم کړه او اصول يې وټاکل؛ مګر د مفصل او اوږدې مشاهدې زيار او تجرباتي تحقيق د يونانيانو د مزاج لپاره بېخي اجنبي و، کوم څيز ته چې موږ ساينس وايو، هغه د نويو تجربو او مشاهدو او حسابي طريقو په پايله کې پيدا کېږي او دا څيز اروپا ته د عربو له لارې ترلاسه شو.

نوی ساینس د اسلامي تهذیب تـر ټولـو زیـات عظیم دیـن دی، د دې ډول تفصیلاتو په ورکولو بریفالټ لیکلي چې په ساینس یې د عربـو کـوم احسـان دی، هغه یوازې دا نه دی چې د انقلابي نظریاتو په برخه کې یې حیرانوونکې موندنې لورولې دي، ساینس له دې هم پورته د عرب کولتور احسـانمن دی، هغه دا چې له دې پرته به د نوي ساینس وجود هیڅ نه وو:

The debt of our science to that of the Arabs does not consist in startling discoveries of revolutionary theories; science owes a great deal more to Arab culture, it owes its existence. (Briffault, *the Making of Humanity*)

جارج سارټن (George Sarton) چې د ساینسـي علومو مشـهور تـاریخ پـوه دی، لیکلي دي چې د منځنیو پېړیو تر ټولو بنیادي او تر ټولو زیـات څرګنـد بریالی تجرباتي روح پیدا کول وو او دا روح اصـلاً مسلمانانو پیـدا کـړی دی چې تر دولسمې عیسوي پېړۍ یې دوام درلود.

## د اسلام دین

اسلام په دې لړ کې دوه مهم ترین کارونه تر سره کړي دي، یو یې ذهني خنډ (Mental Block) لمنځه یووړ چې د پرمختګ په لار کې مـانع و، بـل یـې د نوي پرمختللي پېر عملي پیل وکړ، د ذهني خنډ لرې کولو نه موخه، څیزونه له مقدس مقام ایسته کول وو، دا بې له شکه تـر ټولـو سـخت کـار و، دا کـار د نبوت په پېر کې او خلفای راشدینو په زمانه کې په پوره توګه ترسره شو.

د عملي آغاز کار که څه هم په لومړي پېر کې پیل شوی و، خو د دې باقاعده پیل په عباسي پېر د حکومت کې د بیت الحکمت له قیام (۸۳۲م) سره وشـو، له دې وروسته په اسپین او سسلي کې د عربو د حکومت پـه زمانـه کـې لـه لا څواك سره روان و او بالاخره اروپـا تـه پـه رسـېدو د صـنعتي انقلاب باعـث

وګرځېد.

دا خبره په عام ډول تسليمېږي چې د اوسنيو پرمختګونو اړيکه له صنعتي انقلاب سره ده، دا يو حقيقت دی چې دا ټول پرمختګونه د صنعي انقلاب له ښېټې راوتلي دي او خپله صنعتي انقلاب د ځمکې دننه د پټو شويو طاقتونو د کارولو دويم نوم دی.

انسان وسپنه په انرژی بدله کړه، په روانو اوبو يې جنراتور چالان کړ، برق يې جوړ کړ، معدني څيزونه يې راوويستل، د ماشينونو په شکل يې غوره کړل، په دې توګه صنعتي انقلاب رامنځته شو.

اوس پوښتنه دا ده چې دا ټول څيزونه خو له سلګونه زره کاله په ځمکه کې وو، بيا نو له اسلام مخکې انسان په دې عمل ولې ونه کړ چې په پايله کې ترې پرمختللي تمدن تشکيل موندلی وای.

د دې ځواب يوازې يو دی او هغه دا چې «شرک» د دې عمل په لار کې خنډ و.

شرک څه دی، شرک نوم دی د فطرت د مظاهرو د پرستش او عبادت؛ په نورو الفاظو: د فطرت څيزونه مقدس ګڼلو ذهن له محمد صلى الله عليه وسلم وړاندې په ټولو معلومو زمانو کې انسان د فطرت مظاهر په معبود ګڼلو سره يې عبادت کوونکي شوي وو، يوناني تهذيب، مصري تهذيب، رومي تهذيب، ايراني تهذيب، لنډه دا چې د پخوا پېر ټول تهذيبونه مشرکانه تهذيبونه وو، د نړۍ هره لويه پېښه، هغه که ځمکه، سيند او غرونه يا لمر او سپوږمۍ او ستوري وو ټول د انسان لپاره د پرستش موضوع (Object of Worship) ګرځېدلي وه.

اسلام دا څيزونه د عبادت او پرستش له مقامه ايسته کړل، د تحقيق موضوع (Object of Investigation) يې وګرځوله، له دې وروسته د دې څيز آغاز وشو چې سانيسي انقلاب ورته وايه شي.

# دریم څپرکی

## لمریز نظام

د علم د پرمختتګ لپاره د آزاد تحقیق ماحول بې بریـده اړیـن دی، پـه پخوا زمانه کې د بېلا بېلو له ځانه جوړو شویو عقایدو له امله د آزاد تحقیق مـاحول نه و، بیا –بیا داسې وشول چې یو ذهین او د علم خاوند سړی بـه پـه غـور و فکر کولو یو حقیقت ته ورسېد؛ مګر کله چې به یې خپـل نظـر لـه نـورو سره شریک کړ، نو هغوی به یې له خپلو ځانه جوړو شویو ناسمو عقایـدو سره پـه ناهمغږۍ لیدلو یې مخالفت وکړ؛ بلکې دښمن به یې وګرځېـد، پایلـه دا شـوه چې فکر یې نور مخته لاړ نه شو.

د یونان فلسفي سقراط (Socrates) ته پـه وچ زور د زهـرو پیالـه ورکـړ شـوه، لمنځه یې یووړ، جرم یې دا و چې هغه خدایګوتې له پامـه غورځـول چـې د ایتنز ښار خلکو یې عبادت کاوه، هغوی ویل سقراط یې په مذهب کې نوې – نوې طریقې راباسي، د یونان د ځوانانو ذهن خرابوي، د سقراط د لمنځه وړلو دا پېښه ۳۹۹ مخکې له مسیح رامنځته شوه.

ګلیلو چې د ځمکې د تاوېدو د نظریې تایید وکړ، نو د روم کلیسـا یـې سـخته دښمنه شوه، په مذهبي عدالت کې پرې محکمه وشوه، په اندېښنه کـې شـول چې له مرګ کمه سزا ورنکړل شي، دا چې له فلکیاتي نظریاتو یې توبه وکـړه، د رومي عدالت پر وړاندې یې په دې الفاظو د خپلې رجوع اعلان وکړ:

«زه ګلیلیو، عمر ۷۰ کاله، ستاسې پر وړاندې ګونډه ماته، سپېځلی انجیل مـې شاهد، پرې دواړه لاسونه ږدم او د خپلـې غلطـۍ اعـترا کـوم او د ځمکـې د حرکت لرې له حقیقت دعوې لاس په سر کېږم.»

دا کومه پېښه نه وه، په هغه زمانه کې د مسیحي علماوو همدا طریقه وه، د نویو حقیقتونو څرک او د فطرت د رازونو لټه چې نوم یې ساینس دی دا یې تر پېړیو ممنوع وګرځوله.

داسې ځیزونو ته تور علم، جادو او شیطاني تعلیم په ګوته کېده.

په هغو حالاتو کې ناشونې وه چې د تحقیق او پلټنې عمل په ګتوره توګه دوام وکړي، په منځنیو پېړیو کې دا کار په لومړي ځل د مسلمانانو په لاس وشو؛ ځکه د قرآن لارښوونو یې له ذهنه هغه ټول خنډونه لرې کړل چې د ګلیلیو په څېر خلکو په لار کې ولاړ وو، د دې یو مثال د لمریز نظام د حرکت کولو دی، په دې اړه د سم فکر ډاډېنه په لومړي ځل له اسلامي انقلاب وروسته وشوه او بیا په لا پرمختګ کولو سره تر نویو موندنو ورسېد.

په پخوا یونان کې یو فلکیاتي عالم تېر شوی دی چې ورته اریسټارکس (Aristarchus of Samos) ویل کېږي، په ۲۷۰ق.م کې مړ دی، هغه د شمسي ـ نظام مطالعه وکړه او په لومړي ځل یې د افتاب مرکزي (Heliocentric) نظریه وړاندې کړه، یانې دا چې لمر په مرکز کې دی او ځمکه د دې چاپېر ګرځي، خو دې نظریې یې په خلکو کې هرکلی ترلاسه نه کړی شو.

له دې وروسته بطلیموس (Ptolemy) پیدا شو، د ده زمانه دویمه عېسوي پېړۍ ده، بطلیموس د دې برعکس د ځمکې مرکزي (Geocentric) نظریه وړاندې کړه، یانې دا چې ځمکه په مرکز کې ده او لمر د دې چاپېره ګرځي.

د ځمکې مرکزي نظریه مسیحي حضراتو ته له خپلې دې عقیدې سره عین سمه عقیده ښکاره شوه چې له حضرت مسیح وروسته یې جوړه کړې وه چې د هغې تصدیق په وروستي ځل په ۳۲۵م کې د نیقیا (Nicaea) په کونسل کې وشو.

د قسطنطین اعظم (337 - 280) له مسیحیت قبلولو وروسته عېسویت په ټولو رومي سیمو کې خور شو او ده ته زبردست اقتدار تر لاسه شو، په دې وخت

کې مسیحي حضراتو د بطلیموس نظریې ځانګړې سرپرستي او ساتنه وکړه او د اسټارکس نظریه یې په پوره توګه په تیاره کې واچوله.

د برټانیکا انسایکلوپیډیا (۱۹۸۴) الفاظ دي، له دې وروسته په دې کایناتي نقشه کې د لا غور و فکر موقع پاتې نه شوه.

د ۱۷مې عیسوي پیړۍ تر پایه نږدې هر ځای کې همدا نظریه لوستل کېده:

There was no further scope for cosmology in the model, which continued to be taught and used almost everywhere until the 17th century. (EB-18/1013)

مګر مسلمانان چې د نامقدسو هغو په مقدس ګڼلو نه وو اخته، په دې اړه یې په ایله ذهن سره په سوچه علمي انداز کې غور و فکر وکړ، وېې مونده چې د افتاب مرکزي نظریه ډېره عقل ته نږدې ده؛ ځکه خو یې همدا غوره کړه.

ایډورډ میکنال برنس (Edward McNall Burns) په دې موضوع خبرې کړې دي، لیکلي یې دي چې دا نظریه چې لمر زموږ د شمسي نظام په مرکز کې دی، یوه ثابت شوې پېښه ګرځېدلې ده.

دا نظریه لومړی ارسټارکس (310 – 230 ق.م) وړاندې کړه؛ مګر نږدې څلور سوه کاله وروسته د ارسټارکس نظریه لاندې شوه او د بطلیموس د ځمکې مرکزي نظریه باندې شوه، له دې وروسته تر دولس سوه کاله هم ډېرې مودې پورې د بطلیموس نظریه په ټوله نړۍ کې د خلکو په ذهنونو خورېده، په ۱۴۹۶م کې کوپرنیکس وویل: سیارې د لمر چاپېره ګرځي؛ مګر د چرچ د مخالفت اندېښنې له مخې یې د خپلو څېړنو د پایلو له خپرولو تر ۱۵۴۳ پورې لاس په سر و.

اسپېني مسلمانانو کوم بل مضمون ته دومره پرمختګ ورنکړ، څومره چې یې ساینس ته ورکړ، په حقیقت کې په دې ډګر کې د دې بریا ډېره لویه وه چې تر ننه نه وه لیدل شوې، اسپېني مسلمانانو په ریاضي، فلکیاتو، کیمیا، طب او طبیعیاتو کې ممتاز ترینه علمي درجه درلوده.

CamScanner

ارسطو ته په درناوي سربېره له دې په شا نه شول چې په دې نظریه تنقید وکړي چې ځمکه د کایناتو مرکز دی، دا امکان یې ومانه چې ځمکه په خپل محور څرخېږي، له لمر تاوېږي:

Despite their reverence for Arisotle, they did not hesitate to criticize his notion of a universe of concentric spheres with the earth at the center, and they admitted the possibility that the earth rotates on its axis and revolves around the sun.

(Edward Mc Nall Burns, *Western Civilization,* W.W. Norton & Company Inc, New York, 1995, pp. 36)

د شمسي نظام په اړه د مسلمانانو سمې نظریې ته رسېدنه ځکه ممکن شوه چې اسلام د فکر پابندۍ دا ماحول مات کړ چې د انسان لپاره په ذهني پرمختګ کې خنډ جوړ شوی و، د مصنوعي بندیزونو لمنځه تلو سره د انساني فکر قافله په توندۍ سره پرمختګ لوري ته سفر وکړ او بالاخر دې مرحلې ته ورسېد چې په شلمه/ یوویشتمه پېړۍ کې موږه ته تر سترګو کېږي.

## د طب فن

انسان په هر پېر کې ناروغه کېږي، په دې بنا طب هم په یو نه یو ډول په هره زمانه کې پاتې شوی دی؛ مګر په پخوا زمانه کې کله هم د طب فن ته هغه لوړ مقام ترلاسه نه شو چې د اسلام له پېر وروسته هغه دی او په اوسنۍ زمانه کې ورته ترلاسه شو.

ویل کېږي د طب آغاز د پام وړ په شکل کې په پخواني یونان کې وشو، په پخواني یونان کې دوه ډېر لوی -لوی طبیبان پیدا شول، یو بقراط (Hippocrates) او بل جالینوس.

د بقراط زمانه پنځمه او څلورمه پېړۍ مخکې له مسیح ده او د بقراط د ژوند

حالات ډېر لږ معلوم دي، وروسته خلکو په تخميني توګه دا اندازه ولګوله چې بقراط نږدې په ۴۶۰ق.م کې زوکړی دی او نږدې په ۳۷۷ق.م کې مړ دی.

حتی ځينې محققين يې په تاريخي شخصيت (Historical Figure) کېدو شکمن دي، د فلسفې او طب کوم کتابونه چې د ده په نوم مشهور دي، د دې په اړه هم دا شک کېږي چې هغه ليکلي دي، يا نورو ليکلي دي او بقراط ته يې منسوب کړي دي. (EB-8/942- 43)

جالينوس (Galen) د پخواني پېر دويم اهم ترين فلسفي او طبيب ګڼل کېږي، ويل کې چې هغه د عقل طب (Rational Medicine) بنياد کېښود.

جالينوس نږدې په ۱۲۹م کې پيدا شوی او نږدې په ۱۹۹م کې مړ دی، په روم کې جالينوس له پوره مخالفت سره مخ شو، د جالينوس زياتره تحريرونه ضايع شول، دا راپاتې به هم ضايع شوي وو، خو يوازې عرب وو چې په نهمه عيسوي پېړۍ کې يې له سره د هغه يوناني نسخې راټولې کړې او په عربي کې يې ژباړه وکړه، له هغې وروسته په ۱۱مه پېړۍ کې دا ژباړې اروپا ته ورسېدې او له عربي نه لاتيني ته واړول شوې.

د برټانيکا انسايکلوپيډيا (۱۹۸۴) د جالينوس په اړه خپله مقاله په دې الفاظو پای ته ورسوله چې د جالينوس د وروستيو کلونو په اړه ډېر لږ معلومات ترلاسه دي:

Little is known of Galen's final year. (EB-7/850)

د پېښې په توګه دا خبره سمه ده چې په پخواني يونان کې ځينې لوړ طبي ذهنه پيدا شول؛ مګر د بقراط او جالينوس په څېر خلکو انجام ښيي چې په پخواني يونان کې هغه حالات نه وو چې داسې خلکو ته پکې اهميت ترلاسه شي، اصل دا دی چې په پخواني يونان کې د طب د ودې لپاره فضا جوړه نه وه، ډول - ډول خرافاتي عقيدې د دا ډول آزادو څېړنو په لاره کې خنډ وې؛ مثلاً ناروغی له اسرار ډکو طاقتونو سره تړل، بوټي او دوا لرونکي ډېر ځيزونه

مقدس ګنېل، او...

په یونان کې د طب آغاز له مسیح نږدې دوه سوه کاله مخکې او نږدې دوه سوه کاله وروسته زمانه کې وشو، په دې توګه د یوناني طب زمانه نږدې څلور یا پنځه سوه کاله ده، له دې وروسته خپله په یونان کې دا فن نور مخکې لاړ نه شو.

یونان د اروپا یو هېواد دی؛ مګر د یوناني طب تسلسل په نوره اروپا کې دوام ونکړ چې د نوي لویدیځ طب د راڅرګندېدلو وسیله شي، دا واقعه خپله د دې خبرې ثبوت دی چې د پخواني یونان ماحول د طب د پرمختګ لپاره جوړ نه و.

یوناني طب چې ځینو انفرادي شخصیتونو پیدا کړی و، هغه له خپل ظهور وروسته نږدې تر یو زر کاله پورې په نامشهورو کتابونو کې بند پروت و، تر دې پورې چې په عباسي پېر کې د دې کتابونو ترجمې وشوې. عربو له لا زیاتونو سره د طب فن له سره مدون کړ، ویې لیکه. له دې وروسته دا شونې شوه چې دا فن اروپا ته ورسېږي او د نوي میډیکل ساینس د ظهور ذریعه وګرځي.

د دې لامل د ادی چې له اسلامي انقلاب وړاندې په دنیا کې د شرک او خیال پرستۍ زور و، د هغې زماني ماحول دومره ناهمغږی و چې که یو شخص علمي او ساینسي تحقیق کاوه، نو هغه ته به د خلکو له خوا ډاډ نه ورکول کېده. له نامساعدو حالاتو سره به مخ کېده، په دې بنا دا ډول هڅې که په انفرادي توګه ظاهر شوې هم وای، نو اکثره به بندې پاتې وای. خلکو د مرض او علاج اړیکه له خدایګوټو سره تړلې وه.

په داسې حالت کې د ساینسي طریقې علاج خبره خلکو ته نه شوه کېدی. د اسلام له لارې چې کله په دنیا کې د توحید انقلاب راغی. له هغې وروسته ممکن شوه چې د طبي پرمختګ هغه ور ایله شي چې بالاخره تر نوي میډیکل ساینس پورې ورسېږي.

د اسلام ستر پیغمبر صلی الله علیه وسلم یو ارشاد په دې الفاظو کې نقل شوی دی: «إِنَّ اللهَ لَمْ يُنْزِلْ دَاءً إِلَّا أَنْزَلَ لَهُ دَوَاءً، عَلِمَهُ مَنْ عَلِمَهُ، وَجَهِلَهُ مَنْ جَهِلَهُ، إِلَّا السَّامَ، قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا السَّامُ؟ قَالَ: الْمَوْتُ»(مستدرک الحاکم، حدیث نمبر ۸۲۲۰).

یانې الله تعالی چې هر مرض رالیږلی دی، له هغې سره یې دوا هم رالیږلې ده، څوک چې پرې پوه شو، هغه پوه شو او څوک چې ترې بې خبره شو؛ البته د مرګ هیڅ دوا نه شته.

د اسلام د پیغمبر دا ارشاد ګویا د انقلاب د قاید ارشاد و، دا چې هغه په خپله ژبه د دې طبي حقیقت اعلان وکړ او بل پلو تاریخ په عملي توګه د دې په چوکاټ کې راتلل پیل کړل.

## یو مثال

چیچک شری (Small Pox) د دنیا یوه خطرناک ترینه ناروغي ګڼل شي، په دې کې به لومړی تبه راتله، دوه ورځې وروسته به دانې راوتلې.

دا یوه وبایي ناروغي ده او ډېره وژونکې ده، دا چې سړی به د دې له بریده وژغورل شو، نو د تل لپاره به یې پوستکی داغدار کاوه.

له اوسني ریکارډ سره سم دا ناروغي په چین کې په ۱۱۲۲ق.م کې وموندل شوه، د هندوستان په پخواني سنسکریت کتابونو کې د دې یادونه شته دی، په ماضي کې په مختلفو هېوادونو کې دا ناروغي د یوې مرګونې وبا په شکل کې برسېره کېده، بې شمېره خلک یې خپل ښکار کړل، د مصري فرعون (Ramses V) چې په ۱۱۵۶ق.م کې ومړ، د هغه د ممي څه وشول، جسم یې په یوه اهرام کې وموندل شو، پرمخ یې د چیچک نښې دي.(EB-IX/280)

څو تر زرو کالو پورې د چیچک د ناروغی په اړه کوم تحقیق نه شو کېدی.

اوس موږ پوهېږو چې شری یوه ویروسي ناروغي ده، له انفکشن ویروس

(Virus Infection) پیدا کېږي، انسان اوس دا موندنه کړې ده چې داسې معالجوي تدبیرونه شته دي چې که له وړاندې یې اهتمام وکړل شي، نو د چیچک له حملې ژغورل کېدی شي؛ مګر دا طبي حقیقت په لومړي ځل د اسلام له راتلو وروسته یوازې د نهمې عیسوي پېړۍ په پای کې معلوم کړل شو.

لومړی څرګند نوم چې په تاریخ کې یې د چیچک علاج ولټاوه او د هغې طبي ارزونه یې وکړه، هغه مشهور عرب طبیب الرازي (۹۲۵-۸۶۵م) دی، هغه په لرې (ایران) کې پیدا شو، د دې مرګوني مرض په اړه یې لومړنی طبي کتاب ولیکه چې نوم یې (الجُدري والحسبه) و، د دې کتاب ترجمه د پخوانۍ اروپا علمي ژبه لاتیني کې په ۱۵۶۵م کې په وینس کې چاپ شو، له هغې وروسته په یوناني او نورو ژبو کې ترجمه شو او ټولې اروپا ته ورسېد، انګلیسي ژباړه یې په لندن کې په ۱۸۴۸م کې وشوه او چاپ شو، نوم یې:

A Treatise on the Small Pox and Measles.

څېړونکو منلې چې د الرازي دا کتاب په ټول معلوم تاریخ کې د چیچک په اړه لومړنی طبي کتاب دی، له دې وړاندې په دې موضوع کې هیڅ شخص طبي تحقیق نه دی کړی.

ایډورډ جنر (Edward Jenner) چې د الرازي د کتاب ژباړه ولوسته، په دې سره یې د چیچک د ناروغۍ طبي تحقیق خیال پیدا شو، تر دې پورې چې په ۱۷۹۶م کې یې د ستنې (Vaccination) هغه طریقه ومونده چې په نړیواله کچه یې شهرت ترلاسه کړ، نور نو انسان د چیچک کنترولونې په تدبیرونو عمل پیل کړ، تر چې په تاریخ کې په لومړي ځل په ۱۹۷۷ کې د ملګرو ملتونو له خوا دا اعلان وشو چې د چیچک ناروغۍ یې لمنځه وړې ده.

د چیچک ناروغي د طب او درملنې موضوع په جوړولو کې څو زره کاله ځنډ ولې وشو، د دې سبب همغه څیز و چې په مذهبي اصطلاح ورته شرک ویل کېږي، یانې نامقدس څیزونه مقدس ګڼل، یا په غیر خدای کې د خدای

اوصاف فرض کول.

ډاکټر ډیوډ ورنر (David Werner) په خبره:

In most places in India, People believe that these diseases are caused because the goddess in angry with their family or their community. The goddess expresses her anger through the diseases. The people believe that the only hope of cure for these diseases is by giving her offerings in order to please her. They do not feed the sick child or care for him because they fear this will annoy the goddess more. So the sick child becomes very weak and either dies or takes a long time to get cured. These diseases are caused by virus infection. It is essential that the child be given plenty of food to keep up his strength so that he can fight the infection. (9)

د پخوا زماني خلکو دا عقیده لرله چې د چیچک او خسرې ناروغۍ د خدایګوټي او خدایګوټو د ناراضۍ له امله پیدا کېږي، له کوم قام یا کورنۍ چې خدای ګوټی ناراضه شي، نو په دې مرګوني ناروغۍ یې اخته کوي. هغوی د دې مرګوني ناروغۍ له لارې د خپلې غوسې څرګندونه کوي، د دې عقیدې په بنا خلکو دا ګڼلې وه چې له دې ناروغۍ ژغورنې لپاره یوازینۍ طریقه دا ده چې خدایګوټو او خدایګوټې ته منښتې ومنل شي، دې لپاره چې خوشحاله شي او دا ناروغي ترې پورته کړي، د دې عقیدې له مخې به یې قصداً ناروغ ته له څه ورکونې او درملنې تدبیر په اړه فکر کولو ډډه کوله؛ ځکه د هغوی په اند په داسې کولو سره به ترې خدای ګوټې او خدایګوټي لا ناراضه شي.

اسلام چې کله د مرض په اړه دا شرک مات کړ او دا یې وښوده چې له یوه خدای پرته هیچا ته د ګټې او زیان اختیار نه شته، خالق یوازې اِک یو دی، له

هغه پرته نور هر څه مخلوق دي.

له اسلامي انقلاب وروسته چې کله په انسانانو کې دا ذهن جوړ شو او د خدایګوټو له مفروضو په آزادېدو یې سوچ کول پیل کړل، له دې وروسته دا ممکن شوه چې په ننکي، شري یا چیچک طبي تحقیق وشي او د علاج معلومونې هڅه دې وشي.

کله چې په نړۍ کې دا فکري انقلاب راغی، له دې وروسته دا ممکن شوه چې چیچک دې د طبي تحقیق او علاج موضوع وګرځول شي له دې وروسته دا امکان پیدا شو چې د ابوبکر رازي او ایډورډ جنر په څېر خلک پورته شي او د چیچک ناروغۍ درملنه ومومي او انسانیت ته له دې مرګونې ناروغۍ نجات ورکړي.

د چیچک درملنې تر موندنې اصل خنډ (Barrier) مشرکانه مفروضې وې او دا مفروضې چې په تاریخ کې په لومړي ځل چا لمنځه یووړې، هغه بې له شکه اسلام و.

د طب فن په لړ کې د مسلمانانو په کارنامو په کثرت سره کتابونه لیکل شوي دي، د مثال په ډول د هټي کتاب، هستري آف دي عربس په دې کتابونو کې د مسلمانانو د طبي کارنامو تفصیلات کتلی شئ.

## علم اللسان

د ژبې په اړه د شرکي عقایدو په بنا علم اللسان په ماضي کې د سختو نامساعدو حالاتو ښکار پاتې شوی دی، حتی چې تر زرګونه کلونو پورې د دې پرمختګ خنډېدلی و.

د علم لسان یو ماهر ډاکتر ګلز Dr Ernest Gellner لیکلي دي چې فلسفه په ژبو کې اپوته طرزِ فکر مومي، هغه حقیقي خیالات ناروغي ګڼي او مړه خیالات یې په اند د صحت نمونه دي.

Linguistic philosophy has an inverted vision which treats genuine thought as a disease and dead thought as a paradigm of health.

په پخوا زمانه کې په عام ډول دا فکر کېده چې تحریر (لیک) د خدايګوټو لورونه ده، مثلاً په هندوستان کې د «برهم لیپي» عقیده.

الفاظ او ترکیبونه خدايګوټو تاکلي دي او په دې اساس هغوی د لوړ تعظیم (Highest Veneration) وړ دي.

د جان استیونس (John Stevents) يو کتاب دی چې نوم يې دی د ختيځ سپېڅلی کتابت:

Sacred Calligraphy of the East.

په دې کې هغه خپل دا تحقيق وړاندې کړی دی چې د مقدس لیک عقیده تر پېړيو پورې په نړۍ کې دوامداره وه، په دې اړه خو په محققينو کې اختلاف دی چې د ليک فن لومړی چېرته پيدا شو، په مصر کې يا چين کې يا هندوستان کې يا په کوم بل ځای کې، خو په دې اړه د لغت علماء همغږي دي چې په ټولو پخوانيو قومونو کې دا عقيده په ګډه توګه موندل شوې چې تحرير خدايي څيز دی، دا په خپل ذات کې مقدس دی، تحرير د خدايګوټو ژبه ده:

One idea, however, is common to all ancient systems. Writing is divine. It is inherently holy. Writing is the speech of the Gods.

تاريخ په ګوته کوي چې انساني ژبې تر زرګونه کلونو پورې د شرک (Superstitions) ښکار پاتې شوي دي، دا فرض کړل شوه چې ځينې ژبې خدايي اصل (Divine Origin) لري او ويونکي يې په نورو ژبو ځانګړې درجه لري؛ مثلاً د يوناني ژبې اړوند تر مودې پورې دا ګڼل کېده چې له نورو ټولو ژبو عالي ده، دا د خدايګوټو ژبه ده، نورې ژبې د دې په مقابل کې د

وحشیانو ژبې دي، او...

همدا معامله د عبرانیانو ده، په یهودي او مسیحي نړۍ کې تر پېړیو پورې دا ګڼل کېده چې عبراني ژبه د خدای خپله ژبه ده، دا تر ټولو مخکې په دنیا کې ویل شوې ده.

ونډرلي او نیډا په ژبو د مسیحي عقایدو د اغېزو کتنه کړې، لیکي چې کومو عوامو لساني پرمختګ وځنډاوه، په هغو کې یو د پخوانیو مولفینو دا عقیده وه چې رینسانس پېر کې په شدت سره خورېدله چې د دنیا ټولې ژبې له عبراني وتلې دي:

One of the factors which retarded linguistic progress was the belief among early Christian writers and persisting well into the Renaissance era, that all languages were derived from Hebrew. William L. Wonderly and Eugene Nida in "Linguistic and Christian Mission" Anthropological Linguistic, vol. 5, pp. 104 – 144.

دا چې تر پېړیو پورې د اروپا علماء تش لاس د عبراني افضلیت ثابتونې په هڅو کې بوخت وو، د هرې ژبې اړیکه به یې له عبراني ثابتوله، پایله یې دا شوه چې علم اللسان پرمختګ ونه کړی شو، په اتلسمه پېړۍ کې چې کله دا فکر مغلوب شو، هغه وخت د اروپا د مختلفو ژبو علم السان پرمختګ کول پیل کړل.

د خدایي ژبې (Divine Language) تصور په پوره توګه د شرک پیداوار دی، له حقیقت سره هیڅ اړیکه نه لري، کله چې د یوې ژبې په هکله دا فرض کړل شي چې هغه د خدایګوټو ژبه ده، نو د دې لازمي مطلب دا کېږي چې د مقدس ژبې حیثیت ترلاسه کوي چې نوره د خلکو په نظر کې د درناوي وړ ده، نه چې د تحقیق وړ - له دې وروسته د هغې ژبې تنقیدي کتنه، لا مخکې بیونې لپاره په یوه نوي انداز یې وکالت کول، ټول بدعت دی د دې

د ماتونې په معنا ده، داسې هر تحقیق خلکو ته د بې ځایه جسارت کول تر سترګو کېږي، نه د مخکې وړنې سنجیده هڅه.

دا صورت چې له ژبو سره پېښ شو، همدا حال په پخوا زمانه کې د نورو ټولو انساني شعبو هم و، بې شماره شرکي عقاید وو چې د انسان فکري پرمختګ یې ایسار کړی و.

په تاریخ کې په لومړي ځل چا چې دا بند مات کړ، هغه د توحید انقلاب و چې د اسلام پیغمبر او ملګرو له لارې وځلېد، دا انقلاب لومړی په عربو کې پیدا شو، له هغې وروسته د دې اغېزې ټولې نړۍ ته ورسېدې، انساني تاریخ له خیالي تابعدارۍ په وتلو د حقیقت پېر ته ننوت.

په قرآن کې چې کله اعلان وشو چې له یوه الله پرته بل هیڅ اله نشته، نو په هماغه شېبه د ساینټیفیک طرزِ فکر (علم) اغاز وشو، خلک له غیر واقعي ذهني بندیزونو په ازادېدو یې د ځیزونو په اړه فکر وکړ، دا طرزِ فکر پسې دېرېده، تر چې نننې انقلاب پورې راورسېد.

یو الله اله منل او له نورو ټولو ځیزونو نه د اله درجه لرې کول او ترې کلک انکار کول، دا معنا لري چې له یوه الله پرته کوم بل ځیز ته د تقدس مقام نه دی په برخه، له یوه الله پرته چې نور هر څومره ځیزونه دي، هغه ټول په یو شان درجه کې مخلوق او بې اختیاره دي.

نورو ځیزونو ته مقدس درجه ورکول، د تحقیق و تسخیر موضوع په جوړولو کې خنډ ګرځېدلی و، د دې برعکس هغه ځیزونه نا مقدس ګڼل، هغه د تسخیر و تحقیق موضوع جوړوني باعث وګرځېدل.

همدا د اسلام هغه ځانګړې کارنامه ده چې د نوې پېر پنځګر او رامنځته کوونکی یې کړ.

## د اعدادو علم

عددونه (هندسې) اوسنی طریقه په ابتداء کې په هندوستان کې ځینو خلکو رامنځته کړه، خو دا هغه زمانه وه چې هر مروج څیز به مقدس ګڼل شه او هر نوی څیز به د شک په سترګه کتل کېده، دا چې د هندسې دا طریقه په هندوستان کې دود نه شوه، یوازې په ځینو انفرادي کتابونو کې بنده پاتې شوه.

خلکو به پخوانی طریقې په مقدس ګڼلو سره نیولې او ساتلې، نوې طریقې یې غوره نه کړی شوې.

له دې وروسته د هندسې دې واضعینو ته معلومه شوه چې په بغداد کې یو سلطنت جوړ شوی چې د نویو څیزونو قدر کوي، دا چې یو هندوستانی په ۱۵۴هـ (۷۷۱م) کې په سفر کولو بغداد ته ورسېد، هغه وخت په بغداد کې د عباسي خلیفه المنصور حکومت و، هندوستاني پنډت د المنصور په خدمت کې دوه د سنسکرت رسالې وړاندې کړې، یوه یې د سیدهاتنا په اړه وه، دې ته عربو د سِند هند نوم ورکړ او بله رساله د ریاضي په اړه وه.

د المنصور په حکم محمد بن ابراهیم انفرادي د ۸۰۶ - ۷۹۶م ترمنځ د دې عربي ژباړه وکړه، الخوارزمي (۸۵۰- ۷۸۰م) دا ژباړه ولوسته او له دې لارې یې هندي هندسې سره پېژندګلوو وشوه چې د عددونو شمار له (۱- ۹) پورې پکې و او له هغې وروسته د صفر په زیاتولو د ټولو شمېرلو جوړولو طریقه په ګوته کړل شوې وه، الخوارزمي دې ته هندي هندسه وویله او د غوره کولو غوښتنه یې وکړه. (هتي، مخ ۳۰۸- ۷۰۳).

د الخوارزمي د کتاب لاتیني ژباړه په دولسمه پېړۍ کې اډیلارډ (Adelard) وکړه، په دې توګه د شمېر دا فن اروپا ته ورسېد، عربو که څه هم دې ته هندي هندسه ویلې وه؛ مګر په اروپا کې ورته عربي شمېرنې (Arabic Numerals) نوم ورکړ شو، عجیبه خبره ده چې د الخوارزمي د عربي کتاب

نسخه ضایع شوه؛ البته د دې لاتیني ژباړه نن هم د اروپا په کتابتونونو کې شته دی. (هتي، مخ ۷۴- ۵۷۳)

په اروپا کې په پخوا زمانه کې رومي هندسه دود وه، په اروپا کې تر دوه زره کلونو وه، دا د علامتي حروفو په شکل کې لیکل کېده، مثلاً د ۸۸ عدد لیکلو په صورت کې دا وو (LXXX VIII) د دې په نتیجه کې حساب کتاب بې بریده سخت و؛ مګر اهلِ یورپ رومي هندسه مقدسه ګڼله، دا یې د خدایګوټو لورونه ګڼله؛ ځکه یې سوچ نه شوای کولی چې دا بدله کړي یا پکې کوم ترمیم وکړي، د نامقدسو اعدادو مقدس ګڼلو نتیجه دا شوله چې د علم په ډګر کې هغوی تر سلګونه کاله پورې هیڅ پرمختګ ونه شو کړی.

دا اسلامي انقلاب و چې په لومړي ځل یې د اعدادو د تقدس طلسم مات کړ او بیا په اروپا کې د علمي پرمختګ پېر پیل شو.

لیونارډو (Leonardo Fibonacci) غالباً په پیسا (ایټالیا) کې پیدا شو، ابتدایي ژوند په اړه یې ډېر لږ معلومات دي، خو په وروسته تاریخ کې یې بې بریده شهرت وموند؛ ځکه چې همدا هغه شخص دی چې عرب اعداد یې اروپا ته وروپېژندل، د ده زمانه د دولسمې او دیارلسمې پېړۍ ترمنځ ده.

د لیونارډو پلار په الجیریا کې سوداګري کوله، خپل زوی یې یوه عرب استاد ته وسپاره، دې لپاره چې د حساب زده کړه ورکړي، عرب استاد لیونارډو ته د «هندسې» علم ورکړ، له دې وروسته لیونارډ د مصر، شام او سسلي سفر وکړ، د الخوارزمي تحریرونه یې ولوستل، له عربو اعدادو سره له پوره بلدېدو وروسته یې کتابونه ولیکل، په دې توګه یې ورسره وپېژندل.

ده په ګوته کړل چې له دې اصولو سره سم نهه بنیادي شمېرنه ۱، ۲، ۳، ۴، ۴، ۵، ۶، ۷، ۸، ۹، په دې شمېر د صفر په زیاتولو سره هر یو عدد جوړېدلی شي.

دا طریقه ډېره ژر په اروپا کې د سوداګریزو حسابونو لپاره وکارول شوه په ۱۲۲۰م کې د لیونارډ شهرت دومره پراخ شو چې د ایټالیا پاچا فریډرک

(Frederick) خپل دربار ته وباله، هلته يې د پاچا پر ورانـدې د خپـل علـم څرګندونه وکړه، عربي شکل (Arabic Type) يې وړاندې کړ.

د عرب اعدادو طريقه چې کومو خلکو په اروپا کې خپره کړه، په هغـو کـې د ليونارډو نوم تر ټولو زيات دی. (EB IO/817- 18)

ولفر ډبلنټ (Wilfrid Blunt) ليکلي دي، فرض کړئ چې که د اسلام توپان نه وای راغلی، نو څه به وای، هيڅ هم نه، چا چې په لويديځ کـې د ساينس پرمختګ دومره وځنډاوه، څومره چې رومي هندسې.

دا چې عربي هندسه د اتمې عېسوي پېړۍ په پای کې له هندوستان نه بغداد ته ورسېده، که ژر وروسته لويديځې اروپا تـه رسـېدلی وای او هلتـه غـوره کـړل شوې وای، نو نتيجه بـه يـې دا وه چـې ډېـرې سـاينســي طريقـې چـې ايتاليـا رينسانس ته منسوب کېږي، هغه به څو سوه کاله مخکې ترلاسه شوې وای:

And supposing the tide of Islam had not been stemmed. Nothing so delayed the advance of science in the West as the clumsiness of the Roman numerals. Had the Arabic numerals, which had reached Baghdad from India towards the end of the eighth century, been soon afterwards introduced into and adopted by western Europe as a whole, much of that scientific progress which we associate with the Renaissance in Italy might have been achieved several centuries earlier.

Wilfrid Blunt, *The Times* (London, April 2, 1976)

## یو وضاحت

له نوي دهلي نه یو انګلیسي کتاب چاپ شوی دی، د ماشومانو او عامو لوستونکیو لپاره دی او په ۲۲ مخونو برخمن دی، نوم یې دی د صفر کیسې:
Dilip M. Salwi, Story of Zeeo, Children's Book Trust.

په کتاب کې ویل شوي چې د صفر تصور په هند کې ایجاد شوی، له دې وړاندې د ډېر شمېر ښودنې لپاره کومه اسانه طریقه نه وه، له یوې طریقې سره سم د ځینو ځانګړو شمېرنو لپاره ځینې الفاظ مقرر وو.

مثلاً سهاسرا (۱۰۰۰)، آیوتا (۱۰،۰۰۰)، لکشا (۱۰۰،۰۰۰)، کوتی (۱۰۰۰۰۰۰۰)، او...

د صفر ایجاد په علم الحساب کې انقلابي بدلون راوست، اوس لوی حسابونه کول ډېر زیات اسانه شول.

برهماګپت (۶۶۰-۵۹۸) په ملتان کې پیدا شو، په لومړي ځل یې د صفر (زیرو) طریقې ټاکلو کوښښ وکړ، خو د ده په دې طریقه کې یو څه خامي وه، له دې وروسته بهاسکر (۱۱۸۵-۱۱۱۴) په نیجاپور کې پیدا شو، په سنسکرټ کې یې یو کتاب «لیلاوتي» ولیکه، په دې کتاب کې د صفر اصول ډېر په ساده او اسانه شکل بیان کړل شوي وو.

ښاغلي مورتهي په دې کتاب تبصره (ټایمس آف انډیا ۳۰ جنوري ۱۹۸۹) کې کړې ده، لیکلي یې دي: دا خبره زموږ د ملي ویاړ احساس ډېروي چې د صفر نظریه په هند کې پیدا شوه.

It boots our sense of national pride to not that th Zero was conceived in India. (P.6)

لیکوال د دې کتاب له لارې خپلو لوستونکو ته په ګوته کوي چې هندي شمار لومړی له هنده اسپین ته لاړ، بیا ایټالیا، فرانسې، انګلستان او المان ته ورسېد، هندوستاني شمار په لویدیځ کې په پوره توګه ومنل شو.

د هغوی منل د رياضي او ساينس لپاره د انقلاب يوه نقطه وګرځېده:

The Indian numbers first entered Spain, then Italy, France, England and Germany... Indian numbers were accepted completely... Their adoption turned to the turning point in the history of mathematics and science.

دا سمه ده چې د صفر د تصور ابتداء په هند کې وشوه؛ مګر دا سمه نه ده چې له هندوستانه نېغ په نېغه لويديځې نړۍ ته ورسېد، دا طريقه د عربو په لاس لويديځې نړۍ ته ورسېده، همدا لامل دی چې په لويديځ کې دې ته د هندوستاني شمېر پر ځای عربي شمېر (Arabic Numerals) وويل شول.

د برټانيکا انسايکلو پيډيا (۱۹۸۴) الفاظ دلته رانقلوو:

Arabic numerals – the numbers, 0,1,2,3,4,5,6,7,8,9; they may have originated in India but were introduced to the western world from Arabic. (EB-1469)

عربي اعداد يانې له صفر تر ۹ پورې شمېر ايجاد کېدی شي په هند کې شوی وي؛ مګر لويديځې نړۍ ته د عربو په لاس ورسېد، برټانيکا انسايکلوپيډيا بل ځای کې وايي چې د اروپا تر زده کړيالې طبقې پورې دا اعداد د نهمې عېسوي پېړۍ عربي رياضي پوه الخوارزمي د تحريرونو له لارې ورسېدل، الخوارزمي د هندوستاني شمېر اصول په عربي کې وليکل، بيا دا عربي کتاب لاتينۍ ته په ژباړلو اروپا ته ورسېد. (EB 10/817)

برټريندرسل ليکلي دي چې محمد بن موسىٰ الخوارزمي چې د رياضي او فلکياتو د سنسکرټ کتابونو يو عربي ژباړن و، ۸۳۰ م کې يې يو کتاب خپور شو، په دولسمه عېسوي پېړۍ کې د دې کتاب ژباړه له عربۍ نه لاتيني ژبې ته وشوه، همدا کتاب و چې لويديځ ترې په لومړي ځل په دې پوه شو چې مونږ ورته عرب اعداد وايو، که څه هم باوري حقيقت ورته بايد هندوستاني اعداد وويل شي، همدې ليکوال (الخوارزمي) په الجبر يو کتاب وليکه چې تر

شپاړسمې پېړۍ پورې په اوډيدېخ کې د نصاب د کتاب په توګه کارول کېده.

Bertrand Russel: A History of oestern philosophy (London 1984, p. 416)

د صفر نظريه که څه هم په هند کې جوړه شوه؛ مګر تر څو سوو کلونو پورې دې ته په خپله په هند کې شهرت ترلاسه نه شو، په هند کې هم دې ته هغه مهال شهرت په برخه شو او زيات شو، کله چې لومړی عربو او بيا اروپا دا غوره کړله.

د برتانيکا انسايکلوپيډيا مقاله ليکوال ليکي چې ايجاد يې په غالب ګومان هندوانو کړی، د رياضي په تاريخ کې ډېر لوړ اهميت لري، هندي لټريچر د دې خبرې شاهدي ورکوي چې صفر ممکن دی چې د حضرت مسيح له زوکړې مخکې معلوم شوی وي؛ مګر داسې هيڅ کومه کتبه نه مونده کېږي چې له نهمې پېړۍ وړاندې وي:

The invention, probably by the Hindus, of the digit zero has been described as one of the greatest importance in the history of mathematics. Hindu literature gives evidence that the zero may have been known before tha birth of Christ, but no inscriptioin has been found with such a symbol before the 9th century (EB-1/ 1175)

دا خبره په خپل ذات کې سمه ده چې د صفر د کارولو د تصور ابتداء د يوه هندوستاني په ذهن کې پيدا شوه؛ مګر هغه وخت په هند کې په پوره توګه شرک او خيالي تابعداري بشپړ واکمن وو.

له هر څيز سره له اسرار ډک عقايد تړلي وو، نو يو څيزونو ته سخت په بد نظر کتل کېدل، په دې اساس په پخواني هندوستان کې د صفر تصور ته عمومي هرکلي ترلاسه نه شو، يو انفرادي ايجاد واوسېد، د اجتماعي هرکلي بريد ته ونه رسېد.

اسلام چې کله د شرک او توهم پرستۍ ماحول لمنځه یووړ، نو هلته چې ځنګه نورو نویو ځیزونو ته هرکلي وویل شو، همدا شان د صفر تصور هم بدرګه شو، د هند تخم ته همغږې ځمکه یا کرونده په مسلمان بغداد کې ترلاسه شوه، هلته ونه شوه او بیا د همدې مسلمانانو په لاس اسپېن ته په رسېدو په ټولې اروپا وغوړېده.

## کرهڼه او اوبو لګونه

په پخوا زمانه کې چې د فطرت کوم مظاهر د خدایي اوصافو وړ ګڼل شوي وو، یو یې سیند و، د سیندونو په اړه دا عقیده وه چې په دې کې له اسرار ډک خدایي روح دی، همدا روح سیندونه بهوي او د انسانانو لپاره یې په ګټه او زیان تماموي.(EB/17/129)

په پخواني یونان کې سکامنډ روز (Skamandros) د سیند په اړه دا عقیده وه چې د تولید او زرغونونې ورتیا درلوده، دا چې په ۱۴مه پېړۍ مخکې له مسیح یو یوناني ویناوال وایي چې نجونې یې له واده مخکې په مقدس سیند کې لامبي او وايي چې «سکامنډ روز، زما لونډتوب ومنې». په بېلا بېلو هېوادونو کې داسې جادویي رسوم تر سره کولو رواج پاتې شوی دی چې په هغو کې د سیند اوبه د ښځې حامله کولو لپاره کارول کېدې.(EB-12/882)

سیندونه مقدس ګڼلو له امله دا وشول چې خلکو د سیندونو عبادت شروع کړ، د دې په نوم یې منښتې او قرباني وړاندې کړې، په دې توګه د سیندونو د تقدیس نظریې د سیندونو د تسخیر ذهن پیدا کولو ته پرېنښود، خلکو سیندونو ته د سپېځلو خدایګوټو په شکل کتل، نه د یوې عامې طبیعي پېښې په توګه چې په ساده انساني تدبیر سره یې وکاروي.

همدا لامل دی چې په پخوا زمانه کې د سیندونو کرهنیزه کارونه ډېره وه، د اوبو لګونې تاریخ په حیرانوونکې توګه د انسان له نوي تاریخ سره اړیکه لري.

د اسلام له لارې چې کله د توحید انقلاب راغی او انسان ته دا معلومه شوه چې سیند یو مخلوق دی؛ نه خالق، یو بنده دی؛ نه خدای.

له دې وروسته دا ممکن شوه چې انسان په لویه کچه سیندونه د خپلې گټې لپاره د کارولو فکر وکړي، همدا لامل دی چې موږ په تاریخ کې دا لولو چې د اسپېن مسلمانانو چې په څومره پراخه پیمانه د اوبو لگولو نظام جوړ کړ، د دې بل مثال له دې وړاندې په بل قام کې نه ترلاسه کېږي.

د اسپېن مسلمانانو کرهنې ته دومره وده ورکړه چې یو پوره فن وگرځېد، هغوی د ونو مطالعه وکړه او د ځمکې له خاصیت یې اشنایي ترلاسه کړه، د اسپېن زرگونه مربع میله ځمکه چې دښته پاتې وه، مسلمانانو په مېوه لرونکیو ونو او گلډېرونکو فصلونو په شکل جوړه کړه، وریجي، گني، زعفران، شفتالو او... چې په اوسني اسپېن کې په کثرت سره مونده کېږي، د همدې مسلمانانو په لاس اسپېن ترلاسه کړي دي، هغوی د اندلوسیه او اشبیلي په ولایتونو کې د زیتون او خرما کښت ته په زړه پورې وده ورکړه، د غرناطه او مالقا په سیمو کې د انگورو پیداوار په پراخه کچه وشو.

چارلس سینو بوس (فرانسوي لیکوال) لیکلي دي چې اسپېني عربو د نهرونو له لارې د اوبو لگونې طریقه غوره کړه، لوی - لوی څاگانې یې وکیندلې چې د اوبو د نویو سرچینو معلومات یې وکړل، انعامونه یې ورکړل.

په مختلفو برخو د ځمکې کې د اوبو د وېش اصطلاح گانې وضع شوې، په اسپېن کې د اوبو لگونې لپاره لوی -لوی نهرونه جوړ کړل شول او بیا ترې وړې -وړې ویالې بېلې شوې، پر مټ یې د بلنیه (Valencia) دښته سیمه سمسوره شوه.

هغوی د نهر خپلواکه اداره جوړه کړه چې له مخې به یې په نهرونو کې د اوبو اړوند هر ډول معلومات ترلاسه کولی شول.

اسپېني کرهنې ته چې عربو کومه وده ورکړه، د دې یادونه پروفیسور هټي کړې ده، لیکلي یې دي چې دا کرهنیزه وده د مسلمان اسپېن په زړه پورې

کارنامو کې یوه هغه وه او د دې هېواد لپاره د عربو یوه مستقله ډالۍ وه.
د اسپېن باغونه نن هم د هغوی د نښې په توګه خوندي دي:

This agricultural development was one of the glories of Moslem Spain and one of th Arab's lasting gifts to the land, for Spanish gardens have preserved to this day a "Moorish" imprint. (*History of the Arabs,* p. 528)

برټرينډرسل د مسلمان اسپېن يادونه کړې، ليکلي يې دي چې د عربو د اقتصاد يو مخکښ صفت د هغوی کرهنه وه، په ځانګړې توګه د هغوی ډېر په ماهرانه انداز کې د اوبو لګولو نظام جوړول چې هغوی له خپلو صحرايي ژوند زده کړی و چې هلته اوبه ډېرې لږې وې، د اسپېن زراعت نن هم د عربو د اوبو لګونې له نظامه ګټه اخلي:

One of the best features of the Arab economy was agriculture, particularly the skillful use of irrigation, which they learne from living where water is scarce. To this day Spanish agriculture profits by Arab irrigation works. (*A History of Western Philosophy,* p. 416)

دا يو حقيقت دی چې اسپېن ته کوم مسلمانان ولاړل، هلته يې يو نوی کرهنيز انقلاب جوړ کړ، هلته يې د کروندو او باغونو اوبو لګولو داسې نظام رامنځته کړ چې مثال يې تر دې وړاندې تاريخ کې نه ترلاسه کېږي، برټرينډرسل په عجيبه توګه د هغوی دا کارنامه د هغوی له صحرايي ژوند سره تړلې ده، دا توجيه سر تر پايه بې معنا ده.

حقيقت دا دی چې د هغوی د دې کارنامې اصل سبب هغه موحدانه انقلاب و چې د عربو ذهن يې له يوې مخې بدل کړ.

مخکې خلکو به سيندونو، چينو او سمندرونو ته د خدای په بڼه کتل، د درناوي وړ څيزونه يې ګڼل، نه د کارولو او تسخير څيزونه، عربو د خپل بدل

شوي ذهن له مخې دا څيزونه د مخلوق په شکل کې وکتل، په هغه نظر يې وروکتل چې څه ډول يې مسخر کړي او په خپل کار او ګټه يې راولي، همدا هغه ذهني انقلاب دی چې عرب يې د دې وړ کړل چې د کرهنې او اوبو لګونې په نړۍ کې تاريخي کارنامه ترسره کړي شي.

د صحرا ژوند چېرته چې اوبه لږې مونده کېږي، هلته د اوبو رسولو اصول څه ډول زده کېدی شي.

برټرينډرسل ته د عربو د دې صفت سم ماخذ معلوم نه و؛ ځکه يې ښخي په نا اړونده ډول دوی د دوی له بې اوبو او بې زرغونې ژوند سره وتړل؛ حالانکه په سمه توګه له هغه ذهني انقلاب سره تړل کېږي چې د توحيد له لارې پکې پيدا شوی و.

دا د موحدانه ژوند پايله وه؛ نه د صحرايي ژوند.

## د تاريخ علم

په اوسنۍ زمانه کې د تاريخ د مطالعې طريقه دا ده چې ملت (Nation) د يونټ په ګڼلو سره د تاريخ مطالعه کېږي، آرنلډ ټواين بي په دې کې په بدلون راوستلو دا وکړل چې تهذيب (Civilization) يې د تاريخي مطالعې لپاره د يونټ ګڼلو کوښښ کړی دی. (EB-X/76)

خو د دواړو نظرياتو ګټه خلاصه يوه ده، د دواړو مدعا دا ده چې تاريخ د کوم يو فرد تابع نه کړل شي؛ بلکې د ټولو انساني ګروه ټولې بوختياوې او هڅې د تاريخ د مطالعې موضوع وګرځول شي.

د اوسنۍ زمانې تاريخ ته که انسان نامه وويل شي، نو د پخوانۍ زمانې تاريخ يوازې شاه نامه کېږي، په پخوا زمانه کې د پاچاهانو د تاريخ نوم تاريخ و، دا يوازې د اوسنۍ زمانې خبره ده چې تاريخ د يوه پېر علمي، اقتصادي، ټولنيز، سياسي او تمدني احوالو د مطالعې هم معنا ګڼل کېږي.

ته وا چې پخوانی تاریخ د عام انسانیت پاتې والی و، په هغه کې عام انسان د یادولو وړ نه و، د یادولو وړ یوازې یو شخص و او هغه هماغه و چې په سر یې د پاچاهی تاج ځلېده، د تاریخ شاه نامه کولو دا مزاج دومره ډېر زیات شوی و چې د غیر شاهانو واقعات له سره د یادونې وړ نه ګڼل کېدل، هغه که په خپل ذات کې هر څو ډېر ستر هم وو، د دې کیسې یو عجیب مثال هغه دی چې د پیغمبرانو اړوند دی، د انساني تاریخ ښایي تر ټولو ډېره عجیبه واقعه دا ده چې په تاریخ همغه خبره له لیکلو پاتې شوه چې تر ټولو ډېره د اهمیت وړ وه، دا د هغو سپېڅلو هستیو حالات دي چې پیغمبر ورته وایه شي.
د انسانیت په مدون تاریخ کې د پاچاهانو پوره او بشپړې یادونې دي، د هغوی له ودانیو تر پوځي مشرانو پورې حال راغلی دی؛ مګر د خدای پیغمبرانو چې په خپله زمانه کې کوم کار کړی د هغې مدوّن په انساني تاریخ کې هیڅ یادونه نه لیدل کیږي.
که د هندوستان د خپلواکۍ داسې تاریخ ولیکل شي چې په کې د ګاندي نوم نه وي؛ که د شوروي داسې تاریخ ولیکل شي چې د لېنن له یادونې خالي وي، نو داسې تاریخ به خلکو ته ډېر عجیبه معلوم شي.
مګر تر دې هم ډېر عجیبه پېښه دا ده چې د انسانیت مدون تاریخ د هغو روحاني هستیو له یادونې په پوره توګه خالي دی چې پیغمبر ورته ویل کیږي، په دې کې یوازې د وروستي پیغمبر استثنا ده او د دې لامل دا دی چې هغه په خپله دا تاریخ بدل کړ چې په پایله کې په ماضي کې بیا - بیا رامنځته کېده.
په ماضي کې دا عظیم تاریخي بدلون ځکه وشو چې د پخوا تاریخپوهانو په نزد یوازې «پاچا» او ورسره اړیک لرونکي مسالې د یادونې وړ وې.
له دې پرته نور ځیزونه یې په نزد له سره د دې وړ نه وو چې یادونه یې وشي، د غیر واکمنو حال دا و چې د هغوی حقیقي واقعات به هم د یادونې وړ نه ګڼل کېدل؛ مګر له واکمن سره اړیکې لرونکې فرضي افسانې هم داسې په اهتمام سره لیکل کېدې، ته وا ډېر لوی حقیقت دی، د مثال په توګه، د مصر-

ساحلي ښار اسکندريه، سکندر اعظم په ۲۳۲ق.م کې جوړ کړ، د همده په نوم دی اسکندريه (Alexandria).

د سکندر دې شاهي کارنامې په اړه د هغه وخت مورخينو چې کومې حيرانوونکې کيسې ليکلي دي، يوه يې دا ده چې کله سکندر د سمندر په غاړه د دې ښار جوړونه پيل کړه، نو بحري شيطانانو مزاحمت وکړ، له هغې وروسته سکندر د لرګيو او ښيښو يو بکس تيار کړ، د دې په مرسته يې په سمندر کې غوپه ووهله، د سمندر تل ته ورسېد، هلته يې سمندري شيطانان وليدل، د هغوی تصويرونه يې واخيستل، بيا يې له هغو تصويرونو سره سم يې د هغوی معدني مجسمې جوړې کړې او دغه مجسمې يې د اسکندريه په بنيادونو کې ښخې کړې، له دې وروسته چې کله سمندري شيطانان راغلل او ويې ليدل چې د هغوی د جنس خلک يې وژلي او په بنياد کې يې ښخ کړي دي، نو له وېرې وتښتېدل.

له اسلام وړاندې په ټول پخواني پېر کې همدا د ټولې نړۍ حال و، په معلوم انساني تاريخ کې عرب مورخ ابن خلدون (۱۴۰۶-۱۳۳۲م) لومړنی شخص و چې د تاريخ ليکنې فن يې بدل کړ او تاريخ يې د شاهنامې له پېر نه په راويستو انسان نامې پېر ته ننويست، ده تاريخ د علم الملوک پر ځای علم الاجتماع وګرځاوه، حقيقت دا دی چې هغه علم چې په اوسنۍ زمانه کې ورته د اجتماع علم (Sociology) وايه شي، دا د همدې ابن خلدون کارنامه ده.

ابن خلدون د ځان په اړه ليکلي دي چې دی د يوه نوي علم (علم العمران) بنسټګر دی او دا خبره بې له اختلافه سمه ده.

دا په اصل کې ابن خلدون دی چې اروپا ته يې د نوي فن تاريخ ورکړ او خپله ابن خلدون ته چې له کوم ځه دا څيز ترلاسه شوی و، هغه اسلام و، اسلامي انقلاب ابن خلدون پيدا کړ او ابن اخلدون د تاريخ نوی فن پيدا کړ، ابن خلدون چې د تاريخ په نظريه کې کوم بدلون راوست، د دې اعتراف د شلمې پېړۍ مشهور انګرېز تاريخ پوه آرنلډ ټاين بي په دې الفاظو کړی دی

چې ابن خلدون د تاريخ يوه فلسفه پيدا کړه، دا بې له شکه د خپل اصل تر ټولو ستر علمي کار دی چې کله هم کوم ذهن په کومه زمانه کې يا په کوم مقام پنځولی وي.

A phihy of history which is ndoubtedly the greatest work of its kind that has ever yet been created by any mind in any time or place. (EB-9/148)

په همدې توګه رابرټ فلنټ (Robert Flint) په دې لويو الفاظو کې د ده د عظمت اعتراف کړی دی چې د تاريخ نظريې جوړوونکي په توګه يې په هر پېر يا هم هېواد کې خپله ثاني نه درلوده، تر دې پورې چې له ده درې سوه کاله وروسته وايکو (Vico) پيدا شو، اپلاطون، ارسطو، آګستين د دې هم رتبه وو:

As a theorist on history he had no equal in any age or country until Vico appeared, more than three hundred years later. Plato, Aristotle and Augustine were not his peers. (EB-9/148)

پروفيسور هتي ليکلي دي چې د ابن خلدون شهرت د هغه د مقدمې له امله دی، په خپل دې کتاب کې يې په لومړي ځل د تاريخي حالاتو يوه داسې نظريه وړاندې کړه چې پکې د آب و هوا او جغرافيې طبيعي حقايقو ته د تاريخ په علم کې رښتونی ځای ورکړ او د دې ترڅنګ يې روحاني او اخلاقي طاقتونه هم چې په تاريخ باندې اغېز کوي، د قومي عروج و زوال قوانينو وضع کوونکيو په توګه ابن خلدون ته د دې موندونکی ويل کېږي؛ لکه څنګه يې چې په مقدمه کې خپله هم ځان ته همدا حيثيت ورکړی دی، ابن خلدون د تاريخ واقعي امکانات او د هغو رښتونی اصل رامنځته کړ، لړ تر لړه د ټولنيز علم حقيقي بنسټګر دی.

هيڅ عرب ليکوال، آن کوم اروپايي مصنف داسې نشته چې تاريخ ته يې په داسې جامع او فلسفيانه انداز کتلي وي.

د ناقدینو له ډمغړې رای سره سم، ابن خلدون تر ټولو لوی تاریخي فلسفي و چې اسلام پیدا کړ؛ بلکې هغه په ټولو زمانو کې پیدا کېدونکیو خلکو کې تر ټولو لوی فلسفي مورخ حیثیت لري:

P.K.Hitti, History of the Arabs, London 1970, p. 568.

ابن خلدون دخپلې مقدمې په لومړی برخه کې عام اجتماعیات بیان کړي دي، په دویمه او دریمه برخه کې یې سیاسي اجتماعیات بیان کړي دي، په څلورمه برخه کې د ښاري ژوند اجتماعیاتو یادونه ده، په پنځمه برخه کې د اقتصادي اجتماعیاتو بیان دی، په شپږمه برخه کې د علم الاجتماع بیان دی، هر څېرکی یې له علمي پلوه ډېر لوړ دی، په دې توګه هغه د یوه داسې تاریخ د علم بنیاد ږدي چې یوازې د پاچاهانو په احوال نه راڅرخي؛ بلکې په پراخه کچه د ټول ملت په اقتصاد، سیاست، تعلیم، مذهب، اخلاق او تمدن راڅرخي.

د تاریخ د علم محققینو په عام ډول دا منلې ده چې د عبدالرحمن ابن خلدون تر راڅرګندېدو پورې د تاریخ فن په نا پرمختللي حالت کې پروت و، ابن خلدون لومړنی شخص دی چې د تاریخ د نوي فن آغاز یې وکړ؛ مګر پوښتنه دا ده چې خپله د ابن خلدون لپاره دا څنګه ممکن شوه چې یو داسې شاهکار ومومي چې له ده وړاندې بل هیڅ شخص ونه مونده شو، د دې ځواب دادی چې نور مورخین له اسلام وړاندې پیدا شول او ابن خلدون له اسلامي انقلاب وروسته پیدا شو، ابن خلدون په اصل کې د اسلامي انقلاب لاسته راوړنه وه او همدا هغه څیز دی چې ابن خلدون یې ابن خلدون وګرځاوه.

د تاریخ د فن په پرمختګ کې بیا څل هماغه څیز حایل و چې په مذهبي اصطلاح کې ورته شرک وایه شي، له اسلام وړاندې ټوله زمانه د خدایي پاچاهانو زمانه وه، ځینو پاچاهانو نېغ په نېغه د خداییتوب دعوه کوله او له خلکو به یې خپل پرستش کاوه، ځینو پاچاهانو خپل ځانونه د خدای تجسیم

يا يې نايب ګڼل، په ولسونو يې دا عقيده وېشلې وه چې په خپل رعيت ورته د غوڅې واكمنۍ اختيار ترلاسه دی.

ځينو پاچاهانو په لفظي توګه خو د خدايي دعوه نه كوله؛ مګر عملا يې په مملكت كې همغه فضا وه چې په نورو ملكونو كې مونده كېده.(EB-V/816)

اسلام دا حالت بدل كړ، اسلام د توحيد په بنياد هغه انقلاب رامنځته كړ چې له هغې وروسته په پاچا او نا پاچا كې هيڅ توپير پاتې نه شو، ټول انسانان يو شان د يو آدم او حوا اولاد وګڼل شول.

د انساني برابرۍ له دې عظيم انقلاب وروسته دا ممكن شوه چې يو ابن خلدون دې پيدا شي چې «پاچا» د مركز په توګه د فكر كولو پر ځای دې عام انسانيت په مركز ګرځولو فكر وكړي او بيا دې د نوي تاريخ علم بنياد كېږدي.

د اسلام د پيغمبر صلى الله عليه وسلم زوی ابراهيم په مدينه كې پيدا شو، د يو نيم كال په عمر كې د شوال په ۱۰مه هـ (۶۳۲م) كې ومړ، تصادفاً په همدې ورځ لمر تندر ونيوه، په پخوا زمانه كې چې د كوم شرك رواج و، په هغو كې يو دا و چې د پاچا يا بل لوی انسان مرګ به كېده، نو لمر يا سپوږمۍ به تندر نيول، ته وا آسمان د لويو انسانانو په مرګ غم نمانځي.

د اسلام د پيغمبر حيث هغه وخت د عرب پاچا و، دا چې د مدينې ځينو مسلمانانو د پخواني تصور له مخې وويل چې د لمر تندر نيونه د ابراهيم د مړينې له امله وشوه، كله چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم خبر شو، نو سم له واره يې ترديد كړه، په دې لړ كې مختلف روايتونه د حديث په كتابونو كې راغلي دي، يو روايت دا دی:

﴿عَنْ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ خَرَجَ يَوْمًا مُسْتَعْجِلاً إِلَى الْمَسْجِدِ وَقَدْ انْكَسَفَتِ الشَّمْسُ، فَصَلَّى حَتَّى انْجَلَتْ، ثُمَّ قَالَ: "إِنَّ أَهْلَ الْجَاهِلِيَّةِ كَانُوا يَقُولُونَ: إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لاَ يَنْخَسِفَانِ إِلاَّ لِمَوْتِ عَظِيمٍ مِنْ عُظَمَاءِ أَهْلِ الأَرْضِ، وَإِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لاَ يَنْخَسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلاَ لِحَيَاتِهِ، وَلَكِنَّهُمَا خَلِيقَتَانِ مِنْ خَلْقِهِ، يُحْدِثُ اللَّهُ فِي خَلْقِهِ مَا يَشَاءُ، فَأَيُّهُمَا انْخَسَفَ

فَصَلُّوا حَتَّى يَنْجَلِيَ أَوْ يُحْدِثَ اللَّهُ أَمْراً﴾(سنن النسائي/ حديث نمبر ۱۴۹۰)
یانې نعمان بن بشیر روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په بیړه یوه ورځ ووت، جومات ته لاړ، هغه ورځ لمر تندر نیولی و، لمونځ یې وکړ، تر دې پورې چې لمر پاک شو، بیا یې وفرمایل چې د جاهلیت خلکو به ویل چې لمر او سپوږمۍ هغه وخت تورېږي، کله چې د ځمکې په لویو خلکو کې د چا مرګ رامنځته شي؛ مګر حقیقت دا دی چې په لمر و سپوږمۍ کې د چا مرګ و ژوند له امله تندر نه راځي، دا دواړه د الله تعالی له مخلوقاتو دوه مخلوقه دي، الله په خپلو مخلوقاتو چې څه وغواړي کوي یې.
نو کله چې په دواړو کې کوم تندر ونیسي، نو تاسې لمونځ وکړئ، تر چې لمنځه لاړ شي، یا الله تعالی کومه خبره ښکاره کړي.
د پخوا زماني واکمن د خلکو دې ډول شرکي خیالاتو سرپرستي کوله، دې لپاره چې په خلکو یې عظمت سیوری وي.
په معلوم تاریخ کې د اسلام پیغمبر لومړنی واکمن دی چې د دې ډول بې بنیاده عقایدو تردید یې وکړ، په دې توګه یې انسان ته یو نوی ذهن ورکړ، د یو انسان او بل انسان توپیر یې په فکري او علمي توګه ختم کړ، دا مفروضات او توهمات یې بې بنیاده وګڼل چې له مخې یې داسې خیالونه د خلکو په ذهنونو کې راسخ شوي وو.
کله چې په ټول عرب د اسلام غلبه وشوه، نو پیغمبر صلی الله علیه وسلم په خپل وروستي عمر کې نږدې له سل زره پورته صحابه وو سره حج ته ولاړ، په دې حج کې یې د عرفات په میدان هغه تاریخي خطبه ورکړه چې د مخه ښې (حجة الوداع) خطبه ویل کیږي.
دا خطبه ګویا د عرب واکمن په حیث د انساني دستور عام اعلان و، ویې فرمایل: ای خلکو! واورئ، ټول خلك له یوه سړي او ښځې پیدا کړل شوي دي، په دوی کې چې کوم په ښکاره ډول توپیر دی، دا یوازې د پېژندنې او پېژندګلو لپاره دی، له تاسې نه الله ته نږدې تر ټولو درونډ شخص هغه دی

چې تر ټولو ډېر له الله نه داریږي.
کوم عربي ته په کوم عجمي هیڅ توپیر او فضیلت نشته او نه کوم عجمي ته په کوم عربي، د تور په سپین او سپین په تور، هیڅ فضیلت نشته، د فضیلت ځیز یوازې تقوا ده. (مسند احمد، حدیث نمبر ۲۳۴۸۹)
بیا یې وفرمایل چې واورئ، د جاهلیت هره خبره او هره کیسه زما د قدمونو لاندې ښخه شوه «الا کل شئ من أمر الجاهلية تحت قدمي موضوع» السيرة النبوية لابن كثير، جلد ۴، مخ ۳۴۰.
په پخوا تاریخ کې په لومړي ځل داسې وشول چې د وخت یوه واکمن په انسانانو کې د هر ډول لوړ ټیټ او هر ډول دروغجن امتیاز عملا لمنځه یووړ. له دې وروسته په انساني نړۍ کې یو نوی تهذیب پیدا شو چې په هغه کې ټولو انسانانو یو شان حیثیت درلود. له رسول الله صلى الله عليه وسلم وروسته چې کوم خلک د اسلامي نړۍ واکمن وګرځېدل، هغوی که څه هم د پخوانۍ آبادې نړۍ د ډېرې پراخې برخې واکمن وو؛ مګر د مهاتما ګاندهي په الفاظو. هغوی که څه هم د یوه پراخ سلطنت خاوندان وو؛ مګر په خلکو کې د فقیرانو غوندې اوسېدل.

Though they (Abu Bakr and Umar) were masters of vast empire, yet they lived the life of paupers.

دا انقلاب دومره مزبوط و چې په وروسته پېړ کې چې کله د حکومت په اداره کې ګډوډي راغله او د «خلیفه» پر ځای «سلطان» راغی. بیا هم د اسلامي تهذیب د فشار له مخې دا حال و چې یو سلطان به د پخوا په څېر پاچا نه شو پاتې کېدی، په دې لړ کې د اسلام په تاریخ کې بې شمېره پېښې شته دي. دلته یوازې یوه پېښه رانقلوو.
سلطان عبدالرحمن الثاني (۲۳۸ – ۱۷۶هـ) د مسلمان اسپین باتجربه پاچا و، د «الزهرا» په نوم یې دومره لوی محل جوړ کړ چې د محل کلمه ورپورې ډېره کوچنۍ ښکاره کېده، نو ځکه د زهرا قصر پر ځای مدینة الزهرا ونومول شو، د

سلطان عبدالرحمن ثاني واقعه ده، یو کال یې د روژې په میاشت کې یوه روژه قضا کړه، له شرعي عذر پرته یې یوه روژه ونه نیوله، خو د پاچا په توګه یې دا همت ونه شو چې خپل ځان له قانونه پورته وګڼي، دا چې د قرطبې علماء یې دربار ته وبلل او خپل مشکل یې ورته ووایه، د عام سړي په توګه یې ترې فتوا وپوښته، علامه مقري لیکلي دي چې د علماوو په مجلس کې امام یحیی بن یحیی هم موجود و، امام یحیی د معاملې په اوریدو فتوا ورکړه چې پاچا په دې غلطۍ د کفارې په توګه پرلپسې شپېته ورځې روژه باید ونیسي، کله چې یې فتوا ورکړه، له محل بهر ووت، نو یوه عالم ورته وویل چې حضرت! په شریعت کې شپېته مسکینانو ته د ډوډۍ خوړلو حکم خو و، بیا مو پاچا ته دومره سخته فتوا ولې ورکړه، تاسې خو دا فتوا هم ورکولی شوه چې پاچا د یوې روژې په بدل کې شپېته مسکینانو ته ډوډۍ ورکړي.
امام یحیی وویل چې د پاچاهانو لپاره شپېته خلکو ته ډوډۍ ورکول کومه سزا نه ده. (نفح الطیب، جلد۲، مخ ۱۱- ۱۰)
دا چې د اندلس تاریخ وایي چې سلطان عبدالرحمن (الثاني) بن الحکم د امام یحیی فتوی په منلو پرلپسې شپېته روژې ونیولې او کوم غبرګون یې هم ښکاره نه کړ، حتی چې امام یحیی یې له خپلې مذهبي دندې لرې هم نه کړ.
دا د هغه انقلاب اغېز و چې اسلام پیدا کړ، دې انقلاب د پاچا او رعایا توپیر ختم کړی و، دې انقلاب د انساني برابرۍ یو ماحول جوړ کړی و چې کوم شخص ځان له نورو برتر او غوره نه شي ګڼلی، د پاچا همت هم نه کېده چې ځان له عامو انسانانو ممتاز وګڼلی شي او د ځان لپاره د قانون د پابندۍ اړتیا ونه ګڼي.
حالانکه له اسلامي انقلاب مخکې دا یوه منل شوې خبره ګڼل کېده چې پاچا له عامو انسانانو لوړ حیثیت لري، مثلاً د اسلام د پیغمبر هم عصر رومي پاچا هرقل (Heraclius) که څه هم خپل ځان ته مسیحي ویل؛ مګر له خپلې خورزې سره یې نکاح وکړه چې له مسیحي شریعت سره خلاف و:

He had married his niece, Matrina, thus offending the redgius Scruples of many of his subjects, who viewed his second marriage as incestuous. (EB- 8/ 782)

خلکو ته معلومه وه چې دا یوه حرامه نکاح وه؛ مګر سربېره پر دې ټولو خلکو خاموشي غوره کړه، د دې لامل دا و چې هرقل «پاچا» و او پاچا حق درلود چې هرڅه وغواړي ویې کړي، له عام انساني معیار سره نه شي ناپ کېدلی او کچ کېدلی.

په تېره زمانه کې مختلف قسم خرافاتي او شرکي عقایدو له مخې د پاچا د عظمت لوی تصور د خلکو په ذهنونو خور شو، هغوی پاچا له ځانونو لوړ ترین مخلوق وګانه، خپله پاچا هم د ځانګړو رسومو، آدابو له مخې د دې ذهن پوره تصدیق کاوه، په هغو حالاتو کې پاچا ته په خپل مملکت کې هماغه د عظمت مقام ترلاسه شو چې په پراخو کایناتو کې د خدای لپاره ګڼل کېده، په قدرتي توګه د تاریخ جوړوني فن له دې اغېزمن شو او تاریخ عملاً د پاچاهانو د یادوني نوم پاتې شو. په عربو کې او نورو هېوادونو کې چې کله اسلامي انقلاب راغی، نو څنګه یې چې لمر و سپوږمۍ له خدایي منصبه لرې کړل، په دې توګه یې پاچاهان هم د لوی عظمت له مقامه کښته کړل، اوس پاچا هم هماغه شان یو انسان و، څنګه چې عام خلك انسانان وو. د اسلامي انقلاب اثرات د اسیا او افریقا او اروپا زیاتره ابادې نړۍ ته ورسېدل، په دې سره په نړیواله کچه یو نوی ماحول پیدا شو، په خلکو کې یو نوی سوچ راپورته شو، پخواني شاهي مرکزي (King - Centred) ذهن پای ته ورسېد او پر ځای یې انسان مرکزي (Man Centred) ذهن پیدا شو.

د تاریخ د علم له مخې د دې ذهن لومړنی ستره څرګندونه عبدالرحمن ابن خلدون (۱۴۰۶ – ۱۳۳۲) و، هغه د العبر په نوم د عربو تاریخ ولیکه چې بشپړ نوم یې: «کتاب العبر و دیوان المبتدا والخبر في ایام العرب والعجم والبربر ومن عاصرهم من ذوي السلطان الاکبر» په اوسني پېر کې دا کتاب د ابن

خلدون تاریخ په نوم چاپ شوی دی، خو د ابن خلدون اصل کارنامه د هغه د تاریخ په فن هغه مفصله مقدمه ده چې د ابن خلدون مقدمې په توګه یې لیکلې ده، دا مقدمه له اصل کتاب نه ډېره قیمتي ګڼل کېږي؛ ځکه چې په ځانګړې توګه «د ابن خلدون مقدمه، مقدمه ابن خلدون» په نوم بیا - بیا په مختلفو ژبو کې چاپ شوې ده. مورخ المقریزي د ابن خلدون شاګرد و، ابن خلدون په پنځلسمه عیسوي پېړۍ کې د مصر په اهلِ علمو اغېز وکړ، له دې وروسته په نورو هېوادونو کې یې تاریخي طرز فکر خور شو. د ۱۸۶۰ او ۱۸۷۰ ترمنځ د ده د مقدمې پوره ژباړه په فرانسوي ژبه کې وشوه او خپره شوه، په دې توګه د ابن خلدون تاریخي افکار اروپا ته خواره شول، هلته ورته تود هرکلی وشو، بالاخر په ۱۷مه پېړۍ کې وایکو (Giambattista Vico) او نور لویدیځ مورخین پیدا شول.

هغوی دا کار لا پسې مخ ته یووړ، تر دې پورې چې هغه څېز په وجود کې راغی چې د تاریخ نوی علم ورته ویل کېږي.

# څلورم څپرکی

## انساني برابري يا ورته والی

د ټولو فلسفيانو او مفکرينو د خوښې خوب او ارمان انساني برابري او ورته والی دی؛ مګر محمد صلی الله عليه وسلم د تاريخ لومړنی انسان دی چې راوړي اسلامي انقلاب يې په ټول تاريخ کې د لومړي ځل لپاره انساني برابری ته د عمل جامه واغوسته، د دې اعتراف په عام ډول سنجيده اهلِ علمو کړې دی، د مثال په توګه سوامي ويويکانند په خپل چاپ ليک (نمبر ۱۷۵) کې ويلي وو: زما تجربه ده چې که کله کوم مذهب تر عملي برابری پورې تر باوري بريده رسېدلی دی، نو هغه اسلام او يوازې اسلام دی:

My experience is that if ever any religion approached to this equality in an appreciable manner, it is Islam and Islam alone.

د دې تاريخي استثنا سبب هم هماغه شرک و چې په نورو پرمختګونو کې ځنډ ګرځېدلی و، د شرک غلبې په انسانانو کې ناانډولي جوړه کړې وه، د توحيد غلبې په خلکو کې د انساني برابری نظام قايم کړ.

اصل دا دی چې په انسانانو کې په فطري او طبيعي توګه ډېر توپير دی، مثلاً ځوک تور دی او ځوک سپين، ځوک شتمن دی، ځوک غريب، ځوک حاکم دی او ځوک محکوم، دا توپير د قرآن په (الحجرات ۱۳: ۴۹) په الفاظو د تعارف لپاره دی، نه د امتياز لپاره، دا توپير د درجه بندی لپاره نه دی؛ بلکې د دې لپاره دی چې که دا ډول توپير نه وي، نو د دنيا کاروبار په ښه توګه مخته نه شي تلای.

په پخوا زمانه کې د شرک تر اغېز لاندې چې کومه خيالي تابعداري پيدا شوه،

دي چې په کوم ډول د طبيعي مظاهرو په اړه غير واقعي نظريات قايم کړل، په همدې توګه د انسانانو په اړه هم په ټوله نړۍ کې غير واقعي نظريـات رامنځتـه شول او په پېړيو کې پاخه شول او د قومونو په دودونو کې ورګډ شول؛ مثلا د همدې له اغېز نه چېرته د ذات عقيده جوړه شـوه او ويـل کېـدل چـې ځينـې خلک د خدای له سر څخه پيدا شوي دي او ځينې د خدای له پښـو نـه، پـه دې توګه د لوړ او ټيټ ذات وېش دود شو، همدا شـان د پاچاهـانو پـه اړه دا عقيده وګرځېده چې هغوی د خدايګوټو له نسله دي او عام خلک د دې لپاره دي چې خدمت يې وکړي چېرته دا نظر وضع شو چې ځينې خلک پيدايشي لوړ نسله دي او نور خلک پيدايشي ټيټ نسله.

دا تفريق او نابرابري يو ځل بيا د شرک تر اغېز او سرپرستۍ لاندې دود شـول او له پېړيو را روان وو، په تاريخ کې د دې تسلسـل قـايم شـو، حتـی چـې دا ذهن جوړ شو چې څنګه چې شپه تـورتم کېـږي او ورځ روښـانه کېـږي، لـه مقدراتو دي، همدا شان د انسانيت تفريقات هم له مقدره دي، په ابدي توګـه ولاړ دي، لمنځه نشي وړل کېدی.

د دې پېر راوستنې لپاره د شرک او خيالي تابعدارۍ غلبه لمنځه وړنه وه؛ مګر د زرګونه پيغمبرانو په راتلوبرسېره لمنځه يونوړل شوه، د محمد صلی الله عليـه وسلم «خاتم الرسل» راتلنې تقاضا وه چې دا هم عملاً لمنځه يووړل شي چې الله تعالی يې ځانګړط مرسته وکړه او له ځان سره يـې د خپلـو صـحابه وو پـه اخيستلو هغه فکري او نړيوال انقلاب رامنځته کړ چې لـه هغـې وروسـته ددې نظريې ريښه وويستل شوه، د نابرابرۍ نظريه د تل لپـاره بـې ځمکـې شـوه او وچه شوه.

په عربو کې د شرک نظام لمنځه تلو وروسته محمد صـلی اللـه عليـه وسـلم د مخه ښې وينا (حجة الوداع) پر مهال چې کومه وينا وکړه، يو څه الفاظ يې دا وو:

﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ، أَلَا لَا فَضْلَ لِعَرَبِيٍّ عَلَى عَجَمِيٍّ، وَلَا لِعَجَمِيٍّ عَلَـى عَـرَبِيٍّ، وَلَا

أَحْمَرَ عَلَى أَسْوَدَ، وَلاَ أَسْوَدَ عَلَى أَحْمَرَ، إِلاَّ بِالتَّقْوَى﴾ (مسند احمد، حديث نمبر ۲۰۴۴) وفي رواية: أَبُوكُمْ آدَمُ، وَآدَمُ خُلِقَ مِنْ تُرَابٍ (كشف الاستار للهيثمي، حديث نمبر ۲۰۴۴)

يانې كوم عربي په عجمي او عجمي په عربي كوم غوره والى نه لري، تور په سپين او سپين په تور كوم فضيلت نه لري، پرته له تقوا، په يوه روايت كې دي: تاسې ټول د آدم اولاد ياست او آدم له خاورې و.

د اسلام د پيغمبر صلى الله عليه وسلم دا اعلان يوازې د يو وخت لپاره نه و، تر قيامته پورې پاتې كېدونكي دين لوري تـه گويا يـو ابـدي اعـلان و. هغه يوازې د «څه كول پكار دي» لفظي تلقين نه و؛ بلكې د «څه شوي دي» رښتوني اطلاع وه، دا چې يو طرف ته دا اعلان وشو او بل لوري ته پرې نېغ په نېغه عمل شروع شو، په انسانيت كې د تفريق ټول مصنوعي دېوالونه راونړېدل او انسانيت يوې نوې نړۍ ته ورسېد چېرته چې لوړ ټيټ نه و چېرته چې د اخلاقي صفتونو پر بنياد سړي ته په ټولنه كې درجه ترلاسه كېده؛ نه په نسلي اړيكه يا د پيدايشي اتفاق له مخې.

## يوه واقعه

په لومړۍ زمانه كې چې به چا ته د ټولنيز امتياز تجربه كېدله، نو دا به يې د خپل مقدر پايله گڼله، غلى به پاتې كېده.

په پخوا زمانه كې په لومړي ځل دا پېښه وشوه چې د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه په زمانه كې د مصر مسلمان والي (عمرو بن العاص) زوى يو قبطي په لختو واهه او ورسره دا وايي چې:خذها وأنا ابن الأكرمين (دا واخله، زه يو دروند زوى يم) دې قبطي ته د نوي انقلاب په اړه خبر و، له مصر روان شو، مديني ته راغى او دويم خليفه عمر فاروق رضي الله عنه ته يې شكايت وكړ چې د والي زوى په ناحقه په لختو وهلى دى، دويم خليفه سم له واره

خپل يو ځانګړی سړی مصر ته لېږي چې هلته لاړ شي او عمرو بن العاص او زوی يې چې په کوم حال کې وي، په همغه حالت يې په آس سواره مدينې ته راورسوي.
دواړه مدينې ته راوستل کېږي، دويم خليفه عمر، قبطي راغواړي او قبطي ته وايي چې ايا همدا شخص و چې ته يې په لخته وهلی وې. قبطي وويل هو، قبطي ته يې هماغه شان لخته ورکړه او ورته ويې ويل چې (ابن الاکرمين) دروند زوی ووهه، قبطي وهل پيل کړل او تر هغې يې واهه چې ترڅو پوره په تسکين شو، له دې وروسته دويم خليفه قبطي ته وايي چې پلار عمرو بن العاص هم ووهې؛ ځکه د ده د لويوالي په برکت يې زوی ته وهلی يې. (فوالله ما ضربك إلا بفضل سلطانه)، مګر قبطي وايي چې نه، چا چې زه وهلی وم هغه مې وواهه، له دې ډېر حاجت نه لري.
کله چې دا هرڅه کېدل، نو دويم خليفه عمرو بن العاص مخاطب کړ، ويل: مذکم تعبدتم الناس وقد ولدتهم أمهاتهم أحرار (ا له کومه وخته دې د خلکو غلامول پيل کړي دي، په داسې حال کې چې ميندو يې آزاد پيدا کړي وو) محض الصواب، ابن المبرد الحنبلي، جلد ۲، مخ ۳۷۴، فتوح مصر۔ وأخبارها لابن عبدالحکم، مخ ۱۸۳.
د محمد صلی الله عليه وسلم او پيروانو په لاس راوړي انقلاب په تېوله نړۍ کې د لوړ تيټ دېوالونه راونړول، د انساني برابرۍ يو نوی پېر يې پيل کړ چې بالاخر تر نوي جمهوري انقلاب ورسېد، د پخوا زماني حکومتونه په مشرکانه عقيدو قايم وو، خلکو لمر و سپوږمۍ خدای ګڼل او واکمنو به خلکو ته باور ورکاوه چې هغوی د دې خدايګوټو اولاد دی، په دې سره د کورنيو عقايد پيدا شول، د همدې لپاره د پخوا زماني واکمن د مذکوره ډول شرکي عقايد لا پسې پخول، هغوی غوښتل، دا عقيده وساتي چې د پاچاهانو په مرګ سره د لمر او سپوږمۍ تندر رامنځته کېږي چې اهميت يې لا نور د خلکو په دماغو سيوری شي او هغوی په آزاد زړه او بريا سره پرې حکومت کوي.

په دې توګه د پخوا زمانې واګمن ته وا د شرک او خیالي تابعداری سرپرست شوي وو، محمد صلی الله علیه وسلم چې واګمن شو، دا اعلان یې وکړ چې د لمر و سپوږمۍ تندر نیول ساده فطري پېښې دي، نه د انسان د عظمت اظهار، نو له دې وروسته خیالي تابعداری او د فطرت د مظاهرو تعظیم له ریښې وویستل شو او په تاریخ کې یو نوی پېر شو، کله چې د خوا و شا څیزونو په اړه د الوهیت او تقدس عقیده لمنځه ولاړه او په اړه یې هغه حقیقي ذهن پیدا کېدل پیل شول چې په اوس وخت کې ورته ساینسي- ذهن وایه شي.

د محمد صلی الله علیه وسلم په لاس انسان ته یوازې همدا څیز تر لاسه نه شو، د دې ترڅنګ دا هم وشول چې هغه کوم خدایي کتاب انسان ته ورکړ، په زور او شور سره پکې دا خبره په ګوته شوه چې د ځمکې او آسمان ټول هرڅه د انسان لپاره مسخر کړل شوي دي، په دې سره دا ذهن پیدا شو چې د دې څیزونو په تسخیر کولو یې په خپل کار او ګټه راوستنې اړتیا لري. نه دا چې په عظیم او برتر ګڼلو ورته ټیټ شي.

## د نوې نړۍ پنځونه

محمد صلی الله علیه وسلم چې کوم دین راوړی و، هغه د عربو ټولو خلکو ومانه، له دې وروسته په حیرانوونکي سرعت سره خورېده، حتی چې له یوې پېړۍ په هم لږه موده کې یې اسیا او افریقا ونیوله، اروپا ته ننوت، له امریکې پرته نړدې په ټولو هېوادونو او ټولو سمندرونو نېغ په نېغه یا بالواسطه توګه د دې دین د پیروانو غلبه قایم شوه.

دا لړۍ تر یو زر کلونو پورې روانه وه، د نایجیریا له سوکوتو خلافت (Sokoto Caliphate) نیولې د اندونیزیا تر مسلمان سلطان پورې او د ترکیې له عثماني خلافت تر هند مغولي پاچاهۍ پورې ته وا یو عظیم ملک و چې د

اوسني طرز له قومي بریدونو سره نا اشنا و.

مسلمانان په دې ټوله سیمه کې د سوداګرۍ، تعلیم یا نورو موخو لپاره په آسانۍ سفر کولی شو.

همدا هغه زمانه ده چې کله په ۱۴مه عیسوي پېړۍ کې ابن بطوطه نږدې ۷۵ زره میله سفر طی کړ، له یوه هېواده بل هېواد ته داسې ورسېد چې چېرته هم اجنبي او پردی نه و چېرته هم ورته د بې روزګارۍ ستونزه نه وه، هغه د محمد بن تغلق (۵۱- ۱۳۲۵) په زمانه کې دهلي ته راغی، دلته ورته نه یوازې ډالۍ او تحفې ترلاسه شوې؛ بلکې د دهلي قاضي القضاة هم شو.(EB-9/144)

د دې نړیوال انقلاب پایله دا شوه چې ټول انسانان د یوې انساني وروړولۍ برخه تر سترګو شي، د انساني برابرۍ دا ذهن په ډېرې بیړې سره ټولې نړۍ ته خور شو، لومړی یې په مدینې غلبه ترلاسه کړه، له هغې وروسته یې دمشق مرکز شو، بیا بغداد ته ورسېد، له هغه وروسته اسپین او سسلي ته په اووښتو د اروپا زړه ته ننوت، د اروپا اکثریت که څه هم له مذهبي پلوه اسلام ونه مانه؛ مګر د کایناتو په اړه یې د اسلام (توحید) نظریه یې په بشپړ ډول واخیسته او له دې نه یې پوره – پوره ګټه پورته کړه.

حقیقت دا دی چې د اروپا ساینسي او جمهوري انقلاب د اسلام د انقلاب توحید «سیکولرایډیشن» دی، د دې انقلاب اخروي اړخ په بېلولو یې د دنیوي اړخ غوره کولو دویم نوم د لویدیځ نوی انقلاب دی.

په داسې حالت کې دا ویل له ادنی مبالغې پرته سم دي چې که له انساني تاریخ نه اسلام وویستل شي، نو له دې سره به ټول تمدني او انساني پرمختګونه هم باسل کېږي، له دې سره به نړۍ یو ځل بیا هماغه تورتم پېر ته لاړه شي چې له اسلامي انقلاب مخکې و.

# د فکر آزادي

په پخوا زمانه کې انسان ته د فکر و خیال آزادي په برخه نه وه، د برټانیکا انسایکلوپېډیا (۱۹۸۴) په الفاظو؛ د فکري احتساب ځیني صورتونه په ټولو قومونو کې دود وو، هغه که واړه وو یا لوی وو.

د احتساب دا صورت د نړۍ په ټولو برخو کې او تاریخ په ټولو پېرونو او عصرونو کې موندل کېږي:

Some from of censorship appeared in all communities, small and large, in all parts of the world, at all stage of history. (EB-3/1083)

په انسایکلوپېډیا آف ریلجن اینډ ایتهکس کې په ۲۵ مخونو یوه مقاله ده چې عنوان یې تعذیب (Persecution) دی، په دې مفصله مقاله کې ویل شوي دي چې څه د پخواني تاریخ په ټولو پېرونو کې په ټوله نړۍ کې خلګ د فکر له ازادۍ بې برخې وو، ټول خلګ اړ وو چې هغه فکر وکړي چې د واکمنې طبقې فکر دی.

په مقاله کې د دې ډول تفصیلاتو په ورکولو سره ویل شوي دي چې پخوانی انساني ټولنه په بنیادي توګه ناسمه وه:

Ancient society was essentially intolerant (743).

په انسایکلوپېډیا برټانیکا کې د احتساب (Censorship) د عنوان له مخې اته (۸) مخیزه یوه مقاله ده چې پکې په تفصیل سره ویل شوي دي چې څه ډول د تاریخ په تېرو پېرونو کې په ګرده نړۍ کې د فکري داروګیر عام رواج و.

په پخواني چین کې وګړو ته د فکر آزادي ترلاسه نه وه، شِه هوانګ تي (Shih Huang Ti) د چین لوی دېوال جوړ کړ؛ مګر په دې سره سم له واره

يې په ۲۱۳م کې حکم وکړ چې ټول کتابونه دې وسوځول شي، له دې مستثنی یوازې هغه کتابونه وو چې د کرهنې او درملو په څېر بې ضرره موضوعاتو سره یې اړیکه درلوده، په شاهي حکم کې دا هم شامل وه چې په دېرش ورځو کې دننه چې کوم خلك کتابونه ونه سوځوي، هغوی ته به سخته سزا ورکول کېږي. (مخ ۱۰۸۳)

د یونان په اړه پلوټارك لیکلي دي چې د پخواني اسپارټا خلکو یوازې د عملي اړتیاوو لپاره لیکل لوستل زده کول، په نورو هر ډول کتابونو او زده کړو پابندي وه.

د یونان په بله برخه ایتنز کې آرټ او فلسفې پرمختګ وکړ؛ مګر اکثر آرټیستان او فلسفیان چې په هغو کې د سقراط او ارسطو په څېر خلك هم شامل دي، دوی یا بندیان شول یا له وطن وویستل شول، ډېر زیات اهلِ علم ووژل شول، ځېنو په تېښته خپل ځانونه وژغورل. (مخ – ۱۰۸۴)

په پخوا روم کې د فکر و خیال د احتساب لپاره یوه مستقله حکومتي اداره په ۴۴۳ق.م کې جوړه شوه، تنقید ته به دې خلکو ته د بغاوت په سترګه کتل، آزاد تقریر کول ممنوع وو، د برټانیکا انسایکلوپېډیا مقاله لیکوال په دې لړ کې د روم یو شمېر مخکښو وګړو بېلګې ورکړې دي چې هغوی ته یوازې د دې لپاره سخته سزاوې ورکړل شوې چې هغوی په واکمنه طبقه تنقید کړی و.(مخ. ۱۰۴)

له حضرت مسیح وروسته تر لومړیو درې پېړیو پورې یهود او عېسویان یوازې د اعتقادي اختلاف په بنیاد د یوه بل دشمن وګرځېدل.

لومړی یهودو مسیحي حضرات د خپل ظلم نښه وګرځول، له هغې وروسته کله چې مسیحي حضراتو ته واك ترلاسه شو، نو له یهودو یې په یوه ساه خپل غچ اخیستل پیل کړل.(مخ ۸۵- ۱۰۸۴)

په پخوا زمانه کې د فکر په آزادۍ د پابندۍ یو لامل دا و چې محرفو مذهبونو په کومو خود ساخته عقایدو د خپل مذهبي نظام ډانچه ودرولې وه، د فکري

آزادي ماحول د هغې لپاره د خطر په توګه و.

هغوی اندېښنه درلوده چې که آزادانه تحقیق ته وده وشوه، نو به د خلکو په نظر کې خپل صداقت ته دوام ورنکړل شي.

په شپاړسمه او اوولسمه پېړۍ کې په اروپا کې چې کومو خلکو په ساینسي شکل غور و فکر کول غوښتل، مسیحي چرچ پرې ډېر دروند ظلم وکړ، لامل یې همدا پورتنۍ اندېښنه وه، د دې ظلمونو تفصیل د جان ولیم ډریپر ( John William Draper [1811- 1882]) په کتاب «مذهب او ساینس» کې د ټکر تاریخ (Conflict between religion and science 1874) کې کتلی شئ، که څه هم د دې لا سم نوم «په ساینس او مسیحیت کې ټکر» دی.

## لوړ و ټیټ انسان

په پخوا زمانه کې په فکر و خیال د پابندۍ لامل هم شرك و چې یادونه یې په مخکینیو مخونو کې شوې ده.

د مشرکانه عقایدو له مخې دا ګڼل کېده چې کوم شخص د پاچا په تخت ناست وي، هغه له عامو انسانانو مختلف وي، په هغه زمانه کې پاچا په یو نه یو ډول د خدایي اوصافو خاوند ګڼل کېده، عام اناسان یوازې رعیت و او پاچا ته پرې د خدایي آقا حیثیت ترلاسه و.

همدا مشرکانه عقیده وه چې له خلکو یې د فکري آزادۍ حق اخیستی و، دا ګڼل کېده او فکر کېده چې د پاچا کومه رایه او نظر دی، همغه سم دی، نور خلك به یوازې د پاچا د خبرې ملګرتیا کوي، د پاچا له نظر د بېل نظر وړاندې کولو یا یې په اړه فکر کولو هیڅ حق نه و، همدا هغه غلطي وه چې په پخوا زمانه کې یې د فکر د آزادۍ خاتمه کړې وه.

په اوومه عېسوي پېړۍ کې چې کله اسلام راغی، نو اعلان یې وکړ چې هر ډول لویي یوازې یو خدای لره ده، له دې پرته چې هر انسان دی، ټول سره

برابر دي، ټول د يوه بل په څېر دي، د اسلام پيغمبر صلی الله عليه وسلم په مختلف انداز د دې حقيقت اعلان وکړ چې ټول انسانان ورونه – ورونه دي. (العباد کلهم إخوة) (سنن ابو داود، حديث نمبر ۱۵۰۸)

همدا هغه څه دي چې په مذهبي اصطلاح کې ورته توحيد ويل کېږي، د اسلام پيغمبر د دې حقيقت نه يوازې اعلان وکړ؛ بلکې په همدې بنياد يې يو مکمل انقلاب رامنځته کړ، عملا يې په ځمکه قايم کړ، د پيغمبرۍ په ابتدايي پېر کې يې د دې حقيقت لفظي تبليغ وکړ، له هغې وروسته کله چې په عربو کې ورته سياسي غلبه ترلاسه شوه، نو د وخت د واکمن په توګه يې د دې اعلان په دې الفاظو کې وکړ:

﴿إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ قَدْ أَذْهَبَ عَنْكُمْ عُبِّيَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ وَفَخْرَهَا بِالْآبَاءِ مُؤْمِنٌ تَقِيٌّ وَفَاجِرٌ شَقِيٌّ، أَنْتُمْ بَنُو آدَمَ وَآدَمُ مِنْ تُرَابٍ﴾(سنن ابو داود، حديث نمبر ۵۱۱۶)، يانې بې شکه چې الله د جاهليت غرور او نسلي فخر له تاسې واخيست، اوس انسان يا خو د تقوا خاوند مومن دی، يا ګناهګار بدمرغه دی، ټول خلك د آدم اولاد دي او آدم له خاورې پيدا کړل شوی.

په دې توګه اسلام په انسانانو کې د نسل رنګ او منصب په څېر بنيادونو توپير ختم کړ او له سره يې په اخلاقي بنياد د دې کټيګورۍ قايم کړه.

## د بيان آزادي

اسلام د توحيد په بنياد چې کوم انقلاب رامنځته کړ، له هغې وروسته په تاريخ کې په لومړي ځل يوه نوې انساني ټولنه په وجود کې راغله، يوه داسې ټولنه چې پکې له ځنډ و خنډ پرته هر شخص ته د خيال او فکر د آزادۍ حق و.

د ايران نوشېروان (خسرو اول) له ۵۳۱ تر ۵۷۹ پورې د ساساني سلطنت واکمن و، هغه د ايران په عادلو واکمنو کې راځي؛ مګر د هغه په زمانه کې هم دا حال و چې يو ځل يې په دربار کې يوه شخص په پاچا د تنقيد کولو جرات

وکړ، نو د پاچا له خوا ورته دا سزا ورکړل شوه چې په عین دربار کې یې په سر په لرګي دومره وواهه چې ومړ.

په پخوا زمانه کې همدا د ټولې نړۍ حال و، د واکمن خلاف هر ډول فکري اختلاف د بغاوت په معنا ګڼل کېده چې تر ټولو لږه سزا یې دا وه چې په وهلو سره په همغه شېبه لمنځه یووړل شي.

اسلام نه یوازې د دې خلاف اعلان وکړ؛ بلکې په ټولنه کې یې هغه حالات پیدا کړل چې په خلکو کې دا جرات پیدا شو چې هغوی دا پخوانی دود مات کړي او د خپلو سردارانو او واکمنو په خلاف په لوړ غږ خپل نظر وړاندې کړي شي.

د اسلام پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته د سیاسي واکمن حیثیت ترلاسه و، په دې سربېره د عامو خلکو په څېر اوسېده، هر شخص یې په مقابل کې د آزاد خیال څرګندونه کولی شوه.

د دې یو مثال د بدر غزا ده، د دې غزوې په سفر کې یو ځای تم شو، د یوه شخص نوم چې حباب بن المنذر و، مخته راغی او نېغ په نېغه د اسلام پیغمبر ته مخاطب شو، ویل دا ځای چې تاسې ناست یاست، د خدای وحی ده، که په خپل شخصي فکر دلته ناست یې.

پیغمبر ورته وویل، په خپله خوښه ناست دی، په دې سره حباب بن المنذر وویل چې دا خو کوم د ناستې ځای نه دی ﴿إِنَّ هَذَا لَيْسَ بِمَنْزِلْ﴾، خلک له ځان سره واخلئ، بل ځای کېنئ. (سیرت ابن هشام، جلد ۱، مخ ۶۲۰)

د دې پېښې تفصیل د سیرت په کتابونو کې شته او زما بل ژباړل شوي کتاب (د اسلام رښتوني مخ (۱ – ۴) ټوکه جلد کې هم شته).ژباړن

دلته موږ یوازې دا ویل غواړو چې یو عام سړی د وخت د واکمن خلاف په بې تکلفۍ سره «تنقید» کوي؛ مګر هیڅوک یې بد نه ګڼي، خپله د اسلام پیغمبر د دې جسارت خلاف کوم منفي غبرګون ونه ښود؛ بلکې په ساده توګه یې وپوښت چې دا نظر یې ولې دی او کله یې چې د خپل نظر اهمیت ورته

ووایه، نو پیغمبر مبارک سم له واره ومانه او له هغه ځایه پورته شو، بـل ځـای ته روان شول.

د اسلامي توحید په بنیاد راغلـی دا انقـلاب دومـره ځـواکمن و چـې پـه پـوره اسلامي تاریخ کې په پرلپسې توګه روان و.

د اسلام له پیغمبر وروسته د راشده خلفاوو په زمانه کې هیڅ شخص هغه که په ښکاره هر څو غیر اهم و، په خلیفه یې آزاد تنقید کولی شو، د دې بېلګې پـه کثرت سره د راشده خلفاوو په یادونو کې شته دي.

د اسلام دا انقلاب دومره ځواکمن او متهور و چې په وروسـته زمـانو کـې هغـه وخت هم پاتې شو، کله چې د خلافت پر ځـای «ملوکیـت» رامنځتـه شـو، د اسلام په ۱۴ سوه کاله تاریخ کې کله هم داسې ونـه شـول چـې یـو شـخص د ولس په خولې بندونې بریالی شي.

## ځینې حوالې

د پیغمر او صحابه وو په لاس چې کوم اسلامي انقلاب راغی، هغـه پـه سـاده ټکو کې یوازې یو مذهبي انقلاب نه و؛ بلکې ټوله آباده نړۍ یې اغېزمنه کړه، اهلِ اسلام په نړیواله کچه ځواکمن حکومتونه وکـړل، دا لـړۍ تـر یـو زر کلـو پورې روانه وه، په دې ټوله موده کې چېرتـه هـم پـه انسـاني فکـر بنـدیز ونـه لګېد، هرځای ټولو خلکو ته په پوره ډول فکري آزادي په برخه وه، دلته موږ د پروفیسور آرنلډ له کتاب «پریچنګ آف اسلام» یو څـه اخیسـتنې رانقلـوو، پروفیسور آرنلډ د اندلس د یوه مسلمان اورډ بیان نقل کړی دی چې یوه برخه یې دا ده:

«دا سمه ده چې کوم شخص زموږ دین منلو تـه زړه وکـړي، مـوږ یـې غـاړې ورکولو ته تیار یو؛ مګر زموږ قرآن موږ ته دا اجازه نه راکوي چې موږ د نـورو په ضمیر جبر و زیاتی وکړو.(مخ ۱۴۵)»

د ترکانو د مذهبي تعدل یادونه کوي؛ لیکي: چې هغوی د اروپایي هېوادونو له فتح وروسته لږ تر لږه تر دوو کلونو پورې له خپل عېسوي ولس سره په مذهبي معاملاتو کې د داسې تعدل ثبوت ورکړ چې مثال یې په دې زمانه کې د اروپا په نورو هېوادونو کې مطلق نه تر لاسه کېږي. (مخ ۱۵۷)

په اوولسمه پېړۍ کې د انطاکیه بطریرک مکاریوس د ترکانو د دې صفت اعتراف په دې الفاظو کړی دی:

خدای دې د ترکانو سلطنت تل لري؛ ځکه چې خپله جزیه اخلي، خو د رعیت په مذهب کې لاسوهنه نه کوي، هغه که نصراني وي، یهودي یا سامري.(۵۹- ۱۵۸)

پروفیسور آرنلډ په مسلمان دور حکومت کې د فکر و خیال د آزادۍ ډېرې بېلګې وړاندې کړې دي، له دې وروسته هغه لیکي چې د رومي سلطنت هغه ولایتونه چې مسلمانانو په چټکۍ سره فتح کړي وو، هغوی یو دم خپل ځانونه په داسې برابرۍ کې وموندل چې له څو پېړیو راهیسې ورته نامعلوم ګرځېدلي وو، دا ډول برابري د اوومې پېړۍ په تاریخ کې څومره حیرانوونکې وه:

"... So Striking in the History of the Seventh Century."

## مذهبي آزادي

تي ډبلیو آرنلډ په خپل کتاب اشاعتِ اسلام (The Preaching of Islam) کې لیکلي دي چې عباسي خلیفه المامون (۸۳۳ – ۸۱۳) واورېدل چې د اسلام مخالفین دا وايي چې اسلام د خپل دلیل په مټ نه دی بریالی شوی؛ بلکې د خپلې تورې پر مټ بریالی شوی دی، هغوی لرې -لرې هېوادونو ته پیغام ولېږه، د هر مذهب اهلِ علم یې بغداد ته راټول کړل او بیا یې مسلمان علماء راوبلل، دواړو ته یې په یوې لویې اجتماع کې د بحث و مناظرې بلنه ورکړه، په دې علمي مقابله کې د اسلام علماء بریالي شول او نامسلمانو اهلِ

علمو په ښکاره د اسلام استدلالي عظمت اعتراف وکړ. (مخ ۸۶)

آرنلډ ليکلي دي چي خليفه المامون د اسلام د اشاعت په معامله کې ډېر زيات تونډ و، په دې برسېره يې کله خپل سياسي زور د اسلام د تبليغ لپاره ونه کاراوه او نه يې څوک کله په زور مسلمان کړي.

په بغداد کې په دې مذهبي اجتماع کې چي د نورو مذهبونو کوم اهلِ علم شريک شوي وو، په هغو کې يو يزدان بخت و، هغه له ماني فرقې (Manichean Sect) سره اړيکه درلوده او له ايرانه راغلی و، يزدان بخت د مسلمانو علماوو خبرې چې واورېدې، نو د اسلام له استدلالي څواکه مرعوب شو، په پوره توګه يې خاموشي غوره کړه، له اجتماع وروسته المامون دربار ته وباله او ورته وېې ويل چې نور بايد اسلام ومنې، يزدان بخت له اسلام منلو ډډه وکړه ويل: امير المؤمنين، ما دې خبره واورېده او په مشوره دې پوه شوم؛ مګر ته خو هغه شخص يې چې هيڅوک د خپل مذهب په پرېښودلو نه اړ باسې او کله چې يزدان بخت له بغداد نه خپل وطن ته بېرته ګرځېده، نو خپل وسلوال ساتونکي يې له يزدان بخت سره کړل، دې لپاره چې له جذباتو ډکو مسلمانانو کومه ډله ورته زيان ونه رسوي. (مخ ۵۶)

په اسلام کې د هر فکر آزادي ده او له همدې سره د هر فکر لرونکي درناوی هم.

## نوی عصر او اسلام

په اوسنی زمانه کې د فکر آزادي لوی خير (Summum Bonum) ګڼل کېږي، عام خيال دا دی چې دا آزادي د لويديځ د ساينسي انقلاب پايله ده، دا سمه ده چې د دې سم له واره او نږدې سبب نوی ساينسي۔انقلاب دی؛ مګر خپله دا ساينسي انقلاب لکه په تېرو مخونو کې چې واضح شوه، د اسلام د موحدانه انقلاب پايله وه.

فرانسوي مفکر روسو (۱۷۷۸-۱۷۱۲) د نوي جمهوريت په بنسټګرو کې شمېرل کېږي، هغه خپل کتاب تولنيز تړون (معاهده عمراني) ( Social

(Contract) کې له دې الفاظو پیل کړی:

انسان آزاد پیدا شوی و، مګر زه یې په زنځیرونو تړلی وینم،

دا کرښه په حقیقت کې د روسو لوروونه نه ده، دا په اصل کې د اسلامي خلیفه عمر (۶۴۴-۵۸۶) د هغې په زړه پورې کرښې راګرځونه ده چې خپل والي عمرو بن العاص یې مخاطب کړی و:

ای عمرو! تا له کله نه خلک غلام کړي دي، ګنې میندو خو آزاد پیدا کړي وو. (فتوح مصر و اخبارها، مخ ۱۸۳)

په روستۍ زمانه کې په اروپا کې او له هغې وروسته په ټوله نړۍ کې د آزادۍ او جمهوریت چې کوم انقلاب راغلی دی، دا د هماغه انقلاب بله برخه ده چې د اسلام له لارې په اوومه پېړۍ کې پیل شوی و.

ملګرو ملتونو په ۱۹۴۸ کې هغه پرېکړه لیک منظور کړ چې ورته یونیورسل ډیکلریشن آف هیومن رایټس ویل کېږي.

د دې په ۱۸ماده کې ویل شوي وو چې هر څوک د فکر، ضمیر او مذهب د آزادۍ حق لري، په دې حق کې دا آزادي هم راځي چې سړی خپل مذهب بدل کړي او د خپل مذهب خفیه یا اعلانیه اظهار وکړی شي، یا نورو ته د دې تعلیم ورکړي.

د ملګرو ملتونو دا پرېکړه لیک هم په حقیقت کې د ملګرو ملتونو کارنامه نه؛ بلکې هغه هم د همدې اسلامي انقلاب یوه لاسته راوړنه ده چې له ملګرو ملتونو یو زر کاله هم وړاندې رامنځته شوی و.

اسلام په تاریخ کې لومړی ځل د شرک دا نظام لمنځه یووړ چې په انسانانو او په انسانانو کې د توپیر او امتیاز ذهن پیدا کړی و، د دې بې حقیقته وېش پایله د لوړ ټیټ هغه ټولنه او دود وو چې په ټولو پخوا زمانو کې پرلپسې تر سره کېدل.

اسلام له یوې خوا په دې اړه انساني ذهن بدل کړ، بل خوا یې په پراخه کچه په عملي انقلاب رامنځته کولو سره یې د انساني آزادۍ او انساني درناوي یو

نوی پېر پیل کړ.

دا پېر په تاریخ کې پرلپسې روان و، تر چې اروپا ته ننوت او په مخته تلنې سره بالاخر د آزادۍ او جمهوریت نوي انقلاب سبب وگرځېد.

د نوې اروپا جمهوري انقلاب د همدې اسلامي انقلاب سیکولر مخ دی چې ډېر پخوا په اوومه عېسوي کې په عربو کې رامنځته شوی و.

حقیقت دا دی چې اسلام د نوي عصر پنځگر دی، ډیوه وال او وړاندې کوونکی دی، له ساینسي پلوه هم او له ټولنیز او ټولیز پلوه هم.

پای

د جدي دریم ۱۴۰۰

دسمبر ۲۶مه ۲۰۲۱

خېل کور، بنبوه، سلامپور – ننگرهار

د غرمې ۰۰: ۱۲ بجې



د نوي عصر رامنځته کېدنې
لپاره يوه ايډيولوژي په کار وه
او دا ايډيولوژي د توحيد په
صورت کې اسلام وړاندې کړه.
د اسلام له ايډيولوژۍ پرته د
نوي عصر رامنځته کېدل هومره
ناشوني وو، څومره چې د
انجنيرۍ ساينس پرته ماشين
نه دی.

# ISLAM;
## DA NAWI ASAR ZAWABGAR

**Dr Mulana Wahiduddin Khan**

Translated by: **Shafiullah Taand**